# افغانستان





## د ماشومانو او ښځو
## د وضعیت ارزونه

د افغانستان
څو شاخصیزه سروې
۱۳۸۹ - ۱۳۹۰



MICS

د احصائیې مرکزي اداره
Central Statistics Organization

unicef

# افغانستان
# د افغانستان څو شاخصیزه سروې

۱۳۸۹ - ۱۳۹۰

## د احصائیې مرکزي اداره
## (د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق)
## یونیسف
## مرغومی ۱۳۹۱

د افغانستان څو شاخصیزه سروې په ۱۳۸۹ - ۱۳۹۰ کالونو کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د احصائیې د مرکزي ادارې لخوا د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (یونیسف) په مرسته ترسره شوه.
مالي او تخنیکي مرستې د یونیسف لخوا برابرې شوې. څو شاخصیزه سروې د کورنیو د سروې یو نړیوال پروګرام دی چې د یونیسف لخوا پراختیا ورکړل شوي ده. د افغانستان څو شاخصیزه سروې د نړی د څو شاخصیزه سروې ګانو د څلورم پړاو د یوې موخې په څېر ترسره شوه. څو شاخصیزه سروې د ماشومانو او میندو د وضعیت په اړه نوي معلومات برابروي او د زریزی د پرمختیائی موخو د پرمختګ، د افغانستان د ملي پرمختیائي تګلارو او ځینې نورو نړیوالو هوکړه شویو ژمنو، ریفرنس/ د پشنهاد کوونکو مراجعو د ارزونې او اندازه ګیری لپاره یو غوره شاخص دی.
د احصائیې مرکزي اداره او یونیسف (۲۰۱۲)، د افغانستان څو شاخصیزه سروې ۱۳۸۹ - ۱۳۹۰: بشپړ راپور. کابل، د احصائیې مرکزي اداره او یونیسف

د انځورونو د خپریدو او چاپ حق:
ځېرکی ۱ : © UNICEF/NYHQ2007-1196/Noorani
ځېرکی ۲: © UNICEF/NYHQ2000-0859/LeMoyne
ځېرکی ۳: © UNICEF/AFGA2011-00116/Aziz Froutan
ځېرکی ۴: © UNICEF/AFGA2009-00654/Noorani
ځېرکی ۵: © UNICEF/NYHQ2001-0491/Noorani
ځېرکی ۶: © UNICEF/AFGA2011-00010/Jalali
ځېرکی ۷: © UNICEF/AFGA2009-00546/Noorani
ځېرکی ۸: © UNICEF/NYHQ1992-0344/Isaac
ځېرکی ۹: © UNICEF/NYHQ2001-0486/Noorani
ځېرکی ۱۰: © UNICEF/NYHQ2007-1106/Noorani
ځېرکی ۱۱: © UNICEF/AFGA2010-00211/Noorani
ځېرکی ۱۲: © UNICEF/AFGA2007-00043/Khemka

د راپور د پوښ انځورونه:
© UNICEF/AFGA2007-00819/Noorani
© UNICEF/AFGA2009-00802/Shehzad Noorani
© UNICEF/AFGA2010-01134/Noorani

د راپور د چاپ او خپریدو حق © د احصائیې مرکزي اداره۱۳۹۲

## پیلیزه

افغانستان د دريِ لسيزو څخه زياتي وسله والي جګړي څخه وروسته د ننګونو او د راتلونکي لپاره د دوامداره هيله مندی ترمنځ د تير وخت ميراثونو پرځينو برخو د برياليتوب لپاره اوچت ګامونه اخيستي دي. د افغانستان دولت د نړيوالي ټولني سره له نيږدې کار وکړ تر څو د يو شمير اقتصادي او ټولنيزو شاخصونو په پرمختګ باندې د ۱۳۸۱ کال را په دې خوا بريالي شي. د افغانستان د اساسي قانون ۵۴ ماده (۱۳۸۳) تصريح کوي چې کورنۍ د ټولنې يو اساسي رکن دی او دولت ټول هغه اړين تدابير نيسي ترڅو چې د کورنۍ او په ځانګړي توګه د ميندو روحي او جسمي سلامتيا تآمين کړي. ۲۲ مه ماده د عدم تبعيض او د ښځو او نارينه وو د حقونو او وجايبو د برابري اعلام کوي، په داسې حال کې چې ۴۹ ماده د ماشومانو اجباري کار منعه کوي. د دولت زياتره وزارتونه لکه د ښځو چارو وزارت، د پوهنې وزارت، د کار او ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت او دولتي اداري او د نورو وزارتونو په دننې کې رياستونه ګمارل شوی دی تر څو د ښځو، ماشومانو او کورنيو د اړتياوو د پوره کولو په برخه کې کار وکړي. د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کميسيون چې په ۱۳۸۱ کال کی جوړ شويدی د ماشومانو څخه د ملاتړ د يوه ميز درلودونکی دی چې د ماشومانو د بنسټيزو بشري حقونو پر ملاتړ باندې تمرکز لري .

د نړيوالو ژمنو پر بنسټ د زريزې د پرمختيائي موخو د ترسره کولو لپاره، زياتي کړنلارې او ملي تګلوري چې د ښځو او ماشومانو هوساينه ئې موخه ګرځولي ده، تصويب شوی دی. دغه شاملې دي پر : د افغانستان د ښځو لپاره د کړنې ملي پروګرام ۱۳۹۰-۱۳۸۶ ، د ماشومانو او ځوانانو د روغتيا ملي کړنلاره ۱۳۹۰-۱۳۸۸، د واټ پر سر د کارګرو ماشومانو لپاره ملي تګلوری، د ګواښ سره مخ ماشومانو څخه د ملاتړ ملی تګلوری، د افغانستان د ښوونې او روزنې ملي تګلوری او د ټولنيز ملاتړ او افغانستان ملي کړنلاره. همدارنګه په ۱۳۸۲ کال کې د کار او ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت لخوا د ماشومانو څخه د ملاتړ د کړنې د پروګرام د يوه هراړخيز قانون پراختيا، د ماشومانو څخه د هر ډول ګټې اخيستنې د ډولونو، تاوتريخوالی او د ماشومانو څخه ناوړه ګټه اخيستنی پر وړاندې د ملاتړ په موخه، تصويب شو. د ماشومانو څخه د ملاتړ پروګرام د ماشومانو د حقونو د کانوانسيون مندرجه اصولو ته په افغانستان کې لوړوالی ورکړ او تبليغ ئې کوي، که څه هم د ماشومانو د حقونو د کانوانسيون کميټې د (۱۳۹۰)۲۰۱۱ کال څرګندونو، دولت دې ته وهڅاوه ترڅو په يوه پراخه پيمانه د ماشومانو د حقونو د کانوانسيون مفاد په کورنۍ حقوقي اداڼه کې په کار واچوي.

د افغانستان پرمختيائي تګلوري ته د بې وزلی د کمولو د يواځني کړنلارې په توګه د ملی پرمختيائی لمړيتوبونو د پيژندنې په خاطر، د ښو روغتيائي خدمتونو د وړاندې کولو، په پراخه پيمانه ښوونې او روزنې ته لاسرسی، د څښاک پاکو اوبو او رغول شوي روغتيا ساتنې له لارې د زريزې پرمختيائي موخو ته د رسيدلو لپاره د کړنې د يوې برنامې برابرول، او د قانون واکمنی ته پراختيا ورکړل شوه. د افغانستان د پرمختيا ملی تګلورې په جګړه ايزو شرايطو کې د ماشومانو له حقونو څخه د ملاتړ په خاطر له حکومت څخه غوښتنه کوي تر څو د خلاف کاره نوي ځوانانو او ماشومانو اړونده حقوقي چوکاټ او کړنلارې ته ښه والی ور وبخښي. په افغانستان کې د ماشومانو د مشغولتيا په درک کولو سره د افغانستان پرمختيائي ملي تګلوری د افغانستان د حکومت لخوا پرهغو ژمنو چې کړي ئې دي د بې وزلو د ډيرو ناداره او فقيرو څخه چې خورا زيات زيان منونکي دي په ځانګړي ډول د ګواښ سره مخامخ ماشومانو، بې وزلې ښځو، ناداره او معلولو کسانو څخه د ملاتړ لپاره پر تمرکز او د ټولنيز ملاتړ د پروګرام د رامنځته کولو پر مکلفيت چې د دا ډول خورا زيات زيان منونکو ډلو اړتيا وې پوره کړي، ټينګارکوي.

سربيره پردې حکومت او مرسته ورکوونکو ټولنو خپله ژمنه ملي لمړيتوبونو ته د تحقق ورکولو لپاره د ملي لمړيتوبونو درلودونکو پرګرامونو له لارې، تصديق کړي دي . دا ژمنې د بن په کنفرانس کې د ۲۰۱۱ کال په نوامبر کې چې د۱۳۹۱ کال د ليندۍ له مياشتې سره سمون خوري يوځل بيا تائيد شوی او په کې د دې غوښتنه وشوه ترڅو د۱۳۹۳کال وروسته له افغانستان څخه ملاتړ صورت ومومي. د افغانستان څو شاخصيزه سروې ۱۳۹۰-۱۳۸۹ په زياته پيمانه د افغانستان د زريزې د پرمختيائي موخو څخه د پرمختګ د څارنې لپاره په ۲۰۲۰ کال کې او همدارنګه ډير نور ملي لمړيتوبونه چې د افغانستان په ملي تګلوري او د ملي لمړيتوبونو په پروګرامونو کې تعريف شوی دی، د هڅو سره مرسته کوي. دغه راپور په افغانستان کې د ښځو او ماشومانو وضعيت توضيح کوي او د اداره چيانو د پلان جوړونې، کړنلارې طرحه کوونکو، څيړونکو او د ټولو پرمختيائي شريکانو لپاره د زيات اهميت درلودونکی دی. د دې راپور ارقام د پرمختيا او مناسبو پروګرامونو د تجويز او کړنلارو د طرحه کولو لپاره چې په افغانستان کې د ښځو او ماشومانو د هوساينې او پرمختګ لپاره ځواب ويونکی وی په کار راځی چې په پايله کې ئې موخه مهمو ملي موخو ته رسيدل دي .

د ټولو هغو ټيمونو له غړو څخه چې مختلفي تخنيکي مرستې ئې برابرې کړي ترڅو د دې راپور چاپ ئې ممکن کړ، مننه کوم . په پای کې غواړم خپلی د زړه له کومې مننې له يونيسف څخه د دې راپور د برابرولو لپاره د تخنيکي او مالي مرستو د برابرولو په خاطر څرګندې کړم.

.

**عبدالرحمن غفوري**

**د احصائيې د مرکزي ادارې لوی رئيس**
**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**

## د پایلو لنډیز

## د ښو شاخصیزه خوشه ئی سروې شاخصونه او د افغانستان د پرمختیائي زریزې موخې ۱۳۸۹ - ۱۳۹۰

| موضوع | د ښو شاخصیزه سروې ګنه ۴ | د پرمختیائي زریزې د موخو د شاخص ګنه | شاخص | ارزښت | د مقیاس واحد |
|---|---|---|---|---|---|
| **د ماشومانو مړینه** | | | | | |
| د ماشومانو مړینه | 1.1 | 4.1 | تر پنځه کلونو ښکته ماشومانو د مړینې کچه | 102 | په یو زر کې |
| | 1.2 | 4.2 | تر یوه کال ښکته ماشومانو د مړینې کچه | 74 | په یو زر کې |
| تغذیه | | | | | |
| د تغذئې خړنګوالی | 2.1a | 1.8 | د کم وزنی خوریدنه منځنۍ او سخته (-2 SD) | 25.0 | سلنه |
| | 2.1b | | سخته(-3 SD) | 10.6 | سلنه |
| | 2.2a | | د مزمنې خوارځواکی خوریدنه منځنۍ اوسخته (-2 SD) | 51.6 | سلنه |
| | 2.2b | | سخته(-3 SD) | 34.1 | سلنه |
| | 2.3a | | د حادی خوارځواکی خوریدنه منځنۍ اوسخته(-2 SD) | 13.9 | سلنه |
| | 2.3b | | سخته(-3 SD) | 7.2 | سلنه |
| له شیدو څخه نغذیه | 2.4 | | هغه ماشومان چې کله ئې د مور له شیدو څخه نغذیه کړیدی | 93.4 | سلنه |
| او تر یوه کال ښکته ماشونو تغذیه | 2.5 | | د مور له شیدو څخه د تغذئی ژر پیل | 53.6 | سلنه |
| | 2.6 | | د مور په شیدو پوري تړلي تغذیه د۶ میاشنۍ ښکته عمرکی | 54.3 | سلنه |
| | 2.7 | | د مور له شیدو څخه د تغذئې دوام تر یوه کالنۍ پوري | 87.8 | سلنه |
| | 2.8 | | د مور له شیدو څخه د تغذئې دوام تر دوه کالنۍ پوري | 69.4 | سلنه |
| | 2.9 | | د مور له شیدو څخه د۶ میاشتو کمې مودې لپاره مسلطه تغذیه | 69.2 | سلنه |
| | 2.10 | | د مور له شیدو څخه د تغذئې موده | 23.7 | سلنه |
| | 2.11 | | د بوتل له لارې تغذیه | 28.2 | سلنه |
| | 2.12 | | د نرم یا سخت خوراک پیژندل | 20.1 | سلنه |
| | 2.13 | | د خوراک د ورکولو لږترلږه دفعات | 17.8 | سلنه |
| | 2.14 | | د عمر په اندول د مور له شیدو څخه تغذیه | 36.7 | سلنه |
| | 2.15 | | له شیدو څخه تغذیه د هغو ماشومانو لپاره چې د مور له شیدو څخه تغذیه نکوي | 59.5 | سلنه |
| آیوډین لرونکي مالګه د A)تطبیق ویتامین( د وینې کموالی | 2.16 | | د آیوډین لرونکي مالګې لګښت | 20.4 | سلنه |
| | 2.17 | | د ویټامین(A) بشپړونکي | 50.6 | سلنه |
| | | | د ماشومانو د وینې کموالی خوریدنه | 33.7 | سلنه |
| | | | په نا امیندوارو ښځو کې د وینې کموالي خوریدنه | 21.4 | سلنه |
| | | | په امیندوارو ښځو کې د وینې کموالي خوریدنه | 16.3 | سلنه |
| **د ماشوم روغتیا** | | | | | |
| | 3.1 | | د توبورکلوز یا نري رنځ پر وړاندې د وقائې پوښښ | 64.2 | سلنه |
| | 3.2 | | د ګوزن (پولیو) پر وړاندې د وقائې پوښښ | 48.0 | سلنه |
| | 3.3 | | د دیفتري، شنې ټوخلې او تیتانوس پر وړاندې د وقائې پوښښ | 40.2 | سلنه |
| | 3.4 | | | 55.5 | سلنه |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| له ناروغی څخه ځارنه | 3.8 | د مالګين سيروم په واسطه درملنه | 47.5 | سلنه |
| | | د تغذيي دوام | | سلنه |
| | 3.9 | د سينه بغل د ځارني لپاره لټون | 60.5 | سلنه |
| | 3.10 | د سينه بغل لپاره د انتي بيوتيک درملنه | 63.9 | سلنه |
| د سون له سختو توکو څخه کته اخستنه | 3.11 | د سون سخت توکی | 84.2 | سلنه |
| **اوبه او د چاپيريال حفظ الصحه** | | | | |
| اوبه او د چاپيريال حفظ الصحه | 4.1 | د څښاک اوبو له رغول شوي سرچيني څخه کته اخستل | 56.7 | سلنه |
| | 4.2 | د اوبو پا کول | 14.9 | سلنه |
| | 4.3 | د روغتيا ساتني له رغول شويو آسانتياو څخه کته اخيستل | 28.5 | سلنه |
| | 4.4 | د ماشومانو د غايطه موادو په مصئون ډول دفع کول | 45.8 | سلنه |
| دلاس پريمينځل | 4.5 | د لاس پريمينځلو په ځای کی د صابون شتوالی | 70.8 | سلنه |
| | 4.6 | ,,,,,,,,,,,,,,,,,,,,, | 74.4 | سلنه |
| **د اميندواری روغتيا** | | | | |
| تر وخت دمخه زيږون | 5.2 | تر وخت دمخه زيږون | 25.6 | سلنه |
| د اميندواری ضد وسايل | 5.3 | د اميندواری ضد وسايلو د خوريدو کچه | 21.2 | سلنه |
| د نوی زيږيدلي او مور روغتيا | | له زيږون دمخه د ځارني پوښښ | | سلنه |
| | 5.5a | کم ترکمه يوځل د پوه پرسونل په واسطه | 47.9 | سلنه |
| | 5.5b | کم تر کمه څلور ځلي د کوم روغتيائي خدمتونو د وړاندي کوونکی په واسطه | 14.6 | سلنه |
| | 5.6 | تر زيږون دمخه له روغتيائي چارو څخه رضايت | 12.1 | سلنه |
| | 5.7 | د زيږون پرمهال د پوه پرسونل لخوا مرسته | 38.6 | سلنه |
| | 5.8 | په روغتيايي موسسو کی زيږون | 32.9 | سلنه |
| | 5.9 | عمليات | 3.6 | سلنه |
| **ماشوم پرمختيا** | | | | |
| | 6.1 | د زده کړي لپاره ملاتړ | 73.1 | سلنه |
| | 6.2 | د زده کړي لپاره د پلار ملاتړ | 61.8 | سلنه |
| | 6.3 | د زده کړي مواد: د ماشومانو کتاب | 2.2 | سلنه |
| | 6.4 | د زده کړي مواد: د لوبيدلو څيز | 52.6 | سلنه |
| | 6.5 | ناوړه ځارنه | 40.2 | سلنه |
| | 6.7 | د ماشومتوب په لمړيو کی په زده کړه کی حضور | 1.0 | سلنه |
| **ښوونه او روزنه** | | | | |
| ليک لوست او ښوونه او روزنه | 7.1 | په جدول کی د ښځو ترمنځ د ليک لوست کچه | 22.2 | سلنه |
| | 7.2 | د ښوونځي لپاره تياری | 12.7 | سلنه |
| | 7.3 | په لمړنيو ښوونځيو کی د جذب خالص ميزان | 29.0 | سلنه |
| | 7.4 | په لمړنيو ښوونځيو کی د حضور خالص نسبت (تعديل شوی) | 55.2 | سلنه |
| | 7.5 | په ثانوي ښوونځيو کی د حضور خالص نسبت (تعديل شوی) | 32.4 | سلنه |
| | 7.6 | هغه ماشومان چي د لمرنی دوری وروستی ټولګي ته رسيږي | 84.1 | سلنه |
| | 7.7 | د لمرنی دوری د بشپړولو ميزان | 30.7 | سلنه |
| | 7.8 | ثانوي دوری ته د ليږدېدني ميزان | 92.9 | سلنه |
| | 7.9 | د جنسيت د تساوي شاخص (لمرنی دوره ) | 0.74 | سلنه |
| | 7.10 | د جنسيت د تساوي شاخص (ثانوي دوره ) | 0.49 | سلنه |
| **له ماشوم څخه ملاتړ** | | | | |
| د زيږون ثبت | 8.1 | د زيږون ثبتول | 37.4 | سلنه |
| د ماشومانو کار | 8.2 | د ماشومانو کار | 25.3 | سلنه |
| | 8.3 | په ښوونځي کی د کارګرو ماشومانو په منځ کی حضور | 50.9 | سلنه |
| | 8.4 | د زده کوونکو په منځ کی د ماشومانو کار | 30.9 | سلنه |
| د ماشومانو انضباط | 8.5 | قهرجن انضباط | 74.4 | سلنه |
| تر وخت دمخه واده کول | 8.6 | تر ۱۵ کالنی دمخه واده کول | 15.2 | سلنه |
| څوځلي واده کول | 8.7 | تر ۱۸ کالنی دمخه واده کول | 46.3 | سلنه |
| | 8.8 | هغه ۱۹-۱۵ کالنی ځواني ښځي چي وادونه ئي کړيدي | 19.8 | سلنه |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | 8.9 | ځو وادونه | 7.1 | سلنه |
| | | د زوجینو ترمنځ د عمر توپیر | | |
| | 8.10a | د۱۹-۱۵ کالنی ښځي | 11.0 | سال |
| | 8.10b | د۲۴-۲۰ کالني ښځي | 14.0 | سال |
| کورنی تاوتریخوالی | 8.14 | د کورنی تاوتریخوالي په هکله یوشان فکرکول | 91.5 | سلنه |
| یتیم ماشومان | 9.17 | د ماشومانو د ژوند کولو ترتیبات | 1.7 | سلنه |
| | 9.18 | د یتیمو ماشومانو خوریدنه چي لږترلږه یو له والدینو ئي مرشوی دی | 4.7 | سلنه |
| | 9.19 | په ښوونځي کي د یتیمو ماشومانو حضور | 34.4 | سلنه |
| | 9.2 | په ښوونځي کي د هغو ماشومانو حضور چي یتیم ندي | 57.4 | سلنه |
| **اچ آی وي ایډز** | | | | |
| د اچ أی وي ایډز په اړه | 9.1 | د ایډزڅخه د مخنیوي په هکله هراړخیزه پوهه | 1.5 | سلنه |
| د فکر کولو ځرنګوالی | 9.2 | د ایډز په هکله هراړخیزه پوهه د ځوانو کسانو ترمنځ | 1.8 | سلنه |
| | 9.3 | د مور څخه ماشوم ته د ایډز د لیږد په هکله پوهه | 8.4 | سلنه |
| | 9.4 | د ایډز د ویروس درلودونکو کسانو قبلول | 16.0 | سلنه |

پیلیزه
د پایلو د لنډیز جدول..........
د منځپانګې نوم لړ ..........
د جدولونو نوم لړ..........
د شکلونو نوم لړ..........
د لنډونو نوم لړ ..........
د مننې څرګندونه..........
لنډیز .. ..........

۱. سریزه..........
شالید..........
د سروې موخې ..........

۲. د سروې او نمونې اخیستنې کړنلاره..........
د نمونې اخیستنې طرحه او ډیزاین ..........
د نمونې پوښښ..........
د پوښتنلیک منځپانګه..........
زده کړه او د ساحې کار ..........
د ارقامو پراسس ..........

۳. وګړي او د کورنیو ځانګړتیاوې ..........
د کورنیو ځانګړتیاوې ..........
د ۴۹-۱۵ کالنی د ځواب ورکونکو ښځو ځانګړتیاوې..........
تر ۵ کلنی ښکته عمر ماشومانو ځانګړتیاوې..........
۴. د ماشومانو مړینه ..........
سریزه : د ماشومانو مړینه..........
په افغانستان کې د ماشومانو د مړینې اټکل..........
په افغانستان کې د ماشومانو د مړینې په (کموالي) کې پرمختګ..........
۵. تغذیه ..........
سریزه : تغذیه ..........
د تغذئي څرنګوالی ..........
د مور له شیدو څخه تغذیه، د یوه کاله کم اوکم عمره ماشومانو تغذیه ..........
ایوډین لرونکې مالګه..........
ماشومانو ته د ویټامین اې(A) تطبیق..........
د ماشومانو دوینې د کموالي خوریدنه..........
د ښځو د وینې د کموالي خوریدنه ..........
په افغانستان کې د ښځو او ماشومانو د تغذئي تصویر ..........
۶. د ماشوم روغتیا ..........
سریزه : د ماشوم روغتیا..........
واکسیناسیون..........
د ماشومانو ساتنه (تریوې میاشتې ښکته عمر) د تیتانوس پر وړاندې..........
د مایعاتو ورکولو په واسطه درملنه ..........
د انتي بیوتیک په واسطه د سینه بغل د خارښې او درملنې لټون..........
د سون له توکو څخه ګټه اخیستل ..........
په افغانستان کې د ماشوم د روغتیا ارزونه..........
۷. اوبه او روغتیا ساتنه(خفظ الصحه)..........
د څښاک صحي اوبه ..........
د اوبو د رغول شویو سرچینو څخه ګټه اخیستل ..........
د څښاک د اوبو ترسرچینې پورې د وخت واټن ..........

د روغتیا ساتني ( حفظ الصحه) له آسانتیاوو څخه ګټه اخیستل ..........................................................................................
د څښاک د اوبو برابرونکی..............................................................................................
د روغتیا د رغول شویو آسانتیاو څخه ګټه اخیستل ..........................................................................
د روغتیا ساتني آسانتیاوو څخه ګټه اخیستل او شریکول ......................................................................
د ماشومانو د غایطه موادو دفع کول ..............................................................................
د څښاک د اوبو او روغتیا ساتنی زیني...............................................................................
د لاسونو پریمنځل .............................................................................................
په افغانستان کې د لاس پریمنځلو او روغتیا ساتني آداب ......................................................................

۸. د امیندواری روغتیا .............................................................................................
تر وخت دمخه زیږون .............................................................................................
د امیندواری ضد وسایل .............................................................................................
تر زیږون دمخه څارني .............................................................................................
د زیږون پرمهال .............................................................................................
د زیږون ځای .............................................................................................
په افغانستان کې د امیندواری د روغتیا څرنګوالی...........................................................................
۹. د ماشوم پرمختیا...........................................................................................
ښوونه او روزنه او زده کړه د ماشومتوب په لمړیو کې ...........................................................................
د لویانو بوختیا د ماشومانو په کړنو کې ..............................................................................
د ماشومانو د نظر په وړاندی د لوبو څیزونو او د لوستنی توکو کیښودل..........................................................
د ماشومانو څارنه .............................................................................................
په افغانستان کې د ماشومانو د لمړنی پرمختیا ارزونه...........................................................................
۱۰. لیک او لوست او ښوونه او روزنه .........................................................................
د ځوانو ښځو لیک او لوست...........................................................................................
ښوونځي ته د تللو لپاره تیاری .............................................................................................
په لمړنیو او ثانوي ښوونځیو کې برخه اخستل ..............................................................................
د افغانستان د ماشومانو تجربه له ښوونځي څخه...........................................................................
۱۱. له ماشومانو څخه ملاتړ .............................................................................................
د زیږون ثبتول .............................................................................................
د ماشومانو کار.............................................................................................
د ماشومانو تأدیب.............................................................................................
یتیمان .............................................................................................
تر وخت دمخه واده او ځو وادونه.............................................................................................
د زوجینو ترمنځ د عمر توپیر.............................................................................................
د کورني تاوتریخوالي پر وړاندې د چلند ډول .............................................................................
په افغانستان کې د ماشومانو له ګټو څخه ملاتړ............................................................................
۱۲. ایډز .............................................................................................
د ایډز د ویروس د لیږد په اړه پوهاوی او د ایډز په هکله ناسم تصور..............................................................
د قبلوني د چلند ډول د هغو کسانو پر وړاندې چې د ایډز د ویروس له درلودلو سره ژوند کوي.........................................
د افغاني ښځو تر منځ د ایډز څخه د پوهاوي اندازه کونه ...............................................................

د الف ضمیمه : د نموني ډیزاین .............................................................................................
د ب ضـــمیمه : د سروی د کارکوونکو نوم لړ .............................................................................
د ج ضـــمیمه : د نموني اخیستني د اشتباه ګانو اټکل .........................................................................
د د ضـــمیمه : د ارقامو د کیفیت جدولونه ...............................................................................
د ه ضـــمیمه : د افغانستان د ځو شاخصیزه سروې د شاخصونو صورتونه او مخرجونه ...............................................
د و ضـــمیمه : پوښتنلیک .............................................................................................

## د جدولونو لست


جدول: ۲.۱ د کورنیو سره د مرکي پايلي، ښځي او تر ۵ کلنی ښکته عمر ماشومان ..........

جدول: ۳.۱ د کورنی ترکیب..........

جدول: ۳.۲ د وګړو ويش دعمر او جنس په توپير..........

جدول: ۳.۳ د ښځو ځانګړتياوې..........

جدول: ۳.۴ تر ۵ کلنی عمر ښکته ماشومانو ځانګړتياوې ..........

جدول: ۴.۱ ژوندي زيږيدلي ماشومان، فعلاً ژوندي ماشومان او د مړو ماشومانو نسبت..........

جدول: ۴.۲ د ماشومانو مړينه..........

جدول: ۴.۳ د يوه کاله ښکته او تر ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړيني کموالی د آسيا په سهيل کې ..........

جدول: ۵.۱ د مور له شيدو څخه لمړنی تغذيه ..........

جدول: ۵.۲ د مور له شيدو څخه تغذيه ..........

جدول: ۵.۳ د مور له شيدو څخه د تغذئي موده..........

جدول: ۵.۴ دعمر برابر د مور له شيدو څخه تغذيه ..........

جدول: ۵.۵ د سختو، نيمه سختو او نرمو خوړو ورپيژندل ..........

جدول: ۵.۶ د خوراک لړترلړه ډيروالی ..........

جدول: ۵.۷ له بوتل څخه تغذيه..........

جدول: ۵.۸ د آيوډين لرونکي مالګي مصرف ..........

جدول: ۵.۹ ماشومانو ته د ويټامين(A) ورکول ..........

جدول: ۵.۱۰ د ماشومانو د ويني د کموالي څرنګوالی..........

جدول: ۵.۱۱ د ښځو د ويني د کموالي څرنګوالی ..........

جدول:۶.۱ په افغانستان کې د واکسين کولو ورځنی پروګرام ..........

جدول: ۶.۲ د ژوند په لمړني کال کې د واکسين کول ..........

جدول:۶.۳ واکسين کول د شاليد د ځانګړتياو په توپير ..........

جدول: ۶.۴ د نوي زيږيدلو ماشومانو ساتنه د تيتانوس پر وړاندې ..........

جدول: ۶.۵ د بدن داوبو د کميدو له منځه وړلو لپاره د خولي له لارې د سپارښت شوي کورني مايعاتو د ورکولو په واسطه د حل لارې..........

جدول:۶.۶ د نس ناستي پرمهال د تغذئي دود ..........

جدول:۶.۷ د بدن د اوبو د کميدو درملنه د خولي له لاري د خوراک د ورکولو په دوام سره او داسي نوري درملني..........

جدول: ۶.۸ د سينه بغل په ګمان د ځارني لپاره لټون او د سينه بغل په جريان کې له انتي بيوتيکو څخه ګټه اخستل......

جدول: ۶.۹ د سينه بغل د خطر د دوو نښو په هکله پوهاوی ..........

جدول: ۶.۱۰ د سون له سختو توکو څخه ګټه اخستل..........

جدول: ۱۱.۶ د سون له سختو توکو څخه ګټه اخستل د پخولو د ځای په توپير ..........

جدول: ۷.۱ د اوبو د رغول شويو سرچينو څخه ګټه اخستل..........

جدول: ۷.۲ د کورنی لخوا د اوبو پاکول..........

جدول: ۷.۳ د ځښاک اوبو سرچينو ته د رسيدو زماني واټن ..........

جدول: ۷.۴ هعه کس چي اوبه راوړي..........

جدول: ۷.۵ د روغتيا ساتني ( حفظ الصحه) د آسانتياو ډول ..........

جدول: ۷.۶ د روغتيا ساتنی له آسانتياوو څخه د ګټی اخيستنی شريکو..........

جدول: ۷.۷ د ماشومانو د مدفوع دفع کول..........

جدول: ۷.۸ د ځښاک د اوبو او حفظ الصحی زينی..........

جدول: ۷.۹ اوبه او صابون د لاس پرېمنځلو په ځای کې .........................................................
جدول: ۷.۱۰ د صابون شته والی .........................................................
جدول: ۸.۱ تروخت دمخه زېږون .........................................................
جدول: ۸.۲ په ژر وختی زېږونونو کی میلانونه
جدول: ۸.۳ د امیندواری ضد وسایلو څخه ګټه اخستل .........................................................
جدول: ۸.۴ تر زېږون دمخه د څارنو پوښښ
جدول: ۸.۵ تر زېږون دمخه څارنی لپاره د لیدنو شمیر
جدول: ۸.۶ تر زېږون دمخه د څارنو محتویات.........................................................
جدول: ۸.۷ د زېږون پرمهال مرسته.........................................................
جدول: ۸.۸ د زېږون ځای.........................................................
جدول: ۹.۱ د ماشومتوب په لمړیو کې ښوونه او روزنه .........................................................
جدول: ۹.۲ د زده کړې لپاره ملاتړ.........................................................
جدول: ۹.۳ د زده کړې توکي.........................................................
جدول: ۹.۴ نامناسبه څارنه.........................................................
جدول: ۱۰.۱ د ځوانو ښځو لیک او لوست.........................................................
جدول: ۱۰.۲ د ښوونځي لپاره تیاری.........................................................
جدول: ۱۰.۳ لمړني ښونځي ته شاملیدل.........................................................
جدول: ۱۰.۴ په لمړني ښوونځي کې حضور.........................................................
جدول: ۱۰.۵ په ثانوي ښوونځي کې حضور .........................................................
جدول: ۱۰.۶ هغه ماشومان چې د ښوونځي وروستي ټولګي ته رسیږي .........................................................
جدول: ۱۰.۷ د لمړني ښوونځي بشپړول او ثانوي ښوونځي ته تلل.........................................................
جدول: ۱۰.۸ په ښوونه او روزنه کې د جنس تساوي .........................................................
جدول: ۱۱.۱ د زېږېدنو ثبتول .........................................................
جدول: ۱۱.۲ د ۱۱-۵ کلنی عمرونو د ماشومانو کار .........................................................
جدول:۱۱.۳ د ۱۴-۱۲ کلنی عمرونو د ماشومانو کار .........................................................
جدول: ۱۱.۴ د هغه ماشومانو کار چې په ښوونځي کې حضور لري .........................................................
جدول: ۱۱.۵ د ماشومانو تادیب .........................................................
جدول: ۱۱.۶ د یتیم والي او ماشومانو د ژوند ترتیبات .........................................................
جدول: ۱۱.۷ د یتیمو او غیر یتیمو ماشومانو حضور په ښوونځي کې.........................................................
جدول: ۱۱.۸ تر وخت دمخه واده او څو وادونه .........................................................
جدول: ۱۱.۹ د تر وخت دمخه وادونو میلان .........................................................
جدول: ۱۱.۱۰ د زوجینو ترمنځ د عمر توپیر .........................................................
جدول: ۱۱.۱۱ د کورني تاوتریخوالي سره د چلند ډول.........................................................
جدول: ۱۲.۱ د ایډز د ویروس د لیږد په اړه پوهاوی، د ایډز څخه ناسم درک او د ایډز د ویروس د لیږد په اړه بشپړ پوهاوی .........................................................
جدول: ۱۲.۲ د ایډز د ویروس د لیږد په اړه پوهاوی، د ایډز څخه ناسم درک او د ځوانو ښځو ترمنځ د ایډز د ویروس د لیږد په اړه بشپړ پوهاوی
جدول: ۱۲.۳ د مور څخه ماشوم ته د ایډز د ویروس په اړه پوهاوی.........................................................
جدول: ۱۲.۴ د قبلولو د چلند ډول دهغو کسانو پر وړاندې چې د ایډز د ویروس له درلودو سره ژوند کوي.........................................................
جدول:۱. الف ۱ د نمونی د خوشو او کورنیو ( د نموني اخستني لمړنی واحد) د تخصیص ټاکل د زونونو، ښاري او کلیوالی په توپیر
جدول:۲. الف ۲ د هیموګلوبین د ازمایښت لپاره فرغي نمونه.........................................................

**ټولي نموني:**


جدول ج.۱: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۲: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۳: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۴: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۵: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۶: دنموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۷: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۸: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۹: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۱۰: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................
جدول ج.۱۱: د نموني اخيستني اشتباه ګاني ــ ټولي نموني........................................................................

جدول د.۱: د کورنيو د وګړو شمير د عمر له مخې........................................................................
جدول د. ۲: د شرايطو درلودونکی او مرکه شويو ميرمنو ويش د عمر له مخې........................................
جدول د.۳: تر ۵ کلنی لاندې ماشومانو ويش او تر پنځه کلنی لاندې ماشومانو پوښتنليکونه......................
جدول د.۴: د ميرمنو د پوښتنليک د بشپړتيا کچه د کورنی د اقتصادی او ټولنيزو ځانګړتياوو په توپير................
جدول د.۵: تر ۵ کلنی لاندی ماشومانو د پوښتنليکونو د بشپړتيا کچه د اقتصادی او ټولنيزو ځانګړتياو په توپير.........

جدول د.۷: د معلوماتو بشپړوالی د وني (قد) او وزن د شاخصونو په هکله ..............................................
جدول د.۸: د ونی او وزن په اندازه کولو کی انباشتګی........................................................................
جدول د.۹: د لاسونو د پريمينځلو د ځايونو کتل ........................................................................
جدول د.۱۰: تر ۵ کلنی لاندې ماشومانو د زيږيدني تصديق د کارت کتل............................................
جدول د.۱۱: د ميرمنو د روغتيائي کارت کتل........................................................................
جدول د.۱۲: د واکسين د کارت کتل ........................................................................
جدول د۱۳.: په کورنی کې د مور او هغه کس شتون چې د5 کلنی عمرلاندې ماشومانو پوښتنليک و رسره مرکه وشي ........................................................................
جدول د.۱۴: د ۱۴-۲ کلنو ماشومانو غوره کول د ماشومانو د تاديب د برخې لپاره ......................................
جدول د.۱۵: په ښوونځي کې حضور د بيلابيلو عمرونو په توپير ........................................................
جدول د.۱۶: د زيږيدني پرمهال د جنس نسبت د ژوندي زيږيدلو ماشومانو او د فعلاً ژونديو ماشومانو ترمنځ ..........

**د شکلونو نوم لړ:**


شکل :۲.۱ د نموني د زونونو نقشه ........................................................................................................

شکل :۳.۱ د کورنیو د وګړو د جنس او عمر ویش............................................................................................

شکل :۴.۱ د یوه کال څخه کم عمره ماشومانو د میرني کچه د ځانګړتیاو په توپیر ...................................................................

شکل :۵.۱ د هغو میندو سلنه چې د مور له شیدو څخه ئی یوه ګړی او یوه ورځ وروسته د زیږیدني تغذیه پیل کړی دی .....

شکل :۵.۲ د دوه کلنی لاندې ماشومانو د سلني ویش د تغذئي د بیلګی (الګو) په توپیر ...............................................

شکل :۵.۳ د هغه کورنیو سلنه چې د مناسبي آیودین لرونکي مالګي څخه ګټه اخلي ..................................................

شکل :۶.۱ د۲۳-۱۲میاشتنیو ماشومانو سلنه چې سپارښت شوي واکسینونه ئې تر دولسمې میاشتې پوري اخیستی دی.........

شکل :۶.۲ د هغو میندو سلنه چې تر سروې مخکې ۱۲ میاشتو کې ئې ژوندی زیږون کړی او د تیتانوس پر وړاندې وقایه شوي دي

شکل :۶.۳ د ۵ کلنی عمر لاندې په نس ناستي اخته ماشومانو سلنه چې د خولې له لارې د بدن د اوبو کمیدنه ئې درمان شوي ده

شکل :۶.۴ د ۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو سلنه چې په نس ناستي اخته وو، مالګین سیروم او یا زیات مایعات ئې اخیستي اوغذا خوړلو ته ئې دوام ورکړی ..........................................................................................

شکل :۷.۱ د کورنیو د سلني ویش د څښاک د اوبو د سرچیني په توپیر ..............................................................

شکل :۱۲.۱ د هغو میرمنوسلنه چې د ایډز د ویروس د لیږد په هکله بشپړ معلومات لري ............................................

**د مننې څرګندونه:**

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د احصائيې مرکزي ادارې ته واک ورکړی دی چې ارقام راټول کړي او د پلان جوړونې او پروګرام جوړونې لپاره پیاوړي شواهد برابرکړي او همدارنګه د نړیوالو کانوانسیونونو د تطبیق په برخه کې د پرمختګ څارنه وکړي. د احصائيې مرکزي ادارې د یونیسف په مرسته څو شاخصیزه سروې تطبیق کړه چې کار ئې د ۱۳۸۹ کال د لړم په میاشت کې پیل او د ۱۳۹۰ کال د وري په میاشت کې پای ته ورسید.
د احصائيې مرکزي ادارې د عامې روغتیا وزارت، پوهنې وزارت او نورو حکومتي شریکانو، سره مرسته وکړه ترڅو دغه سروې په بریالیتوب سره ترسره شي. د احصائیی د مرکزی اداری کارکوونکو، یونیسف او زیات شمیر نورو ادارو، د ملګرو ملتونو پروګرامونو او ځنی نورو شریکانو د دې سروې په ترسره کولو کې برخه واخیستله.
مونږ د وزارتونو او حکومتي اړونده ادارو او افرادو/ اشخاصو څخه بې دریغه مننه کوو، غواړو د ټولو هغو کسانو څخه چې د سروې په تطبیق، د سروې د ارقامو په تحلیل کې ئې کارکړی او د ټولو هغو چا څخه چې د وروستي راپور په برابرولو کې ئې کارکړی دی، مننه وکړو. د څو شاخصیزه سروې پوښتنلیک، د نمونې د غوره کولو طرزالعمل او د ارقامو د تحلیل لپاره کاریدلي نرم افزار (چې د یونیسف لخوا برابرشول) د سروې د ترسره کولو او د ارقامو د تحلیل لپاره اړین وو. د احصائيې مرکزي ادارې د یونیسف د متخصص په مرسته خپلو کارکوونکو او نور د اړتیا وړ کارکوونکو ته د ساحوي کار د ترسره کولو، د ارقامو د پراسس، د ارقامو د تحلیل او د راپور د برابرولو لپاره زده کړه ورکړه. یونیسف همدارنګه د څو شاخصیزه سروې د ډلې له غړو څخه په بهر کې د زده کړې ملاتړ وکړ. په ځانګړي ډول له یونیسف څخه د مالي او تخنیکي مرستو په خاطر چې د دې سروې ترسره کول او د هغې د راپور برابرول ئې ممکن کړل، د مننې څرګندونه کوم.

**لنډيز**

د افغانستان څو شاخصيزه سروی داسی سروی دی چی په ملی کچه د وګړو استازيتوب کوی، او په هيواد کی د ماشومانو او ښځو د ټولنيزی، روغتيائی او تعليمی بڼی په هکله معلومات برابروی. دا سروی د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت د احصائيي د مرکزی اداری لخوا د يونيسيف په مالی او تخنيکی مرسته په ۱۳۸۹کال کی ترسره شوه. نوموړی سروی د هغو موخو او مقصدونو اړوند پر پرمختګ د څارنی پر اړتيا باندی تـــکيه لری کوم چی د وروستيو نړيوالو ژمنو لکه "د زريزی اعلاميه" او" د ماشومانو لپاره مناسبه نړيواله کړنلاره " په ترڅ کی رامنح ته شوی دی. سربيره پردی، دا سروی د افغانستان د حکومت د بيوزلی د کموالی او د ښځو او د ماشومانو له سوکالی څخه د ملاتړ د پاليسی د ژمنو په برخه کی، د بيلګی په توګه د افغانستان د ملی پرمختيا ستراتيژی په ژمنو کی، د شوی پرمختګ په معلومولو کی مرسته کوی.

د افغانستان د څو شاخصيزه سروی څخه لاس ته راغلی پايلی د بدلون په حالت کی د يوه هيواد څرنګوالی بيانوی کوم چی د څو لسيزو جګړی، څه ناڅه کمزوری حکومتداری او د بشر له حقونو څخه د پراخه سرغړونی په ترڅ کی رامنځته کيږی. ښه کارونه هم ترسره شوی دی. ډيری افغانانو د څښاک په ښه توګه پاکو شوی اوبو ته لاس رسی پيداکړی دی. ښوونځی ته د هلکانو او نجونو شامليدو زياتوالی موندلی او د ماشومانو مړينه نسبتآ راټيټه شوی ده، خوکه چيری د نړيوالو اټکلونو سره پرتله شی په نه منونکی ډول لوړه دی. سره له دی په ډيرو برخو لکه د ښځو د ليک لوست په برخه کی پرمختګ ډير په ورو ډول صورت موندلی، او افغانستان په اوږد مهال کی د سختو ننګونو لکه ايدز سره مخامخ دی. په ټولو هغو برخو کی چی د افغانستان په څو شاخصيزه سروی کی تر پوښښ لاندی راغلی، د ځواب ورکوونکو په ځانګړتياوو کی څرګند توپيرونه ليدل کيږی. زياتره د پام وړ توپيرونه د ښاری او کليوالی ساحو د شاخصونو ترمنځ، د کورنيو د اقتصادی او ټولنيز وضعيت او زونونو کی شتون لری. د ميرمنو د زده کړی درجه د ښځو او ماشومانو لپاره د ټولو شاخصونو د باور وړ پيشبينی کوونکی په خير په دايمی توګه را څرګنديږی. دا حالت د دی مدعا شاهد دی چی د ښځو د موقف او سوکالی په برخه کی پانګونه په حقيقت کی د ماشومانو او په ټوليزه توګه د ټولنو په برخه کی پانګونه ده.

د سروی د رپوټ د هری برخی غوره لاس ته راغلی پايلی په لاندی ډول برابری شوی دی:

**د سروی پوښښ**

د افغانستان په څو شاخصيزه سروی کی د هيواد په اتو زونونو کی له ۱۳۳۱۴ کورنيو څخه د ځواب ورکونی په سلو کی د ۹۸,۵په ميزان سره ليدنه وشوه. په سروی شوی کورنيو کی ۲۲۰۵۳ ميرمنی (۴۹-۱۵ کلنی) وپيژندل شوی . د هغو له ډلی څخه د ۲۱۲۹۰ ميرمنو سره په برياليتوب سره مرکه ترسره شوی چی د سروی شويو کورنيو د ځواب ورکونی په سلو کی ۹۵,۵ ميزان لاس ته راځی. سربيره پر دی ۱۵۳۲۷ د پنځو کلونو کم عمره ماشومان د کورنيو په پوښتنليک کی نوم لړته شامل شول. د دی ماشومانو له ډلی ۱۴۸۷۲ تنو ته چی د سروی شوی کورنيو د ځواب ورکونی ميزان د ۹۷,۰ سلنی سره برابردی، پوښتنليکونه بشپړل شول. د ځواب ورکونی ټوليز ميزان د ميرمنو لپاره په سلو کی ۹۵ او د پنځو کلونو کم عمره ماشومانو لپاره په سلو کی ۹۵,۶ دی.

**د کورنيو او وګړو ځانګړتياوی**

د ۲۱۲۹۰ ښځينه ځواب ورکوونکو له ډلی څخه چی سروی شوی دی، په سلو کی ۸۱ په کليوالی سيمو کی ژوند کوی. ډيری سروی شوی ميرمنی واده شوی وې (۶۹ سلنه)، په داسی حال کی چی په سلو کی ۲۹ هيڅکله واده ندی کړی، ۱,۵ سلنه کونډی او ۰,۱ طلاق شوی او يا جلاشوی وی. ډيری ميرمنی (۶۴ سلنه) د ژوندانه په اوږدو کی لږترلږه يو اولاد درلودلی، ۳۶ سلنه په تيرو دوو کلونو کی زيږون کړی دی او ۳۶ سلنه د سروی ترمهاله زيږيدنه نه درلوده. زياتره ځواب ورکوونکو ميرمنو (۸۲ سلنه) رسمی زده کړی نه درلودلی، په داسی حال کی چی په سلو کی ۸ يوازی لمړنی زده کړی او ۱۱ په سلو کی منځنی زده کړی او ترهغی لوړی زده کړی درلودی. د ۴۹-۱۵ کلنی ښځو له ډلی څخه په سلو کی ۲۲ په ډير شتمن کوانتيل او ۱۹ په سلو کی په ډير بی وزلی کوانتيل کی قرار درلود.

په نمونه کی د شاملو تر پنځو کلونو کم عمره ماشومانو له ډلی څخه ۵۱ سلنه نارينه او ۴۹ سلنه ښځينه وو چی ډيری ئی (۸۴ سلنه) په کليوالی سيموکی استوګنه درلوده. ددی ماشومانو د ميندو زياتره برخه (۹۱سلنه) رسمی زده کړی نه درلودلی، په داسی حال کی چی په سلو کی ۵ د لمړنيو زده کړو او په سلو کی ۴ د منځنيو او ترهغی لوړو زده کړو درلودونکی وې. د شتمنی د مختلفو کوانتيلونو په منځ کی سروی شوی ماشومان، ۲۱ سلنه په ډير بی وزلی کوانتيل او ۱۷ په سلو کی په ډير شتمن کوانتيل کی نيږدی په برابر ډول ويشل شوی وو.

**د ماشومانو مړينه**

د افغانستان څو شاخصيزه سروی تر يوکال کم عمره ماشومانو د مړينی ميزان په هرو زرو ژونديو زيږيدنو کی ۷۴ اټکل کړی دی، په داسی حال کی چی تر پنځه کلنی دمخه د مړينی احتمال يعنی تر پنځو کلونو کم عمره ماشومانو مړينه شاوخوا ۱۰۲ په هرو زرو ژونديو زيږيدنو کی دی. د يوه کال کم عمره نارينه ماشومانو او تر پنځو کلونو کم عمره نارينه ماشومانو د مړينی ميزان د ۱۰ په سلو کی په توپير سره د نارينه او ښځينه ترمنځ د مړينی احتمال د ښځينه ماشومانو د مړينی له ميزان څخه ډير لوړ دی. د مړينی ميزانونه په ښاری سيمو کی نظر کليوالی سيمو ته ډير ټيټ دی. همدارنګه په مړينه کی د زده کړی د درجی او شتمنی له پلوه توپير شتون لری.

هر څومره چې د شتمنی او زده کړی درجه لوړیږی هغومره  د یوه کال کم عمره ماشومانو او د پنځو کلونو کم عمره ماشومانو مړینه راټیټیږی. په داسی حال کی چې د یوه کال کم عمره ماشومانو د مړینی میزان د ډیر شتمن کوانتیل لپاره ۶۲ دی، دا میزان د ډیری بی وزلی کوانتیل لپاره ۷۵ دی. د یوه کال کم عمره ماشومانو مړینه د نا لوستو میندو لپاره ۷۴ دی، په داسی حال کی چې دا میزان د منځنیو او ترهغی لوړو زده کړو درلودونکو میندو لپاره د پام په ډیر وړ ډول (۵۵) ډیر ټیټ دی.   ددی په پام کی نیولو سره چې د یوه کال کم عمره او تر پنځو کلونو کم عمره ماشومانو د مړینی میزان په بیړه ټیټوالی د سیمی د نورو هیوادونو لپاره لکه هند او بنګله دیش چې د افغانستان په پرتله نسبتاَ د ټیکاو درلودونکی دی، د تیرو دوو لسیزو په اوږدو کی د ۴ سلنی څخه کم وه، د افغانستان د څو شاخصیزه سروی څخه لاس ته راغلی پایلی د ماشومانو د مړینی په هکله بنائی چې په ډیراحتیاط تفسیرشی.

**تغذیه**

په افغانستان کی د پنځو کلونو کم عمره ماشومانو نیږدی له هرو څلورو ماشومانو څخه یو ماشوم (۲۵سلنه) په منځنی او یا سخت ډول کم وزنه دی.  د هرو دوو ماشومانو څخه یو ئی کم نمو دی (۵۲ سلنه) او نیږدی له هرو اوو ماشومانو (۱۴سلنه) په منځنی او یا سخت ډول د هغی وزن نظر ونی ته کم دی.
یوازی په سلو کی ۵۴ نوی زیږیدلی تر زیږیدو یوساعت وروسته موده کی د مور له شیدو سره تغذیه کیږی، په داسی حال کی چې په سلو کی ۸۴ نوی زیږیدلی په افغانستان کی د زونونو ترمنځ د پام وړ توپیرونو له مخی د زیږیدنی وروسته د یوی ورځی په موده کی د مور له شیدو ځنی تغذیه پیل کوی. کومو میرمنو چې په دولتی آسانتیاو کی زیږون کړی دی نظر هغو میرمنو ته چې په خصوصی آسانتیا، کور او یا بل ځای کی زیږون کوی ډیراحتمال شته چې د زیږون څخه یوه ګړی وروسته ۶۲ سلنه او د زیږون وروسته په یوه ورځ کی په سلو کی ۸۹ د هغوی ماشومان د مور له شیدو څخه تغذیه شی. نیږدی ۵۴ سلنه تر۶ میاشتنی لاندی ماشومان یوازی د مور له شیدو څخه تغذیه شوی دی. حتی په ټیټو عمرونو کی نیږدی په سلو کی ۴۵ ماشومان د مور پر شیدو سربیره مایعات او خوراک ترلاسه کوی چې دا کارهغوی د خوراکی توکو له زیان او د ناپاکو اوبو له خطر سره مخامخ کوی. د شیږمی میاشتی په پای کی هغه ماشومان چې یوازی د مور له شیدو څخه تغذیه کیږی په سلو کی د ۳۰ لاندی دی. په ټولیزه توګه یوازی او یوازی په سلو کی ۳۷ د ۰-۲۳ میاشتنی ماشومان په مناسب ډول د مور له شیدو څخه تغذیه شوی او د مور له شیدو څخه      د مناسبی تغذئی بیړنی کموالی د ۶-۲۳ میاشتنی په عمر په سهیلی او سهیل ختیځو زونونو کی لیدل شوی دی.
یوازی د کورنیو په سلو کی ۲۰ د آیودین لرونکی مناسبی مالګی څخه ګټه آخلی چې دهغوی ډیر کم ( په سلو کی ۹) په سهیلی زون او ډیر زیات ئی (په سلو کی ۵۲) په مرکزی زون کی دی. د پام وړ تشه د ښاری سیمو په سلو کی ۴۱ او کلیوالی سیمو، په سلو کی ۱۶ ترمنځ لیدل شوی دی او د سروی څخه په ۶ میاشتی وړاندی موده کی په سلو کی۵۱ د ۲۳-۶ میاشتنیو ماشومانو د ویتامین ای ( A) یو دوز اخیستی دی.
د پوښښ له پلوه د زونونو ترمنځ د پام وړ توپیر شتون درلود، د هغی ډیره ټیټه اندازه، ۱۹سلنه، په سهیلی زون کی وه. د مور د زده کړی درجه د ویتامین (ای) د اخیستلو د احتمال سره اړیکه لری. د وینی کموالی چې د ماشومانو د مړینی زیاتیدونکی ګواښ له ځانه سره لری، په سلو کی ۳۴  د ۵۹-۶ میاشتنیو ماشومانو ترمنځ خوریدونکی دی. په ټولیزه توګه د وینی د کموالی خوریدل په ۴۹-۱۵ کلنی امیندوارو ښځو کی د ۱۶سلنی په میزان او په غیرامیند وارو د ۴۹-۱۵ کلنو ښځو کی۲۱ سلنه دی.

**د ماشوم روغتیا**

لاس ته راغلی ارقام  په افغانستان کی د واکسیناسیون د پوښښ په هکله د زیاتی اندیښنی ښکارندوی دی. یوازی په سلو کی ۱۸ د ۱۲-۲۳ میاشتو ماشومان په بشپړ ډول واکسین شوی دی. د هرو څلورو ماشومانو ځنی یوه ئی تر یوه کلنی دمخه هیڅ ډول واکسین ندی اخیستی او یوازی په سلو کی ۳۱ ماشومانو د واکسین کارت درلود. د څو دوره ئی واکسینونو لپاره د لمړی دوری په ډیر لوړ پوښښ سره په نورو دورو کی کموالی مومی. د بیلګی په ډول په سلو کی ۶۶ ماشومانو تر۱۲میاشتنی عمر پوری د پولیو ۱ واکسین اخیستی دی، او دا میزان د دریمی دوری  لپاره په سلو کی ۴۲ ته راټیټیږی. د شری د واکسین پوښښ تر ۱۲ میاشتنی پوری په سلو کی ۴۴ ته رسیږی. داسی معلومیږی چې د مور د زده کړی درجه یو لامل دی چې د پام په وړ ډول د ماشومانو د واکسیناسیون پر میزان باندی اغیزه لری او د زده کړی لوړه درجه د واکسیناسیون د لوړ میزان سره تړلی دی. دا موضوع همدارنګه د تیتانوس پر وړاندی د مخنیوی په اړه وجود لری، د زده کړی درجه او د شتمنی شاخص د مخنیوی پراحتمال اغیزه لری. یوازی په سلو کی ۴۱ هغه میرمنی چې د دوو تیرو کلونو په موده کی ئی زیږون کړی دی، د تیتانوس پر وړاندی وقایه شوی دی. په ټولیز ډول په سلو کی ۲۳ تر پنځو کلونو لاندی ماشومان د سروی څخه په دوه اونی مخکی موده کی نس ناستی درلود چې خوریدل ئی په زونونو کی توپیریزه وو. نیږدی په سلو کی ۶۴ په نس ناستی اخته ماشومان په مالګین سیروم د دوامداره تغذیی سره د نس ناستی په موده کی، درمان شوی دی.
لیدل شوی دی چې په سلو کی ۱۹ د۰-۵۹ میاشتنی ماشومان د سروی څخه په دوه اونی مخکی موده کی د سینه بغل د نښونښانو په درلودلو سره ربوټ ورکړل شوی دی. ددی ماشومانو له ډلی څخه په سلو کی۶۱ ئی د روغتیائی خدمتونو یوه مناسب وړاندی کوونکی ته وړل شوی دی. په افغانستان کی ۱۹سلنه ماشومان چې انګیرل کیده چې په سینه بغل باندی اخته دی، یوه دولتی روغتون ته د درملنی لپاره وړل شوی دی او ترپنځه کلنی لاندی په سلو کی ۶۴ماشومانو چې د سینه بغل ګمان ورباندی کیده د سروی څخه په دوه اونی مخکی موده کی انتی بیوتیک اخیستی دی. په عمومی ډول، په سلو کی ۱۵میرمنی د سینه بغل د خطر په دوو نښو، سا ایستل، چټکه او په سختی سره ساه ایستلو باندی، پوهیږی.

په افغانستان کی په عمومی توګه زیاتره کورنی (په سلو کی۸۴) د پخلی لپاره د جامدو توکو ګټه اخلی. له جامدو توکو څخه ګټه اخیستل په ښاری سیمو کی کمه ده (په سلو کی ۳۳) خو په کلیوالی سیموکی ډیره زیاته ده، په کوم ځای کی چی نیږدی ټولی کورنی (په سلو کی۹۵) د جامدو توکو څخه ګټه اخلی. د کورنی د شتمنی او د کورنی د مشر د زده کړی د درجی په اړه توپیرونه همدا راز د اهمیت وړدی. په ښاری سیمو کی د کورنیو په سلو کی ۷۳ د جامدو توکو څخه د پخلی لپاره په یوه جلا کوټه کی د پخلنځی په څیر ګټه اخلی، دا په داسی حال کی ده چی په کلیو کی د کورنیو په سلو کی ۶۶ همدا ډول کار کوی. د کورنیو له نیمائی د جامدو توکو څخه د پخلی لپاره په یوه جلا کوټه کی په زیاتره زونونو کی کار اخلی، پرته له لویدیځ زون څخه چی د کورنیو یوازی په سلو کی ۴۴ ئی دی کارته هڅه کوی.

## اوبه او د چاپیریال پاک ساتنه ( حفظ الصحه )

په ټولیزه توګه د افغانستان د وګړو په سلو کی ۵۷ د څښاک اوبو د یوی مناسبی سرچینی څخه ګټه اخلی، که څه هم د څښاک د اوبو سرچینه د زونونو ترمنځ د پام په وړ ډول یو تر بله توپیر لری، په ښاری سیمو کی په سلو کی۸۲ او په کلیوالی سیمو کی په سلو کی۵۱ د څښاک اوبو د مناسبی سرچینی څخه ګټه اخلی.
د شتمنی له پلوه د زیاتو توپیرونو سره، سیمه ایز او نور توپیرونه په عمومی ډول د کړنو یوه پراخه ساحه د انسانی فاضله موادو د دفع کولو په اړه شتون لری. په افغانستان کی د وګړو په سلو کی۳۱ په داسی کورنیو کی ژوند کوی چی د روغتیا ساتنی له ښو آسانتیاو څخه ګټه اخلی، په ښاری سیموکی په سلو کی ۶۰ او په کلیوالی سیمو کی په سلو کی د ۲۵ په شمول د چاپیریال د پاک ساتنی د ښو آسانتیاو څخه ګټه اخیستنه د شتمنی سره پیاوړی اړیکه او تړاو لری او همدارنګه د ښاری او کلیوالی سیمو ترمنځ ښکاره توپیر لری.
په ملی کچه، په سلو کی ۲۹کورنی د روغتیا ساتنی له ښو او مستقلو آسانتیاوو څخه ګټه اخلی چی د نورو کورنیو سره شریکی نه دی.
د چاپیریال د پاک ساتنی د ښو او مستقلو آسانتیاو سلنه   د پام په وړ توګه په ښاری سیمو کی (په سلو کی۵۱) د کلیوالی سیمو په پرتله (په سلو کی ۲۴ )، لوړه دی. ولیدل شول چی په ملی کچه د کورنیو په سلو کی ۶۰ د یوه ځانګړی ځای څخه دلاس پریمنځلو لپاره ګټه اخلی. د کورنیو له دی ډلی څخه کومی چی په هغوی کی د لاس پریمینځلو لپاره یوازی یوځای تر سترګو شوی ده، په سلو کی ۱۷ په ځانګړی شوی ځای کی اوبه او صابون درلودل.

## د امیندواری روغتیا

د ژر وختی زیږون د پام وړ زیانونو پر خلاف چی د مور او ماشوم د روغتیا لپاره ئی لری، په سلو کی ۱۵میرمنو د ۱۹-۱۵کلنی کی یو ځل زیږون کړی دی او په سلو کی ۴ په لومړی ماشوم باندی امیندواری شوی دی، ځکه خو د هغوی په سلو کی ۱۴ په زیږولو او مورکیدو پیل کړی دی. په سلو کی ۲میرمنو د ۱۵ کلنی عمر وړاندی یو ژوندی زیږون کړی دی چی د ننګونی په څیر ګڼل کیږی. د ۲۴-۲۰ کالو د هرو څلورو میرمنو څخه یوی میرمنی د ۱۸ کلنی عمر ته تـر رسیدو دمخه یو ژونـدی زیږون کړی دی. د مور د زده کړی د درجی او د تر وخت دمخه زیږون ترمنځ د پیوستـون ټینګه اړیکه شتون لری. د امیندواری ضد وسایلو څخه ګټه اخیستل په ډیره ټیټه کچه کی قرار لری. په سلو کی ۸۰ میرمنی د امیندواری ضد وسایلو له هیڅ یوه ډول څخه ګټه نه اخلی. د امیندواری څخه د مخنیوی د ډیرو دودیزو وسایلو څخه ستنه (پیچکاری) او ورپسی ګولی(تابلیت) دی. د هغو میرمنو سلنه چی د امیندواری ضد وسایلو څخه ګټه اخلی د هغو ترمنځ چی زده کړی ئی ندی کړی له ۲۰ سلنی څخه د هغو ترمنځ چی منځنی یا لوړی زده کړی لری ۲۷ سلنی ته ، زیاتوالی مومی.
په افغانستان کی تر زیږیدنـی دمخه د څارنی پوښښ (د داکتر، نرس یا دایه په واسطه) ډیرکم دی. په سلو کی ۴۸ میرمنی لږترلږه یو ځل د امیندواری په دوران کی د روغتیائی ماهر پرسونل لخوا څارنه کیږی. په ټولیزه توګه تر زیږیدنی وړاندی سپارښت شوی څارنی نامناسبی دی او د سپارښت شوی څارنو یوازی او یوازی په ډیرو کمو مواردو کی کارول کیږی. د هغو میرمنو په منځ کی چی د سروی څخه د دوو کلونو مخکی موده کی ئی زیږون کړی دی یوازی په سلو کی ۱۲ امیندوارو میرمنو له زیږون دمخه څارنی ترلاسه کړیدی چی د وینی فشارئی معاینه شوی او ادرار او وینـه ئی آزمایښت شوی دی. د ډاکترانو په سلو کی ۲۰، نرسانو او دایه ګانو په سلو کی ۱۶، او د دائی مرستیالی په سلو کی د۲ زیږیدنو سره مرسته کړی دی. په سلو کی له ۶۰ زیاتی زیږیدنی د غیر ماهرو کسانو په مرسته ترسره شوی دی. په افغانستان کی نیږدی په سلو کی ۳۳ زیږیدنی په روغتیائی آسانتیاو کی صورت مومی. د نـیمائی زیات (په سلو کی ۶۵) زیږیدنی په کورونو کی کیږی. د ښاری سیمو ښځی ښائی دوه برابره (په سلو کی۶۶) نظر د کلیوالی سیمو ښځو ته (په سلو کی۲۵) په روغتیائی آسانتیاو کی زیږون وکړی.

## د ماشوم پرمختیا

په افغانستان کی د ۴۹-۳۶ میاشتنی ماشومانو په سلو کی یوازی یو ئی د ښوونځی څخه مخکی زده کړی تعقیبوی. د شمولیت ارقام په داسی حال کی چی ډیر زیات ټیټ دی، په ښاری سیمو کی د اقتصادی او ټولنیز حالت په توپیر سره (په سلو کی ۴) د کلیوالی سیمو څخه ۸ ځلی (په سلو کی ۰,۵ )زیات دی. د دوه پر دری برخی (په سلو کی۷۳) ترپنځه کلنی لاندی ماشومانو لپاره د سروی دری ورځی مخکی د کورنی یوه بالغ غړی د نورو څخه په زیاتو فعالیتونو کی چی د ښوونځی لپاره د تیاری نیولو او زده کړی ته لوړتیا وربخښی، لکه لوستل، سندری ویل او یا لوبی کول، مشغولیت درلود. په دا ډول فعالیتونو کی د پلار مشغولیت د مور دوه ثلثه جوړوی.
د ۵۹-۰ میاشتنی ماشومانو په سلو کی یوازی ۲ په داسی کورنیو کی ژوند کوی چی لږترلږه په کی د ماشومانو دری ټوکه کتابونه موجود دی، او د ماشومانو نسبت د ماشومانو د۱۰ ټوکه کتابونو او ترهغی زیاتو ته په سلو کی ۰,۵ ته راټیټیږی. په ټولیزه توګه د -۰

۵۹ میاشتنی ماشومانو په سلو کی ۵۳ دوه او یا ترهغی زیات د لوبیدو شیان په خپلو کورونو کی درلودل. د نامناسبی څارنی په اړه دا معلومه شوه چی په سلو کی ۴۰ ماشومان یا یوازی او یا خو د یوه بل ماشوم ترڅارنی لاندی پریښودل شوی دی.

**لیک لوست او ښوونه او روزنه**

د ۲۴-۱۵ کلنی میرمنو د هرو پنځو ښځو څخه یوه ښځه باسواده ده. د کلیوالی سیمو د ښځو د سواد کچه نسبت د ښاری سیمو د ښځو د سواد کچی ته له دریو ځلو څخه هم ډیره کمه ده. د ټولو هغو ښځو څخه چی ځواب ئی ورکړی د زده کړی لوړه درجه ئی لمړنی زده کړی دی، یوازی په سلو کی ۲۹ په ریښتینی ډول باسواده وی.سواد د هیواد د هغو ښځو په منځ کی چی په ډیر بیوزلو کورنیو کی ژوند کوی نسبت خپلو سیالانو ته چی په شتمنو کورنیو کی ژوند کوی ۱۰ځلی ټیټ دی.
په ۱۳۸۸یم کال کی د زیاتو سیمه ایزو توپیرونو سره په سلو کی ۲۹ ښوونځی ته د شاملیدو د شرایطو درلودونکی ماشومان د لومړنیو ښوونځیو په لمړی ټولګی کی شامل شوی وو. د بیلګي په ډول په سهیل زون کي ښوونځي ته د شمولیت شاخص په سلو کي له ۱۲ څخه ټیټ دی خو په ختیځ زون کي په سلو کي ۴۵ دی. لمړني ښوونځي ته د ماشومانو شاملیدل په ښاري سیمو کي (په سلو کي ۴۳) نسبت کلیوالي سیمو ته( په سلو کي ۲۶) په خپل وخت سره دی. یواځي په سلو کي ۵۵ د لمړني ښوونځي د عمرماشومان د ښاري او کلیوالي سیمو د توپیرونو له مخي ښوونځي ته شامل دي او شاوخوا ۶۸ سلنه د ثانوي دورې د عمرماشومان، ښوونځي ته شامل ندي. د ټولو هغو ماشومانو له ډلي څخه چي لمړی ټولګی پیل کوي نیږدې څلور پر پنځه برخه د هغو ماشومانو چي په لمړي ټولګي کي شامليږي، وروستنی ټولګي ته رسيږي او زیاتره (په سلو کي ۹۳) هغه ماشومان چي د لمړني ښوونځي وروستی ټولګی ئي په بریالیتوب سره بشپړ کړی دی د منځنی دورې لمړنی ټولګي ته شامليږي. د جنسيت تساوي د لمړنی ښوونځي لپاره ۰,۷۴ دی او په لمړنیو ښوونځیو کي د هلکانو او نجونو د توپیر ښکارندوی دی. دا شاخص د ثانوي زده کړو لپاره ۰,۴۹ته د یوې نابرابری او په ځانګړي توګه د سهیل په زون کي د نجونو لپاره په ښکاره ډول رالویږي.

**د ماشومانو څخه ملاتړ**

په افغانستان کي په سلو کي ۶۳ د پنځه کلنی عمر لاندې ماشومانو زیږون ندی ثبت شوی. د ماشومانو کار په اقتصادي او ټولنیزو کارونو کي د ۱۴-۵کلنی ماشومانو په برخي اخیستني سره ډیر رواج لري. د ټولو ۱۴-۲ کلنو ماشومانو څخه په سلو کي ۷۴ لږترلږه د مور یا د څارونکي او یا د کورنی د کوم بل غړي لخوا د یو ډول روحي او یا جسمي تادیب سره مخامخ شوي دي. په افغانستان کي زیاتره (۹۴ سلنه) د ۱۷-۵ کلنی ماشومان د مور او پلارسره یوځای ژوند کوي او شاوخوا په سلو کي ۲ ئي د مور او پلار پرته خپل ژوند پر مخ بیائي.
ارقام ښئي چي په افغانستان کي ژر وختي وادونه په داسي حال کي چي لا تراوسه په عمومي توګه په لوړه کچه کي دي، د کمیدو په حال کي دي. تراوسه هم د ۱۵- ۱۹کلونو د هرو پنځو ښځو څخه یوې یي واده کړی دی. په ټولیزه توګه په سلو کي ۱۵سروې شوي میرمنو د ۱۵کلنی ترعمر دمخه واده کړی دی، په داسي حال کي چي دهغوی په سلو کي ۴۶ د ۱۸ کلنی مخکي واده کړی دی. ژر وختي وادونه د زده کړې له درجي سره ټینګه اړیکه لري: ځوانه نجلی چي زده کړې یي نه وي کړي نظر خپلو سیالانو ته چي منځنی یا له هغي لوړې زده کړې لري، درې ځلي ډیر احتمال لري چي د ۱۸ کلنی عمر دمخه واده وکړي. سروې دا معلومه کړه چي شاوخوا په سلو کيې۷ د ۴۹-۱۵ کلنی ښځی د څو وادونو په ازدواج کی قرار لری.
د افغانستان څو شاخصیزه سروې د میړه او میرمني ترمنځ د عمر توپیر تر پاملرني لاندې نیولي او دا ئي معلومه کړي چي د ۴۹-۱۵ کلونو ښځو ۱۱ سلنه او د ۲۴-۲۰ کلنو ښځو ۱۴ سلنه د هغو سړیو سره وادونه کړي دي چي لږترلږه ۱۰ کاله له دوی څخه مشران دي.

**ایدز**
داسی ګڼل کیږی چی افغانستان داسی یو ډول هیواد دی چی په کی د ایدز خوریدل کم وی او د ایدز د را ولاړیدو خطر زیات دی. سروی دا معلومه کړه چی د ۴۹-۱۵ کلنو د هرو څلورو ښځو څخه (۲۶ سلنه) یوی ښځی د ایدز په هکله څه اوریدلی دی. که څه هم یوازی په سلو کی ۲ د ایدز د لیږد او وقایی په اړه سم او پوره معلومات لری. د ایدز څخه د پوهای او د معلوماتو د کچی په اړه زیات توپیرونه شتون لری. د بیلګی په ډول، تر نیمائی زیات (۵۵ سلنه) ښاری ښځو په سلو کی د ۲۱ کلیوالی ښځو په پرتله د ایدز په هکله اوریدلی دی. د هرو پنځو ښځو څخه (۲۱سلنه) یوه ئی پوهیږی چی د ایدز ویروس کولای شی له مور څخه ماشوم ته انتقال شی . د هغو ښځو سلنه چی د مور څخه ماشوم ته د ایدز د لیږد دری واړه لارو باندی پوهیږی، په سلوکی ۸ دی، په داسی حال کی چی د میرمنو په سلو کی ۴ په ځانګړی لاری هیڅ یوه باندی نپوهیږی.



# ۱

# سریزه

## شالید

دغه راپور د افغانستان په ځو شاخصيزه سروې باندې ولاړ دی چې په ۱۳۸۹-۱۳۹۰ کال کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د احصائيې د مرکزي ادارې لخوا ترسره شوه. نوموړي سروې د افغانستان د ماشومانو او ښځو د وضعیت په هکله ارزښتناکه معلومات برابروي او عمدتاً د وروستيو نړيوالو هوکړه ليکونو لکه د زريزې اعلاميه او د ماشومانو لپاره د يوې مناسبې نړۍ د عمل برنامه چې د ۱۸۹ غړيو هيوادونو په واسطه د ماشومانو په هکله د ملګرو ملتونو په ځانګړي اجلاس کې د ۲۰۰۱ کال د می په میاشت کې تصويب شوه، پر موخو اومقصدونو د څارنې پر اړتيا باندې تکيه لري. دغه دواړه هوکړه ليکونه پر هغو ژمنو ولاړ دي چې د نړيوالې ټولنې په واسطه د ماشومانو په خاطر د ۱۹۹۰کال په نړيوال اجلاس کې ورکړل شوی دی.
حکومتونه د دغو هوکړه ليکونو په لاسليک کولو سره، ژمن شول تر ځو د ما شومانو وضعيت ته ښه وا لی ور وبخښي او موخو ته ئې د رسيدلو په لار کې له پرمختګ څخه څا رنه وکړي. یونیسف ته په دې برخه کې د ملاتړي د نده ور وسپا رل شوه .

### د کړنې لپاره ژمنه
### د ملي او نړيوالې راپور ورکونې مسئوليتونه

هغو حکومتونو چې د زريزې اعلاميه، د ماشوما نو لپاره د يوې مناسبې نړۍ د عمل برنامه او اعلاميه ئې لاسليک کړې ده، همدا ډول ئې د هغې موخو او مقصدونو ته د رسيدو په لار کې له پرمختګ څخه د څارنې لپاره ژمنې کړې دي.
" مونږ په منظم ډ ول په ملي کچه او په هغه ځای کې چې مناسب وي، په سيمه ايزه کچه څارنه کوو او د عمل ددی برنامې موخو او مقصدونو ته د رسيدو په لار کې په ملي، منطقوي او نړيواله کچه، د پرمختګ ارزونه کوو . د هغې مطابق خپل ملي احصائيوي ظرفيت ته لوړوالی ورکوو تر څو د عمر، جنس او نورو په شمول اړوند ارقام چې تو پيرونه ئې رامنځ ته کړي دي او د ماشوم محوره څيړنو د پراخې لړی ملاتړ وکړي، راټول، تحليل او تجزيه کړي. مونږ به د څارنې، ارزونې او پلان جوړونې لپاره د احصائيوي ظرفيتونو او د ټولنې د ظرفيت لوړونې له کوښښونو د ملاتړ په خاطر نړيوالې همکاری ته زياتوالی ورکړو.
"... ( د ماشومانو لپاره يوه مناسبه نړۍ ، پاراګراف ۶۰)
" ... مونږ به په ملي او سيمه ايزه کچه دوره ئي څيړنې ترسره کړو ترڅو شته خنډونو ته په ډيره اغيزناکه توګه رسيدنه وشي او کارونو ته ګړنديتوب ورکړل شي .... " د ماشومانو لپاره يوه مناسبه نړۍ، پارګراف ۶۱)
د عمل برنامه ( پراګراف ۶۱ ) په همدې ډول د د وره ئي راپورونو په برابرولو کې د يونيسف ځانګړی ګډون غواړي. " له يونيسف څخه د لاربنوونکي نړيوال سازمان په توګه غوښتل شوی دی ترڅو د حکومت سره په نيږدې همکاری کې د پروګرامونو او د ملګرو ملتونو د سيستم د اختصاصي نمايندګيو او د عمل د برنامې او اعلاميې د تطبيق په اړه د ترلاسه شوي پرمختګ په هکله د معلوما تو د برابرونې او خپرونې نورو شريکانو اړونده وجوه ته ادامه ورکړي .

په همدې ډول، د زريزې اعلاميه ( پراګراف ۳۱ ) د پرمختګ په اړه د دوره ئي راپور ورکونې غوښتونکي دي . " ... مونږ د عمومي اجلاس څخه دا غوښتنه کوو ترڅو په منظم ډول ددې اعلاميې د مفادو په هکله د حاصل شويو پرمختګونو څخه ارزونه وکړي، د عمومي منشي څخه وغواړي ترڅو دوره ئي راپورونه د عمومي اجلاس د رسيدګی په خاطر د ورپسې کارونو لپاره د بنسټ په توګه، خپاره کړي . "

د افغانستان حکومت د ماشوم د حقونو کانوانسیون په ۱۹۹۴ کال کې تصویب کړي او د ښځو پرخلاف د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کانوانسیون په ۱۹۸۰ کال کې لاسلیک شو خو، په ۲۰۰۳ کال کې تصویب شو. ددې کانوانسیونونو له تصویب څخه موخه د نړیوالو قوانینو پربنسټ او د نړیوالو شویو ژمنو سره په مطابقت کې چې په ټوله نړی کې د ماشومانو او ښځو د وضعیت په هکله شوی دی د ماشومانو او ښځو، د حقوقو تامین دی. د طالبانو د رژیم په وخت کې د سیاسي بې ثباتی پر بنسټ چې د زریزې اعلامیې د خپریدو پرمهال په واک کې وو، افغانستان د زریزې پرمختیائي هدفونه په ۲۰۰۴ کال کې تصویب کړل او د زریزې پرمختیائي موخو ته رسیدل د ۲۰۱۵ کال پرځای تر ۲۰۲۰ کال پورې وغځیدل او همدا ډول نهم هدف یعنې د امنیت تامین د پرمختیا د مخکیني شرط په توګه، د افغانستان لپاره ور زیات کړای شو.
د افغانستان حکومت د نړیوالې ټولنې سره د بشري پرمختیا د شاخصونو د اندازه کونی لپاره د متعددو وسایلو د پراختیا په خاطر کار کړی دی. ددې وسایلو ډیر بشپړ ئی د ۲۰۰۷/۰۸ م کال د ګواښونو او زیان مننی ملي سروې ده. تر اوسه پورې د ګواښونو او زیان منني ملي سروې د افغانستان د احصائیوي معلوماتو ډیره بشپړه سرچنه ده چې د وضعیت په هکله لکه بې وزلې او شتمنی، د کار قوا، روغتیا، د ښځو د وضعیت، ښوونی او روزنی، استوګنی، کرهنی او داسې نورو په اړه د معلوماتو پراخه لړۍ برابروي. د ګواښونو او زیان منني ملي سروې د ارقامو په راټولولو کې یو بنسټیز ګام وه چې د هغو کړنلارو او پرګرامونو سره چې موخه ئې د افغانستان خورا زیات زیان منونکي اتباع وو، مرسته کوله. په داسې حال کې چې د افغنستان څو شاخصیزه سروې، که څه هم په ډیر لږ مقیاس، د ګواښونو او زیان منني له سروې سره د پرتله کیدو وړ او بشپړونکې نوې ارقام برابر کړي او یوه اضافي وسیله ده چې د هیواد د پرمختیائي موخو په اړه په ځانګړې توګه هغه چې ماشومانو او ښځو ته متوجه دې د پرمختګ د ارزونې زمینه برابروي.
د ۲۰۰۴ کال را په دې خوا هیواد په ډیرو لوړو کوښښونو په بیا رغاونې پیل کړې. تر اوسه افغانستان د بشري پرمختیا د شاخصونو په ډیرو برخو کې پر مهمو پرمختګونو برلاسه شوی دی. د اړتیا وو د پوره کولو لپاره دولتې خدمتونه د هیواد په ډیرو ځانګو کې د لمړنیو تعلیماتو د پراختیا نیولې تر روغتیائي خدمتونو ته د لاسرسي پورې، بیا رغول شوی دی. خو لا تراوسه هم بیوزلې د یو زیات شمیر خلکو ځانګړنه ده. د افغانستان د احصائیې مرکزي اداره اټکل کوي چې ۳۶ سلنه وګړي، نیږدې ۱۰ میلیونه تنه په هیواد کې په بې وزلی کې ژوند تیروي. د غذائي مصئونیت نشتوالی یو دوامداره ګواښ دی او لا تراوسه هم زیاتره خلک د بشري مصئونیت لمړنیو نعمتونو ته لکه د څښاک صحي اوبه، حفظ الصحه او استوګنځي ته لاسرسی نلري، ټولنیزې نا برابری زیاتې دې او کومه اقتصادي وده چې د وروستی لسیزې په اوږدو کې ترلاسه شوې ده ، ګواښوي .
روان تاوتریخوالی د بې ثباتی یو بل لامل دی چې په منظم ډول ماشومان او ښځې قرباني کوي او بې وزلې کسان لا زیات زیان منونکې ګرځوي .
څرنګه چې د کړنلارې په کوښښونو کې مخکې ورته یادونه وشوه، د افغانستان حکومت هڅه کوي ترڅو بې وزلې را کمه کړي او د بشري پرمختیا شاخصونو ته لوړوالی ورکړي . پرشواهدو ولاړو د قوي مداخلو د طرحه کولو لپاره چې د افغانستان د خلکو د اړتیاوو ځواب ویونکې وي دقیقو ارقامو ته د لاس رسي لرل د اساسي اهمیت درلودونکې دی. ارقام همدا ډول باید د افغانستان د بشر دوستانه او پرمختیائي مرستو د ونډه لرونکو مرسته ورکوونکو حکومتونو، څو اړخیزه موسسو، نړیوال غیرحکومتي سازمانونو او مدني ټولنې په شمول د کار په اړه معلومات وړاندې کړي. د افغانستان د ماشومانو او ښځو د اساسي حقونو د لوړتیا او ښه والې په خاطر د ژمنو د ترسره کولو لپاره ډیر کارونه نور پاتې دي.
د افغانستان څو شاخصیزه سروې د افغانستان د احصائیې د مرکزي ادارې لخوا د یونیسف په مالي او تخنیکي مرسته ترسره شوه. څو شاخصیزه سروې د ۱۳۴۶۸ کورنیو په غوره کولو سره یوه نمونوې سروې ده چې د هیواد له کچې استازیتوب کوي. سروې په د اسې ډول طرحه شوې وه چې د هیواد په کچه د ښارې او کلیوالې ساحو او د اته ګونو زونونو د هر یوه په کچه (مرکزي زون، مرکزي لوړې سیمې، ختیځ زون، شمال ختیځ زون، سهیل ختیځ زون او لویدیځ زون) د شاخصونو اټکل برابر کړي. په څو شاخصیزه سروې کې د طبقه بندی یوه دوه پړاویزه طرحه تر اجرا لاندې راغله. د کورنیو پوښتنلیکونه، د میرمنو پوښتنلیک او د ماشومانو د پوښتنلیک نمونې د ټولو کورنیو لپاره بشپړې شوې. د سروې د ترسره کولو لاره وروسته په دویم څپرکي کې په تفصیل سره ښودل شوی ده .

د افغانستان د څو شاخصیزه سروې پایلې په لاندې لسو څپرکو کې وړاندې شوی دی : (۱) د کورنیو ځانګړتیاوې (۲) د ماشومانو مړینه (۳) تغذیه (۴) د ماشومانو روغتیا (۵) اوبه او روغتیا ساتنه ( حفظ الصحه)(۶) د امیندواری روغتیا (۷) د ماشوم پرمختیا (۸) لیک لوست او ښوونه او روزنه (۹) له ماشومانو ملاتړ(۱۰) ایډز.

ځېرکي، پايلي يا ارقام د جدول په بڼه ښيئي، د پايلو کليدي برخي ئي برجسته کړی او زياتره ميتودولوژيکي معلومات د ارقامو د زياتي روښانتيا لپاره برابروي. دغه وروستی راپور د شاخصونو پايلي او هغه موضوعات چي په سروې کي تر پوښښ لاندي راغلي دی، ښيئ او د يوې پيچلي سروې د راپور په ځير ده چي يو زيات شمير شاخصونه په ځو غوره برخو کي په بر کي نيسي. د ځو شاخصيزه سروې له راپور ځخه موخه د هغو کليدي پايلو وړاندې کول دي چي د ارقامو له راټولو ځخه ترلاسه شوی دی. سره له دې چي د دې هيله کيږي چي نوموړي ارقام د نورو شريکانو سره ددې موندنو دعواقبو او لاملونو د ښه درک لپاره مرسته وکړي، د پايلو تحليل يا د هغي لامونه ددې راپور له چوکاټ ځخه بهردی .

**د سروې موخي**

د ۱۳۹۰ کال د افغانستان د ځو شاخصيزه سروې لمړنی موخي عبارت دي له :

- په افغانستان کي د ښځو او ماشومانو د وضعيت د ارزوني لپاره د نوي معلوماتو برابرول
- د ښځو او ماشومانو د وضعيت په اړه د معلوماتو برابرول، د زيان منونکو ټوليو د ځانګړنو او توپيرونو په ګډون
- د زريزي د اعلاميي د ټاکل شويو موخو او نورو نړيوالو منل شويو موخو په اړه له پرمختګ ځخه د ځارني په خاطر د اړتيا وړ معلوماتو برابرول
- د کار، طرحو او راتلونکو پروګرامونو لپاره خدمت او کړنلارو او اړونده مداخلو ته د معلوماتو ورکول
- د افغانستان د ځارني له سيستم او ارقامو د ښه والي سره مرسته او د دا ډول سيستمونو د طرحي، تطبيق او تحليل اړوند د تخنيکي تخصص پياوړتيا.



# 2

## د نمونې اخيستنې کړنلاره

## د نموني طرحه

د ځو شاخصيزه سروی نمونه داسې طرحه شوي وه چې د ښځو او ماشومانو د وضعيت په اړه په ملي کچه، ښاري او کليوالي ساحو، اته زونونو: مرکزي، مرکزی لوړې سيمې، شمال، ختيځ، شمال ختيځ، سهيل، سهيل ختيځ او لويديځ په کچه د يو زيات شمير شاخصونو لپاره اټکلونه برابر کړي. د ولايتونو نوم لړ د زونونو په بيلوالي په لاندې ډول وړاندې شوي دي.

| د زون نوم | د ولايت نوم | د زون نوم | د ولايت نوم |
|---|---|---|---|
| *مرکزی* | کابل، وردک<br>کاپيسا، لوګر<br>پروان، پنجشير | *شمال ختيځ* | بغلان، تخار<br>بدخشان، کندز |
| *مرکزي لوړې سيمې* | باميان، دايکندي | *سهيل* | ارزګان، هلمند<br>زابل، نيمروز<br>کندهار |
| *ختيځ* | ننګرهار، کنړ<br>لغمان، نورستان | *سهيل ختيځ* | غزني، پکتيا<br>پکتيکا، خوست |
| *شمال* | سمنګان، سرپل<br>بلخ، جوزجان<br>فارياب | *لويديځ* | غور، هرات<br>بادغيس، فراه |

۱.۲شکل: نقشه د زونونو د نموني ښودونکي



د افغانستان د څو شاخصيزه سروې لپاره يوه دوه پړاويزه طبقه بندي شوي طرحه د استفادې وړ وګرځيده. د شميرنې د ساحو د نمونې اخيستنې لمړنی واحدونه، يعنې برخې او سرحدونه په ښه ډول ټاکل شوي وو، کوم چې د احصائيې د مرکزي اداري په واسطه د هر يوه اداري واحد لپاره د سرشميرنې په خاطر برابرشوی وه. د شميرنې هرې ساحې شاوخوا ۱۸۵ کورنی درلودې چې د نوی نوم لړ د اخيستنې لپاره د منلو وړ يوه ساحه دی چې د افغانستان ټوله ساحه په بر کې نيسي. دغه چوکاټ د کورنيو د نوم لړ اخيستنې او د وګړو د شميرنې پربنسټ جوړ شوی چې د احصائيې مرکزي اداري لا پخوا د سرشميرنې لپاره د تياري په خاطر ترتيب کړي وه. د نمونې د سايز لپاره هغه کليدي شاخص چې د استفا دې وړ وګرځيده د ۲۳-۱۲ مياشتو ښځو واکسين شويو ماشومانو له ميزان څخه عبارت وه. ښاري او کليوالي ساحې د هر زون په دننې کې د نمونې اخيستنې د اساسي طبقې په توګه پيژندل شوی او نمونه په دوو پړاونو کې غوره شوی دی. په هره طبقه کې د نمونې د ساحو ټاکلی شمير په سستماتيک ډول د سايز سره په متناسب احتمال په لمړی پړاو کې غوره شوی، وروسته بيا په غوره شوی د شمار په ساحه کې د کورنيو نوم لړ صورت موندلی او د۳۰ کورنيو يوه سستماتيکه نمونه د شمار د هرې ساحې څخه پر حمل او نقل باندې د لګښتونو، لوجستيک، ساحوي کاراو د اغيزناکه لګښتونو له پلوه د خوشی د سايز په پام کې نيولو سره صورت وموند .

د نمونې پوښښ

۲.۱ جدول د کورنيو، ښځو، نارينه ؤ او تر پنځه کلنی عمر لاندې ماشومانو شمير د کورنی، ښځو، نارينه ؤ او تر پنځه کلنۍ عمر لاندې ماشومانو سره د مرکې د پايلو په بيلوالي او د کورنيو، ښځو، نارينه ؤ او ماشومانو د ځواب ورکونې ميزان ښئي.

۲.۱ جدول: د کورنی، ښځو، نارينه ؤ او تر ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو سره د مرکې پايلې

| د کورنيو، ښځو، نارينه ؤ او تر ۵ کلنی عمر لا ندې ما شومانو شمير د کورنی، نارينه ؤ، ښځو او تر۵ کلنی عمرلا ندې ماشومانو سره د مرکې د پايلو په بيلوالي او د کورنيو، ښځو، نارينه ؤ او ماشو مانو د ځواب ورکونې ميزان | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د اوسيدنې ځای | | | زون | | | | | | | | |
| | ښاري | کليوالي | | مرکزي | مرکزي لوړې سيمې | ختيځ | شمال | شمال ختيځ | سهيل | سهيل ختيځ | لويديځ | ټول |
| **کورنی** | | | | | | | | | | | | |
| نمونه | 3,681 | 9,787 | | 2,763 | 1,203 | 1,591 | 1,949 | 1,831 | 1,352 | 1,314 | 1,465 | 13,468 |
| ليدل شوي | 3,634 | 9,680 | | 2,717 | 1,174 | 1,586 | 1,932 | 1,819 | 1,340 | 1,309 | 1,437 | 13,314 |
| مرکه شوي | 3,545 | 9,571 | | 2,626 | 1,164 | 1,571 | 1,922 | 1,811 | 1,309 | 1,280 | 1,433 | 13,116 |
| د کورنی د ځواب ورکونې ميزان | 97.6 | 98.9 | | 96.7 | 99.1 | 99.1 | 99.5 | 99.6 | 97.7 | 97.8 | 99.7 | 98.5 |
| **ښځې** | | | | | | | | | | | | |
| د شرايطو درلودونکي | 5,962 | 16,091 | | 4,650 | 1,907 | 2,320 | 2,935 | 3,265 | 2,251 | 2,809 | 1,916 | 22,053 |
| مرکه شوي | 5,740 | 15,550 | | 4,423 | 1,781 | 2,276 | 2,904 | 3,222 | 2,228 | 2,597 | 1,859 | 21,290 |
| د ښځو د ځواب ورکونې ميزان | 96.3 | 96.6 | | 95.1 | 93.4 | 98.1 | 98.9 | 98.7 | 99 | 92.5 | 97 | 96.5 |
| د نارينه ؤ د ځواب ورکونې ميزان | 93.9 | 95.5 | | 91.9 | 92.6 | 97.2 | 98.4 | 98.2 | 96.7 | 90.4 | 96.8 | 95.1 |
| **د ۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومان** | | | | | | | | | | | | |
| د شرايطو درلودونکې | 3,633 | 11,694 | | 2,795 | 1,402 | 1,834 | 2,112 | 2,165 | 1,469 | 2,302 | 1,248 | 15,327 |
| **مور/ څارونکی مرکه شوی** | **3,529** | **11,343** | | **2,703** | **1,321** | **1,814** | **2,104** | **2,134** | **1,450** | **2,131** | **1,215** | **14,872** |
| د ۵ کلنی لاندې د ځواب ورکونې ميزان | 97.1 | 97 | | 96.7 | 94.2 | 98.9 | 99.6 | 98.6 | 98.7 | 92.6 | 97.4 | 97 |
| د ۵ کلنی لاندې د ځواب ورکونې ټول ميزان | 94.8 | 95.9 | | 93.5 | 93.4 | 98 | 99.1 | 98.1 | 96.4 | 90.5 | 97.1 | 95.6 |

د نموني لپاره د غوره شويو ۱۳۴۶۸کورنيو څخه ۱۳۳۱۴کورنی ليدل شوي او له دې جملې څخه د۱۳۱۱۶ کورنيو سره د ځواب ورکوني د ۹۸٫۵ سلنې په ميزان په برياليی توګه مرکه وشوه. په مرکه شويو کورنيو کې ۲۲۰۵۳ ښځې ( ۴۹-۱۵ کالنی) پيژندل شوي. د هغوی له منځه د۲۱۲۹۰ ميرمنو سره په برياليی توګه مرکه وشوه چې د ۹۵٫۵ سلنه د ځواب ورکونې ميزان ښئي. سربيره پردې ۱۵۳۲۷ تر ۵ کلنې عمرلاندی ماشومان د کورنی په پو ښتنليک کې فهرست شول او د ۱۴۸۷۲ تنو ماشومانو لپاره پوښتنليک بشپړ شو چې د مرکه شويو ماشومانو په منځ کې د ځواب ورکوني د۹۷سلنې ميزان سره مطابقت لري. د کورنيو او د ۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو لپاره چې مرکه ورسره شوي د ځواب ورکوني د۹۵٫۶سلنې يو ټوليز ميزان محاسبه شوی دی.(۲.۱جدول)

همدارنګه د هرې طبقې په دننې کې د شمير د ساحې يوه احتياطي نمونه (د سايز سره متناسب د نمونې اخيستنې د عين سستماتيک متود څخه په ګټې اخيستنې سره) غوره شوی چې په سختو حالاتو کې چې د اصلي نمونې څخه د ارقامو د راټولولو کار ستونزمن وه، هغه تعويض کړي. په ټوليزه توګه ۱۰۲ نمونې د احتمالي تعويض لپاره غوره شوې. د څو شاخصيزه سروې د ساحوی کار په جريان کې ۴۲۳ د شميرساحې د ۵۱۶ د لمړی شمير ساحو له جملې څخه وشميرل شوي او۲۶ د شميرتعويضي ساحې و شميرل شوې، په د اسې حال کې چې د شمير۶۷ ساحې تعويض شوی. سربيره پردې د څو شاخصيزه سروې د نهائې نمونې د ارقامو په فايل کې ۴۴۹ د شمير ساحې نمونه وي او له دی کبله د نمونې په اغيزناکه سايز کې يو کلي کموالی رامنځ ته شوی دی.

د ۵۱۶ د شمير ساحو له جملې څخه ۶۷ د شمير ساحې د ساحوي کار د جريان په موده کې د امنيت د زيات نشتوالي له امله د لاس رسي وړ نه وي. نمونې د ښاري او کليوالي او زونونو په بيلوالي تقسيمات او طبقه بندي شوي او خپل وزنه ندي. د نمونی اخيستنی پايلی د راپور ورکونې لپاره د زونونو او په ملي کچه د ګټې اخيستنې وړ وګرځيدی. د ټولو هغو جدولونو لپاره چې د مور د زده کړې د درجې شاليده ځانګړتياوې ښئي، زيات تر زيات ۷ مواردە د۱۴۸۷۲مواردو له جملې څخه، د ټولو هغو جدولونو لپاره چې د کورنيو د رئيسانو شاليده ځانګړتياوې ښئي، زيات تر زيات ۱۱مواردە د ۱۳۱۱۶ مواردو څخه معلوم ندي. له دې کبله د زده کړې د درجې مجموع د هغو جدولونو د مجموعي عدد سره چې په کې دغه ځانګړتياوې ښودل شويدي مساوي ندي. يوه فرعي نمونه د وينې د ازمايښت لپاره په ځينو کورنيو کې د وينې د کموالي په خاطر تطبيق شوه. د وينې کموالی د ازمايښت د فرعي نمونې پايلې په ۵م څپرکي کې شاملې دي او د دې توضيح چې نمونه په څه ډول غوره شوي، کولای شي چې د الف په ضميمه کې د نمونې اخيستنې د طرحې د بشپړ توضيحاتو سره بيامومي .

### د پوښتنليک منځپانګه

په سروې کې د پوښتنليک درې سيټونه د استفا دې وړ وګرځيدل.
۱) يو د کورنيو پوښتنليک د کورنيو د معمولو غړيو په هکله د معلوماتو د راټولولو لپاره ( د کورنی د ايمي غړي )، د کورنی په هکله او د استوګنځی په اړه تطبيق شو.
۲)يو د ميرمنو پوښتنليک په ټولو کورنيو کې د ۴۹-۱۵ کلنو ښځو لپاره تطبيق شو.
۳) يو د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو پوښتنليک د ټولو ميندو يا څا رونکو سره د ټولو تر۵ کلنی عمرلاند ي ماشومانو لپاره چې په کورنی کې ئی ژوند کاوه، تطبيق شو.
د کورنی پوښتنليک د لاندې برخو درلودونکی دی:

- د کورنی د نوم لړ فورمه
- ښوونه او روزنه
- اوبه او روغتيا ساتنه (حفظ الصحه)
- د کورنی ځا نګړتياوې
- د ماشومانو کار
- د ماشومانو تاديب
- د لاس پريمينځل
- ايوډين لرونکي مالګه

د ميرمنو پوښتنليک د لاندې برخو درلودونکی دی:

- د ميرمنی شاليد
- د ماشومانو مړينه
- د وروستي ماشوم لپاره هيله مندي
- د مور او نوی زيږيدلی روغتيا
- د ناروغی نښی
- د اميندواری ضد وسايل
- د کورنی تاوتريخوالی پر وړاندی د چلند ډول
- واده کول
- وزن او ونه ( قد[1])
- ايډز

- د ويني کموالی لپاره ازمايښت

تر ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو پوښتنليک په عادي حالت کې د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو له ميندو سره تطبيق شوی ده، په داسي حالت کې چې مور د کورنۍ په نوم لړ کې درج شوي نه وي يو اصلي ځارونکی ځانګړي شوي او ورسره مرکې صورت موندلی دی. دغه پوښتنليک د لاندې موضوعګانو درلودونکی ده :

- عمر
- د زيږيدني ثبت
- د ماشوم پرمختيا د ماشومتوب په لمړيو کې
- د مور له شيدو څخه تغذيه
- له ناروغی څخه ځارنه
- د واکسين تطبيق
- ونه او وزن
- د ويني ازمايښت[۱۴]
-

پوښتنليکونه د۴مې څو شاخصيزه سروې د نمونوي پوښتنليکونو پر بنسټ وي، چې د ۴مې څو شاخصيزه سروې د انګليسی ژبې د نمونوي پوښتنليک له نسخې څخه دري او پښتو ژبو ته ژباړل شوی او د کابل ولايت ( د کابل ښار او د فرزې ولسوالی ) او د پروان ولايت ( د چاريکارو ښار او د بګرام ولسوالی ) کې د ۱۳۸۹ کال د غوائي په مياشت کې د سروې دمخه ازمايښت شوی دی. د ازمايښتي سروې د پايلو پر بنسټ د پوښتنليک په ژباړه او عبارت جوړونه کې بدلونونه رامنځ ته شوي دي.
د سروې د پوښتنليک يو نقل د (F) له ضميمي سره مل دی. د ساحوي کار ټيمونو د پوښتنليکونو پر بشپړولو سربيره د اخلې پخلي لپاره مالګه د استفادې له پلوه د ايوډين د درلودلو په خاطر ازمايښت کړه. د لاسو د پريمينځلو لپاره ئي ځای او د استفادې وړ آسانتياوې وکتلې، تر۵ کلنی عمر لاندې ماشوما نو ونه او وزن ئي اندازه ګيري کړل او تر ۵ کلنی عمر لاندې ما شومانو او د ۴۹-۱۵ کلنی ميندو ويني ئي ازما يښت کړي دي چې د هغې تفصيلات او د اندازه ګيريو پايلې په اړونده برخه کې راپور ورکړل شوی دی .

زده کړه او ساحوي کار

د ساحوي کار لپاره د زده کړې پروګرام د ۲۱ ورځو لپاره د ۱۳۸۹کال د وږې او تلی په مياشتو کې جوړشو. د زده کړې دغه پروګرام کې د مرکې په اړه د متود لکچرونه، د پوښتنليک منځپانګه شامل او سربيره پر هغې د زده کړې د ګډونوالو ترمنځ د پوښتنې کولو د تجربې د ترلاسه کولو لپاره د مرکې تمثيل شامل وه.

۰۱ دا برخه د هيواد لپاره ځانګړي ده.
۰۲ دا برخه د افغانستان لپاره په منل شوي نسخه باندې ور زياته شوي ده.
۰۳ تر۵ کلنی عمرلاندې ماشومان، ۴-۰ کلنی ماشومان او ۵۹-۰ مياشتنی ماشومان په دې راپور کې په مترادف ډول کارول شوي دي.
۰۴ دا برخه د افغانستان لپاره په منل شوي نسخه باندې ور زياته شوي ده.
۰۵ د ۴مې څو شاخصيزه سروې نمونوي پوښتنليک کولای شی په دې نښاني وموندلای شی .
**www.childinfo.org/mics4_questionaire.htm**

د زده کړې د دورې په پای کې ګډونوالو درې ورځې په عملي توګه تمريني مرکې په کابل کې ترسره کړې. له ساحې څخه د ۶۶ ټيمونو په واسطه ارقام راټول شول. هر ټيم د ۶ تنو مرکه کوونکو ( درې ښځې، درې نارينه ) دوه سمونکو ( يو سمونکی/ د ښځو اندازه نيونکې ) او يوه ځارونکي څخه جوړ شوی وه. ساحوي کار د ۱۳۸۹ کال د تلې په مياشت کې پيل او د ۱۳۹۰ کال د غوائي په مياشت کې بشپړ شو.

---

**د ارقامو پراسس**

ارقام د **CSPro** سافټویر په واسطه داخل کړای شول. ارقام په۲۴ کمپیوټرونو کې د ۲۴کمپیوټرکارانو، دوه تنو څارونکو او یوه تن د ارقامو پراسس مدیر په واسطه ثبت شول.
د کیفیت د کنټرول د تامین او ډاډمنتیا په خاطر ټول پوښتنلیکونه دوه ځلي ثبت شول او د دننی یوشان والي چک ترسره شو. معیاري پروګرامونه او طرزالعملونه چې د ۴مې څوشاخصیزه سروې د نړیوال پروګرام لاندې پراختیا ورکړل شوي وه د افغانستان پوښتنلیک سره برابر کړای شول او د ارقامو په پراسس کې د استفادې وړ وګرځیدل. د ارقامو پراسس د ۱۳۹۰ کال د زمري په میاشت کې بشپړشو. ارقام د ټولنیزو علومو لپاره د احصائیوي بستې د ۱۸مې نسخې څخه په استفادې سره ( **Statistical Package for Social Sciences ( SPSS** تحلیل شول، ترکیب او د جدولبندي کړنلاره چې د یونیسف لخوا پراختیا ورکړل شوی وه، د استفا دې وړ وګرځیده.



# 3

# د کورنۍ د وګړو ځانګړتیاوې

## د کورنۍ د وګړو ځانګړتیاوې

۳.۱جدول د کورنیو په هکله اساسي شالیدیز معلومات د وزن شویو او نا وزن شویو په توګه ښئي. د کورنیو په منځ کې، د کورنۍ د رئیس جنس، زون، د استوګنې ځای، د کورنۍ د غړیو شمیر او د کورنۍ د رئیس د زده کړې درجه ښودل شوي ده. دغه ځانګړتیاوې د دې راپور په راتلونکو جدولونو کې د استفادې وړ ګرځېدلی دی. د جدول له ارقامو څخه دا هیله کیږي ترڅو د مشاهداتو شمیر په راپور کې د تحلیل د غوره کټګوریو په بیلوالي وښئي او د ځواب ورکوونکي د ځانګړتیاو په بیلوالي د ارقامو د تفسیر لپاره د اهمیت وړ تفصیلات په اختیار کې ورکړي. په دې راپور کې پاتې نور جدولونه یوازې په وزن شویو ارقامو سره ښودل شوي دي. د زیات تفصیل لپاره د وزن کولو په هکله الف ضمیمې ته مراجعه وکړی. د کورنیو وزن شوي او نا وزن شوي اعداد مساوي دي، ځکه چې د نمونې وزنونه موزون شوي دي (د الف ضمیمه دې وکتل شي ). جدول همدارنګه د هغه کورنیو شمیر ښئي چې لږترلږه د ۱۸ کلنۍ لاندې یوماشوم، یو د ۵ کلنۍ لاندې ماشوم او لږترلږه د ۴۹-۱۵ کلنۍ یوه د شرایطو درلودونکې میرمن لري. جدول همدارنګه د کورنۍ د سایز وزنی اوسط چې له سروې څخه اټکل شوي دي ښودونکي دي.

### ۳.۱ جدول: د کورنۍ جوړښت

| د کورنیو ډیروالی او د سلنې ویش د غوره شویو ځانګړتیاو په بیلوالي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | |
|---|---|---|---|
| | د وزن شویو سلنه | د کورنیو شمیر | |
| | | وزن شوي | نا وزن شوي |
| **د کورنۍ د رئیس جنس** | | | |
| نارینه | 99.1 | 13,003 | 12,977 |
| ښځینه | 0.9 | 113 | 139 |
| **زون** | | | |
| مرکزي | 16.5 | 2,159 | 2,626 |
| مرکزي لوړې سیمې | 3.3 | 432 | 1,164 |
| ختیځ | 11.6 | 1,520 | 1,571 |
| شمال | 14.6 | 1,913 | 1,922 |
| شمال ختیځ | 15.9 | 2,091 | 1,811 |
| سهیل | 12.1 | 1,584 | 1,309 |
| سهیل ختیځ | 9.6 | 1,263 | 1,280 |
| لویدیځ | 16.4 | 2,155 | 1,433 |
| **د استوګنې ځای** | | | |
| ښاري | 18.5 | 2,427 | 3,545 |
| کلیوالي | 81.5 | 10,689 | 9,571 |
| **د کورنۍ د غړیو شمیر** | | | |
| 1 | 0.2 | 20 | 23 |
| 2 | 2.8 | 373 | 343 |
| 3 | 4.6 | 599 | 567 |
| 4 | 8.1 | 1,064 | 1,040 |
| 5 | 10.5 | 1,375 | 1,416 |
| 6 | 12.7 | 1,667 | 1,716 |
| 7 | 12.7 | 1,668 | 1,668 |
| 8 | 12.7 | 1,664 | 1,703 |
| 9 | 10.4 | 1,360 | 1,339 |
| 10 او پورته | 25.4 | 3,326 | 3,301 |
| **د کورنۍ د رئیس د زده کړې درجه** | | | |
| *زده کړه یې نده کړې* | 68 | 8,922 | 8,460 |
| *لمړنۍ* | 11.4 | 1,498 | 1,567 |
| *منځنۍ او پورته* | 20.5 | 2,689 | 3,078 |

| د کورنيو ډيروالی او سلني ويش د غوره شويو ځانګړتياو په بيلوالي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | |
|---|---|---|---|
| | وزن شوي سلنه | د کورنيوشمير | |
| | | وزن شوي | نا وزن شوي |
| **ټول** | 100 | 13,116 | 13,116 |
| کورنی د لرترلره | | | |
| د 0-4 کلنی یوه ماشوم سره | 69 | 13,116 | 13,116 |
| د 0-17 کلنی یوه ماشوم سره | 94.2 | 13,116 | 13,116 |
| د 15-49 کلنی یوه ښځه | 96.3 | 13,116 | 13,116 |
| **د کورنی د سایز اوسط** | 7.8 | 13,116 | 13,116 |

## د وګړو ځانګړتياوې

د سروي د وګړو د جنس او عمر وزن شوی ویش په ۳.۲جدول کې ښودل شوی دی او همدا ډول د وګړو د هرم د برابرولو لپاره په ۳.۱ شکل کې د استفادې وړ ګرځيدلی دی.

### ۳.۲ جدول : د وګړو ويش دعمر او جنس په بيلوالي

| د کورنيو ډيرولي او سلنې ويش د وابسته سني ګروپونو د پنځه کلنی ګروپونو په بيلوالي او د (۱۷-۰پورته کلنو) او بالغ (۱۸ کلنی او جنس) ماشومانو په توپير افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | نارينه | | ښځينه | | ټول | |
| | شمير | سلنه | شمير | سلنه | شمير | سلنه |
| **عمر** | | | | | | |
| 0-4 | 7,972 | 15 | 7,503 | 15.4 | 15,475 | 15.2 |
| 5-4 | 8,928 | 16.8 | 8,267 | 17 | 17,195 | 16.9 |
| 10-14 | 7,500 | 14.1 | 6,899 | 14.2 | 14,399 | 14.2 |
| 15-19 | 6,578 | 12.4 | 5,748 | 11.8 | 12,326 | 12.1 |
| 20-24 | 4,750 | 8.9 | 4,271 | 8.8 | 9,021 | 8.9 |
| 25-29 | 3,589 | 6.8 | 3,673 | 7.6 | 7,262 | 7.1 |
| 30-34 | 2,747 | 5.2 | 2,494 | 5.1 | 5,241 | 5.2 |
| 35-39 | 2,238 | 4.2 | 2,427 | 5 | 4,664 | 4.6 |
| 40-44 | 1,965 | 3.7 | 1,846 | 3.8 | 3,811 | 3.7 |
| 45-49 | 1,562 | 2.9 | 1,474 | 3 | 3,036 | 3 |
| 50-54 | 1,385 | 2.6 | 1,648 | 3.4 | 3,033 | 3 |
| 55-59 | 956 | 1.8 | 788 | 1.6 | 1,743 | 1.7 |
| 60-64 | 1,211 | 2.3 | 688 | 1.4 | 1,899 | 1.9 |
| 65-69 | 554 | 1 | 327 | 0.7 | 881 | 0.9 |
| 70-74 | 662 | 1.2 | 290 | 0.6 | 952 | 0.9 |
| 75-79 | 215 | 0.4 | 92 | 0.2 | 307 | 0.3 |
| 80-84 | 200 | 0.4 | 90 | 0.2 | 290 | 0.3 |
| 85+ | 128 | 0.2 | 47 | 0.1 | 175 | 0.2 |
| 0-14 | 24,400 | 45.9 | 22,668 | 45.9 | 47,069 | 46.3 |
| 15-64 | 26,981 | 50.8 | 25,056 | 50.8 | 52,037 | 51.2 |
| 65+ | 1,759 | 3.3 | 846 | 3.3 | 2,605 | 2.6 |
| **ماشوم او بالغ نفوس** | | | | | | |
| د 0-17 کلن ماشومان | 28,304 | 53.3 | 25,988 | 53.3 | 54,292 | 53.4 |
| بالغ کسان+18 او ترهغې پورته | 24,835 | 46.7 | 22,583 | 46.7 | 47,418 | 46.6 |
| **ټول** | | 100 | | 100 | | 100 |

په ۱۳۱۱۶ کورنیو کې چې په سروې کې ورسره په بریالیتوب مرکې صورت وموند ۱۰۱۷۱۳ د کورنۍ غړي فهرست شول، او له دې جمله څخه ۵۳۱۴۰ ئي نارینه او ۴۸۵۷۳ ئي ښځینه دي.

**۳.۱ شکل: د افغانستان د کورنیو د وګړو د عمر او جنس ویش ۱۳۹۰-۱۳۸۹**




## د ۴۹-۱۵ کلنی ښځینه ځواب ورکوونکو ځانګړتیاوې

۳.۳ او ۳.۴ جدولونه د ۴۹-۱۵ کلنی ښځینه ځواب ورکوونکو د شالیدي ځانګړتیاوو او تر ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو په هکله معلومات برابروي. په هر جدول کې وزن شوي او نا وزن شوي اعداد مساوي دي. ځکه چې وزنونه یوشان (همګون) شوي دي. د ښځو او ماشومانو په هکله د شالیدي ګټورو معلوماتو پر برابرولو برسیره دغه جدول همدا ډول په هره کټګورۍ کې مشاهدات ښئي. دغه کټګورۍ د دې راپور په راتلونکو جدولونو کې لیدل کیږي.

3.3 جدول د ۴۹-۱۵ کلني ښځینه ځواب ورکونکو شالیدي معلومات وړاندي کوي. دغه جدول د ښځینه ځواب ورکونکو په اړه د زون، د استوګنې ځای، عمر، مدني حالت، د مورتوب حالت، په وروستیو دوو کلنو کې زیږون، ښوونه اوروزنهٔ او د شتمنۍ د کوانتیل پر بنسټ د معلوماتو د ویش درلودونکی دی. د معلوماتو څخه په ګټي اخیستني سره د لګښتي توکو د مالکیت د استوګنځي د ځانګړتیاو، اوبو او روغتیا ساتني په هکله او ځنی نورو ځانګړتیاو په اړه چې د کورنۍ په شتمنۍ پوري تړاو لري د اجزاو اساسي تحلیل صورت وموند، ترڅو د کورنۍ هرې شتمنۍ ته وزن (ضریب) وټاکل شي. وروسته بیا د دې وزن او د کورنۍ د شتمنۍ پربنسټ هرې کورنۍ ته د شتمنۍ یو لمبر ورکړل شو، وروسته بیا تر سروې لاندې د کورنیو نفوس د هغو کورنیو د شتمنۍ د لمبر مطابق چې په کې ژوند کوي، درجه بندي شو او په پای کې په پنځو مساوي (کوانتیل) د ډیر ټیټ (ډیر بې وزلی) څخه تر ډیر لوړ (ډیر شتمن) وویشل شول. هغه شتمني چې په دې سنجش کې تر استفادې لاندې راغلي په لاندې ډول دي : د کورنۍ د ځښاک د اوبو سرچینه، د روغتیا ساتني آسانتیاوې، د خوب په هره کوټه کې د کسانو شمیر، د کوټې د چت ډول، د کوټې د غولي ډول، د دیوال ډول، د اخلي پخلي لپاره د سون د توکو ډول، تلویزیون، راډیو او یخچال.

داسې ګڼل کیږي چې د کورنۍ د شتمنۍ په اړه د معلوماتو له لارې د شتمنۍ شاخص، د اوږدې مودې لپاره اساسي شتمني په بر کې نیسي او له هغې څخه موخه د ډیرو شتمنو او د ډیرو بې وزلو په بیلوالي، د کورنیو درجه بندي دي. د شتمنۍ شاخص د مطلقي بې وزلۍ په اړه او د لګښت د کچې نظر عاید ته، معلومات نه برابروي.

## ۳.۳ جدول: د میندو شالیدیزی ځانګړتیاوي

| د ۴۹-۱۵ کلنی میرمنو د ډیروالي او سلني ویش د غوره شویو شالیدیزو ځانګړتیاو په بیلوالي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | |
|---|---|---|---|
| | وزن شوي سلنه | د میرمنو شمیر | |
| | | وزن شوي | نا وزن شوي |
| **زون** | | | |
| مرکزی | 17.4 | 3,696 | 4,423 |
| مرکزي لوړي سیمي | 3.4 | 714 | 1,781 |
| خنیځ | 10.1 | 2,153 | 2,276 |
| شمال | 13.5 | 2,876 | 2,904 |
| شمال ختیځ | 17.6 | 3,752 | 3,222 |
| سهیل | 12.6 | 2,672 | 2,228 |
| سهیل ختیځ | 12.8 | 2,731 | 2,597 |
| لویدیځ | 12.7 | 2,695 | 1,859 |
| **د استوګني ځای** | | | |
| ښاري | 18.9 | 4,031 | 5,740 |
| کلیوالي | 81.1 | 17,259 | 15,550 |
| **عمر** | | | |
| 19-15 | 25.9 | 5,510 | 5,579 |
| 24-20 | 19.3 | 4,110 | 4,139 |
| 29-25 | 16.8 | 3,579 | 3,546 |
| 34-30 | 11.6 | 2,460 | 2,434 |
| 39-35 | 11.2 | 2,389 | 2,420 |
| 44-40 | 8.5 | 1,805 | 1,759 |
| 49-45 | 6.8 | 1,438 | 1,413 |
| **مدني حالت** | | | |
| واده شوي | 69.4 | 14,757 | 14,521 |
| کونډه | 1.5 | 316 | 326 |
| طلاق / جلاشوي | 0.1 | 18 | 21 |
| هیڅکله ئي واده ندی کړی | 29.1 | 6,185 | 6,411 |
| **د مور توب حالت** | | | |
| زیږون ئي کړی | 64.1 | 13,640 | 13,468 |
| هیڅکله ئي زیږون ندی کړی | 35.9 | 7,650 | 7,822 |
| **په وروستیو دوو کلونو کي زیږون** | | | |
| په دوو وروستیو کلونو کي ئي زیږون کړیدی | 22.9 | 4,865 | 4,962 |
| په دوو وروستیو کلونو کي ئي زیږون ندی کړی | 77.1 | 8,775 | 8,506 |
| **ښوونه او روزنه** | | | |
| نالوستی | 81.5 | 17,359 | 16,621 |
| لمرنی | 7.5 | 1,595 | 1,767 |
| ثانوي او ترهغې پورته | 10.9 | 2,330 | 2,899 |
| **د شتمنۍ شاخص کوانتیل** | | | |
| ډیر بي وزلی | 18.7 | 3,989 | 3,513 |
| دویم | 19.5 | 4,14 | 3,869 |
| منځنی | 19.9 | 4,227 | 3,997 |
| څلورم | 20.4 | 4,333 | 4,250 |
| ډیر شتمن | 21.6 | 4,598 | 5,661 |
| **ټول** | 100 | 21,290 | 21,290 |

د دی راپور په ټولو برخو کی ښوونه او روزنه کوم وخت چی د شالیدیز متحول په توګه تری کار اخیستل کیږی د ځواب ور کوونکی د زده کړی د درجی په معنی دی، مګر داچی په بل ډول ښودل شوی وی
.

د ۲۱۲۹۰ د ۴۹-۱۵ کلنی ښځینه ځواب ورکوونکو له جملې څخه ۸۱ سلنه په کلیوالي سیمو کې ژوند کاوه، په داسې حال کې چې ۱۹ سلنه په ښاري ساحو کې ژوند درلود. د سني ګروپونو خورا زیاته برخه په سروې کې د ۴۹-۱۵ د سن کتګوري( ٪۲۶ )وه، او ورپسې د ۲۴-۲۰ کلنی سني ګروپ ( ۱۹٪) قرار درلود. ډیر کوچنی سني ګروپ د ۴۹-۴۵کلنی (۷٪ ) دی . د میرمنو ډیر لوړ نسبت چې ور سره مرکه شوي، واده شوي دي (۶۹٪)، په د اسې حال کې چې په سلو کې۲۹ هیڅکله واده ندی کړی، او په سلو کی له ۲ څخه کمې کونډې او په سلو کې ۰,۱ طلاق یا جلا شوي وې.

د میرمنو ډ یری برخه ( ۶۴٪ ) د خپل عمر په اوږدو کې لږترلږه زیږون کړی دی، په سلو کې ۳۶ د سروې تر وخته هیڅ زیږون نه درلود او په سلو کې ۲۳ په تیرو دوو کلونو کې زیږون درلود. د یادونې وړ ده چې د ښځینه ځواب ورکونکو زیاتره برخه ( په سلو کې ۸۱ ) رسمي زده کړې نه درلود ې، په داسې حال کې چې په سلو کې ۸ لمړنی زده کړې او په سلو کې ۱۱ ثانوي او ترهغې لوړې زده کړې درلودې. دا موضوع د میرمنو په منځ کې په دوامداره توګه د میرمنو په منځ کې د رسمي زده کړو ډیری ټیټې کچې، حتی د طالبانو له رژیم څخه د لسو کلونو تیریدو ته ګوته نیسي . د ۴۹-۱۵ کلنې ځواب ورکونکو میرمنو په سلو کې د ۲۲ په ډیر بډای کوانتیل کې او په سلو کې ۱۹ په ډیر بې وزلی کوانتیل کې څه ناڅه په مساوي توګه د شتمنی په کوانتیلونو کې ویشل شوي دي.

د میرمنو ډیره زیاته نمونه په مرکزي زون کې ( په سلو کې ۱۷ ) او ډیره کوچنی د مرکزی لوړو سیمو په زون کې ( په سلو کې ۳ ) قرار لري. هرکله چې نا وزن شوی رقم له وزن شوي رقم څخه زیات وي، دا ښکاره کوي چې میرمنې په ټولو حوزو کې زیاته نمونه اخیستل شوي ده اوبرعکس، دا په دې معنی ده چې، د مثال په توګه، په مرکزي لوړو سیمو کې له میرمنو د غوره کیدو له لارې ډیره کمه نمونه اخیستل شوی دی، په د اسې حال کې کومې میرمنې چې په لویدیځ زون او کلیوالي سیمو کې ژوند کوي د غوره کیدو له لارې ورڅخه ډیره زیاته نمونه اخیستل شوي ده.

--------------------------------------------------------------------------------------------------------------------

د افغانستان په څو شاخصیزه سروی کی ثانوی زده کړی له هغی څخه لوړو زده کړو سره یو ځای شوی دی. ۷

### د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو ځانګړتیاوې

د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو ځیني شالیدیزی ځانګړتیاوې په ۳.۴جدول کې ښودل شوی دی. دغه د څو ځانګړنو په بیلوالي د ماشومانو ویش لکه : جنس، زون، د استوګنې ځای، عمر د مور یا څارونکې د زده کړې درجه او شتمنی په بر کې نیسي .

### جدول ۳.۴: د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو شالیدیزې ځانګړتیاوې

| د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د ډیروالي ا سلنی ویش د عمر اوغوره شویو ځانګړتیاو په بیلوالي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | |
|---|---|---|---|
| | وزني سلنه | د ۵ کلونو څخه کم عمره ماشومانو شمیر | |
| | | وزن شوي | نا وزن شوي |
| **جنس** | | | |
| نارینه | 51.5 | 7,653 | 7,607 |
| ښځینه | 48.5 | 7,218 | 7,265 |
| **زون** | | | |
| مرکزی | 15 | 2,230 | 2,703 |
| مرکزي لوري سیمي | 3.5 | 517 | 1,321 |
| ختیځ | 11.2 | 1,667 | 1,814 |
| شمال | 14 | 2,087 | 2,104 |
| شمال ختیځ | 16.6 | 2,464 | 2,134 |
| سهیل | 11.9 | 1,774 | 1,450 |
| سهیل ختیځ | 15.5 | 2,308 | 2,131 |
| لوید یځ | 12.3 | 1,825 | 1,215 |
| **د استوګنې ځای** | | | |
| ښاري | 16.1 | 2,398 | 3,529 |
| کلیوالي | 83.9 | 12,474 | 11,343 |
| **عمر** | | | |
| 0- 5 میاشتي | 8.1 | 1,202 | 1,270 |
| 6-11 میاشتي | 7 | 1,042 | 1,100 |
| 12-23 میاشتي | 16.8 | 2,497 | 2,535 |
| 24-35 میاشتي | 21.6 | 3,220 | 3,185 |
| 36-47 میاشتي | 23.1 | 3,438 | 3,379 |
| 48-59 میاشتي | 23.4 | 3,474 | 3,403 |
| **د مور د زده کړې درجه** | | | |
| نا لوستی | 91 | 13,532 | 13,198 |
| لمړنی | 4.7 | 698 | 831 |
| ثانوي او ترهغې لوري | 4.3 | 634 | 839 |
| **د شتمنی شاخص** | | | |
| ډیر بې وزلی | 20.9 | 3,101 | 2,788 |
| د ویم | 21.4 | 3,190 | 2,984 |
| منځنی | 20.3 | 3,015 | 2,882 |
| څلورم | 20.1 | 2,983 | 2,967 |
| ډیرشتمن | 17.4 | 2,583 | 3,251 |
| **ټول** | 100 | 14,872 | 14,872 |

* د مور د زده کړې درجه/څارونکی د مور یا څارونکي د زده کړې په ډیره لوړه درجې باندې اطلاق کیږي

د ۵ کلنی عمر لاندې/ د ټولو ماشومانو(3.4 جدول)، ۵۱ سلنه نارینه او ۴۹ سلنه ښځینه وو. د هغو زیاتره ( په سلو کې ۸۴) په کلیوالي ساحو کې ژوند کاوه. ډیره زیاته برخه هغه ماشومان دي چې عمر ئې د ۵۹-۴۸ میاشتو وه (۲۳٪ )، په داسې حال کې چې د ماشومانو ډیره لږه برخه د ۱۱-۵ میاشتو( ۱۵٪) وو. زیات اکثریت ( په سلو کې ۹۱) د دې ماشومانو میندو هیڅ ډول رسمي تعلیمات نه درلودل، په داسې حال کې چې په سلو کې ۵ د لمړنیو تعلیماتو او په سلو کې ۴ د ثانوي او یا له هغې څخه د لوړو تعلیماتو درلودونکي دي. د شتمنی له پلوه سروې شوي ماشومان د شتمنی د مختلفو کوانتیلونو د کورنیو په منځ کې ۲۱ په سلو کې په ډیر بې وزلې کوانتیل او ۱۷ په سلو کې په ډیر شتمن کوانتیل کې په مساویانه ډول ویشل شوي دي.



# 4

## د ماشومانو مړینه

## سریزه: د ماشومانو مړینه

د یوه کال څخه کم عمره او د پنځه کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړینې کموالی د زریزي پرمختیائي موخو د دوو لوړو هدفونوڅخه دي. د پرمختیائي زریزي موخې په ځانګړي ډول د ۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو د مړینی د دوه پر دري کموالي د ۲۰۲۰-۲۰۱۵ کلونو پوري غوښتنه کوي. د ۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو د مړینې میزان د زیږندنې د پنځمي کالیزي څخه دمخه د احتمالي مړینې څخه عبارت دی.
د دې موخې له پرمختګ څخه ځارنه یو ډیر مهم هدف خو ګواښوونکی دی. د ماشومانو د مړینی اندازه اخیستل یوه ډیره پیچلې عملیه ده. د بیلګې په توګه د نیغ نیغه پوښتنو څخه د استفادې په هکله کوښښ " ایا د تیرکال په موده کې په دې کورنی کې څوک مړ شوی دی ؟ " زیاتره نا سمې پایلې ښائي. د نیغ په نیغه پوښتنو له معیارونو څخه استفاده د زیږیدنو د تاریخچې له لارې ډیر وخت په بر کې نیولی، ډیرستونزمن او د سروې کوونکو د ځارنې او زده کړې لپاره زیاتي پاملرنې ته اړتیا لري. پر ځای ئې غیر مستقیمو کړنلارو ته پراختیا ورکړل شوی ده چې د ماشومانو مړینه اندازه ګیري ګړي، داسې پایلې په لاس راکوي چې د هغو پایلو سره چې د نورو سرچینو څخه لاس ته راځی د پرتله کیدو وړ وي. غیرمستقیمې کړنلارې د هیریدنې، نا دقیقو تعریفونو یا ناوړه انګیرنې او د مرکې د کمزورو تخنیکونو ګواښونه ډیرې ټیټې کچې ته رسوي.

**په افغانستان کې د ماشومانو د مړینې اټکل**

په څو شاخصیزه سروېګانو کې د یوه کال کم او د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړینې میزانونه د اټکلنې پر غیر مستقیمو تخنیکونو چې د [٨] (BRASS) د کړنلارې په نوم پیژندل شوي دي، ولاړ دي. هغه ارقام چې په اټکلنه کې د استفادې وړ ګرځي عبارت دي له : د ژوندي زیږیدلي ماشومانو منځنی شمیر د ۴۹-۱۵ کلنو میرمنو د پنځه کلنی سني ګروپونو لپاره او نسبت د دې ماشومانو چې مړه شوي د میرمنو د پنځه کلنی سني ګروپونو په بیلوالي( جد ول 4.1 ). دا تخنیک په هر سني ګروپ کې د میرمنو د ژوندیو زیږیدلو ماشومانو د مړه شویو نسبت د تقریبي طول په پام کې نیولو له مخی د مړینی تر ګواښ لاندی د ماشوم راتلل او د مړینې د یوه سني بیلګی (الګو) د موډل فرض کول، د مړینې په احتمال بدلوي. د لویدیځ ژوندانه د جدول موډل west modelife tableغوره شو ځکه چې د ملګرو ملتونو د لسمې ګڼې دستورالعمل د سپارښتنو پربنسټ: د دیموګرافیکي اټکلونو غیرمستقیم تخنیکونه، د افغانستان لپاره د ژوندانه ډیر ښه جدول دی.

**جدول ۴.۱: ژوندي زیږیدلي ماشومان، همدا اوس ژوندي ماشومان او د مړه شویو نسبت**

| | ژوندي زیږیدلي ماشومان | | همدا اوس ژوندی ماشومان | | د مړه شویو نسبت | د میرمنو شمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | اوسط | ټول | اوسط | ټول | | |
| **عمر** | | | | | | |
| 15-19 | 0.13 | 716 | 0.121 | 664 | 0.072 | 5,510 |
| 20-24 | 1.194 | 4,905 | 1.094 | 4,496 | 0.083 | 4,110 |
| 25-29 | 3.024 | 10,823 | 2.751 | 9,844 | 0.09 | 3,579 |
| 30-34 | 4.714 | 11,596 | 4.241 | 10,433 | 0.1 | 2,460 |
| 35-39 | 6.128 | 14,636 | 5.44 | 12,993 | 0.112 | 2,389 |
| 40-44 | 6.756 | 12,197 | 5.871 | 10,600 | 0.131 | 1,805 |
| 45-49 | 7.173 | 10,313 | 6.107 | 8,781 | 0.149 | 1,438 |
| **ټول** | 3.062 | 65,187 | 2.715 | 57,810 | 0.113 | 21,290 |

۴.۲ جدول د ماشومانو د مړینې اټکل برابروي. د یوه کال کم عمره ماشومانو مړینه په هرو زرو ژوندیو زیږیدنو کې ۷۴ اټکل شوی دی، په داسې حال کې چې د ۵ کلنی عمرلاندې د مړینې احتمال په هرو زرو زیږیدنو کې د ۱۰۲په شاوخوا کې دی. دغه اټکلونه د مړینو د منځنی اټکل څخه د ۲۹-۲۵ او ۳۴-۳۰ کلنو میرمنو څخه لاس ته راغلي دي.[٩]

## ۴.۲جدول: د ماشومانو مړینه ( اړوند کال ۱۳۸۴ )

| د یوه کال کمو او د ۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو مړینه، د لویدیځ موډل، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | |
|---|---|---|
| | د یوه کال کم ماشومانو د مړینې میزان | د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړینې میزان |
| **جنس** | | |
| نارینه | 78 | 106 |
| ښځینه | 68 | 97 |
| **زون** | | |
| مرکزی | 66 | 90 |
| مرکزي لوړې سیمي | 86 | 122 |
| ختیځ | 50 | 65 |
| شمال | 86 | 122 |
| شمال ختیځ | 71 | 99 |
| سهیل | 54 | 71 |
| سهیل ختیځ | 87 | 124 |
| لوید یځ | 89 | 127 |
| **د استوګنې ځای** | | |
| ښاري | 63 | 85 |
| کلیوالي | 76 | 105 |
| **د مور د زده کړې درجه** | | |
| نا لوستی | 74 | 103 |
| لمړنی | 71 | 98 |
| ثانوي او ترهغه لوړې | 55 | 73 |
| **د شتمنې شا خص** | | |
| ډیر بې وزلي | 75 | 104 |
| دویم | 68 | 94 |
| منځنی | 80 | 112 |
| څلورم | 80 | 113 |
| ډیرشتمن | 62 | 84 |
| **ټول** | 74 | 102 |

۱. شاخص۲.۱څو شاخصیزه سروې، شاخص ۲ .۴د زریزي پرمختیائي موخی، شاخص ۱ .۱څو شاخصیزه سروې، شاخص۱ .۴ د زریزي پرمختیائي موخې

څرنګه چې 4.2 جدول ښودونکی دی، د نارینه ماشومانو د مړینې میزان ۷۸ دی په داسې حال کې چې دغه رقم د ښځینه ماشومانو لپاره ۶۸ دی. د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړینې میزان د نارینه ماشومانو لپاره ۱۰۶ او د ښځینه ماشومانو لپاره ۹۷ دی. د یوه کال کم نارینه ماشومانو د مړینې میزان د ښځینه ماشومانو په نسبت ډیر لوړ دی ځکه چې د بیولوژیکي له پلوه د یوه کاله کم نارینه ماشومان نظر د یوه کاله کم ښځینه ماشومانو ته زیاتره زیان منونکی دی.

د یوه کاله کم ماشومانو د مړینې میزان پراخه توپیرونه د زونو ترمنځ پیدا شوی دی. د لویدیځ زون د یوه کاله کم او د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړینې ډیر لوړ میزان لري ( په ترتیب سره ۱۲۷-۸۹ په هرو زرو ژوندیو زیږیدنو کې ) او د ختیځ زون د یوه کاله کم او د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړینې ډیر ټیټ میزان لري ( په ترتیب سره ۵۰ او ۶۰ په هرو زرو ژوندیو زیږیدنو کې). د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړینې میزان په لویدیځ زون کې دوه ځلې د ختیځ زون څخه لوړ دی، په داسې حال کې چې د یوه کال کم عمره ماشومانو د مړینې ارقام د مرکزي، لوړو سیمو، شمال، ختیځ، سهیل ختیځ، زونونو کې ټول لړترلړه په سلو کې ۲۲ له دې میزان څخه په ختیځ او سهیل ختیځ زونونو کې لوړ دی. د ښاري او کلیوالي توپیرونو له مخې په ښاري ساحو کې د مړینې میزان له کلیوالي ساحو څخه ډیر ټیټ دی.

همدارنګه د مړنې توپیرونه د مور د زده کړې د درجې او د کورنی د شتمنی له پلوه شتون لري. کله چې د زده کړې درجه او شتمنی زیاتوالی مومي په همغه اندازه د یوه کال کم او تر ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړینې کچه هم راټیټیږي، په داسې حال کې چې د یوه کال کم ماشومانو مړینه د ډیرشتمن کوانټیل لپاره ۶۲ دی، دا کچه د ډیر بې وزلی کوانټیل لپاره ۷۵ دی. د نا لوستو میندو د یوه کال کم او ترپنځه کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړینې میزان ۷۴ دی، دا کچه د پام په وړ ډول د هغو میندو لپاره چې ثانوي او یا ترهغې لوړې

زده کړې لري له ( ۵۵) ځخه ټیټه دی. د پنځه کلنی عمرلاندي ماشومانو د مړینې د کچې توپیرونه د غوره شویو شالیدیزه ځانګړتیاوو په بیلوالي په 4.1 شکل کې ښودل شوي دي.

۴.۱ شکل: د ۵ کلنی عمر لاندي ماشومانو د مړینې کچه د شالیدیزه ځانګړتیاوو په بیلوالي، افغانستان ۱۳۸۹-۱۳۹۰



د ۲۰۰۷-۰۸ په څو شاخصيزه سروې کی د يوه کال کم ماشومانو مړينه ۱۱۱ ( هرې زر ژوندی زيږيدنې ) او د۵کلنې ترعمر لاندې ماشومانو د مړينې ميزان ۱۶۱ وه. د ګواښونو او زيان منني ملي سروې د نمونې اخيستنې يوه ورته کړنلاره چې په څو شاخصيزه سروې کې په کار وړل شوی، د ولايت د کچې په استازيتوب ئی د ۲۰۵۷۶ نمونه کورنيو يوه نمونه ئی سروې کړې ده. د څو شاخصيزه سروې په څير، د ګواښونو او زيان منني سروې د ماشومانو د مړينې د برخې لپاره د غير مستقيمې کړنلارې څخه استفاده کړې ده. د افغانستان د څو شاخصيزه سروې پايلې دا ښئي چې د يوه کال کم او تر۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو د مړينې ميزان په کال کې ۱۱٪ او ۱۲٪ دی. 4.3 جدول د ۵ کلنی ترعمرلاندې ماشومانو د مړينې د کچې په بيړه کموالي د آسيا په سهيل کې په ټوليزه توګه او همدارنګه په ځينو هيوادونو کې ښکاره کوي. هيوادونه لکه بنګله ديش، بوتان او هند د دې شاخص له پلوه د ثبات درلودونکې دي او د وګړو د اقتصادي او ټولنيز وضعيت د دوامداره ښه والي شاهد دی.
سره له دې هم د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړينې د کچې بيړنی کموالي د دوو لسيزو په اوږدو کې په کال کې ۶٪ څخه ډير کم وه. افغانستان په تيرو دريو لسيزو کې د تاوتريخوالي کړکيچ تجربه کړی، ټولنيز خدمتونو په زياتره برخو کې تقريباً شتون نه درلود او په وروستيو څو کالونو کې د طالبانو د رژيم وروسته د بشري امنيت څرنګوالی زيات خراب شوی دی. د ماشومانو د واکسين پوښښ ټيټ دی او د ماشومانو د سوء تغذې کچه لوړه ده .

**۴.۳جدول: د آسيا په سهيل کی د يوه کال کم ماشومانو او د ۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو د مړينې د کچې کموالی**

| | د ۵ کلنی لاندي ماشومانو مړينه | | |
|---|---|---|---|
| | 1990 | 2010 | د کالنی کموالی منځنی کچه ( سلنه ) |
| د آسيا سهيل | 120 | 67 | 2.9 |
| بنګله د يش | 143 | 48 | 5.5 |
| بوتان | 139 | 56 | 4.5 |
| هند | 115 | 63 | 3 |

سرچينه Levels and Trends in Child Mortality, Report 2011,
UN Inter-Agency Group for Child Mortality Estimation

د پورتنيو سيمه ايزو مقايسو او په افغانستان کې د وضعيت د ځانګړنو په پام کې نيولوسره، کولای شو دا نتيجه واخلو چې د يوه کال کم ماشومانو او د ۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو د مړينې کچه د افغانستان په څو شاخصيزه سروې کې لږه اټکل شوی دی .
د ماشومانو د مړينې اټکل، په ځانګړي توګه په يوه هيواد کې لکه افغانستان، پيچلی دی. د مړينې ارقام چې د هيڅ يوی واحدې سروې څخه نشی کولای ريښتيني ارزښت ته انعکاس ورکړی، مګر هغه وخت چې د مختلفو سروې ګانو يو لړارقام پيداکړل شي چې د پرتلې وړ وي او د هغې پر بنسټ تصديق شي. لکه څرنګه چې يونيسف مخکې يادونه کړې :
د ماشومانو د مړينې د دقيقو اټکلونو برابرول د ودې په حال کې ډيری هيوادونو لپاره د لوړ کيفيت لرونکو ارقامو د محدوديت له امله، د پام وړ ننګونه تحميلوي. د حياتي وقايعو د بشپړ ثبت سيستم د ماشومانو د مړينې په هکله د ارقامو يوه ترجيح ورکړل شوې سرچينه ده، ځکه چې دا سيستم هغه وخت چې واقعه رامنځته کيږي معلومات راټولوي. ټول وګړي تر خپل پوښښ لاندې راولي، د ودې په حال کې ډيری هيوادونه د حياتي وقايعو د ثبت بشپړ فعال سيستم نلري چې په د قت سره د زيږون او مړينې پيښې ثبت کړي [۱۰]
په دې دليلونو، ګټې اخيستونکو ته مشوره ورکول کيږي تر څو د افغانستان د څو شاخصيزه سروې د ماشومانو د مړينې ارقام په ډير احتياط سره د استفادې وړ وګرځوي [۲]

## په افغانستان کې د ماشومانو په مړينې کې پرمختګ

په افغانستان کې د تاريخې له پلوه مړينې ته کتنه دا ښکاره کوي چې په ۱۹۷۰ کال کې يونيسف د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړينې کچه ۳۱۴ راپور ورکړی، په ۱۹۹۰ کال کې د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړينی کچه د يونيسف لخوا [۱۱] ۲۰۹ اټکل شوی ( د يوه کاله کم ماشومانو د مړينې کچه د ۱۴۰ په اندازه اټکل شوې )، چې د يو په درې څخه زيات کموالی د ۲۰ کلونو په موده کې ښئي. د افغانستان څو شاخصيزه سروې ۱۳۹۰-۱۳۸۹ د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړينې کچه ۱۰۲ اټکل کوي. له دې امله پرمختګ ستونی دی. که څه هم د افغانستان د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو د مړينې کچه د ۱۰ ماشومانو له مخې د زيږون د پنځمې کاليزې دمخه د يوه ماشوم څخه زياته مړينه لا تر اوسه هم په نړۍ کې د ماشومانو د مړينې ډيره لوړه کچه ده.
په افغانستان کې د ماشومانو د مړينې ډيری برخه د مخنيوي وړ دی. د يونيسف په واسطه ترسره شويو څيړنو موندلی دی چې د ساده او د لګښت له پلوه اغيزناکه تخنيکونو د مداخلو له لارې لکه د واکسيناسيون پروګرامونه، د ويتامينونو او منرالونو تطبيق، د کورنۍ ښه ځارنه او د مور شيدې کولای شي د بلوغ ترعمره د ژوندي پاتې کيدو سره مرسته وکړي. پرمختيا او ځينو د دغو پروګرامونو ته لاس رسۍ د دې راپور په راتلونکو څپرکو کې راپور ورکړل شوی دی.



# 5

# تغذیه

## سریزه: تغذیه

د ماشومانو د تغذئي حالت د هغوی د روغتیا د کلي وضعیت ښکارندوی دی. هغه وخت چې ماشومان مناسب خوراکي توکو ته لاسرسی ولري، د پرلپسې ناروغیو تر ګواښ لاندې نه وي او که له هغوی ځیني په ښه توګه څارنه وشي کولای شی چې خپلی بالقوه نمو ته ورسیږي او ښه تغذیه شوی وګڼل شی.
خوارځواکي د نړۍ په کچه د ماشومانو د نیمائي څخه زیاتو مړینو سره اړیکه لري. په خوارځواکی باندې اخته ماشومان ډیر د دې احتمال لري چې د ماشومتوب د معمولو ناحوالو څخه مړه شي اوهغه ئې چې ژوندي پاتې کیږي، زیات احتمال لري چې په تکراري ناروغیو د اخته کیدو او نا ډاډمنې ودې سره مخ شي. یو په څلورو د هغو ماشومانو چې په خوارځواکی پوري اړونده لاملونو له مخې مړه کیږي هغه ماشومان دي چې په منځنی او یاضعیف ډول په خوارځواکی باندې اخته دي او د زیان منني اړوند علایم ئې د ځانه ښکاره کول. د زریزې پرمختیائي موخه داده تر څو هغوی چې له لوږې څخه ځوریږي د ۱۹۹۰ او ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ تر نیمائي پوري راټیټ کړي. د خوارځواکی د خوریدو کموالی همدا ډول د ماشومانو د مړینې له کموالي سره مرسته کوي.
په یوه ښه تغذیه شوي ټولي کې د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو لپاره د وزن او ونې د ویش یو ریفرنس شتون لري. په یوه ټولي کې په خوارځواکی باندې اخته ماشومان کیدلای شي د پرتلې له مخې د ریفرنس له یوه ټولي سره اندازه ګیري شي. د ریفرنس ټولی چې په دې راپور کې د استفادې وړ ګرځیدلی دی د نړیوال روغتیائي سازمان [12] د نمو پر نوي معیارونو باندې ولاړ دی. د تغذئي د وضعیت د دریو شاخصونو څخه هر یو کیدلای شي د معیاري انحراف ( z-score ) په واحدونو د ریفرنس د ټولي له میدیان څخه بیان شي.
وزن نظر عمر ته د حادې او مزمنې خوارځواکی یو معیار دی. هغه ماشومان چې د هغوی وزن نظر د هغوی عمر ته د ریفرنس ټولي د میدیان څخه له ډیرو ټیټو معیاري انحرافونو څخه زیات وي په منځنی یا سخت ډول کم وزن ګڼل کیږي، په داسې حال کې چې هغه ماشومان چې د هغوی وزن نظر عمر ته د ریفرنس ټولی د میدیان څخه له ۳ ډیرو ټیټو معیاري انحرافونو څخه زیات وي، د ډیر سخت کم وزن په څیر تصنیف کیږي.
ونه نظر عمر ته د خطی ودې یو معیاردی. هغه ماشومان چې د هغوی وزن نظر د هغوی عمرته د ریفرنس ټولی د میدیان څخه له ۲ ډیرو ټیټو معیاري انحرافونو څخه زیات وي ونه ئې نظر عمر ته ټیټه ښکاري او په منځنی او یا سخت ډول په خوارځواکی باندې اخته تصنیف کیږي. هغه ماشومان چې ونه ئې نظر عمر ته د ریفرنس ټولی د میدیان څخه له ۳ ډیرو ټیټو معیاري انحرافونو څخه زیات وي په مزمنه خوارځواکی باندې په سخته توګه د اخته په څیر تصنیف کیږي. مزمنه خوارځواکي په یوه اوږده دوره کې د مناسبې غذا د نه ترلاسه کولو، پرلپسی ناروغیو او مزمنو ناحوالو له امله د دوامدارې خوارځواکی انعکاس دی .

په پای کې هغه ماشومان چې وزن ئې نظر ونې ته د ریفرنس ټولی له مید یان څخه له ۲ ډیرو ټیټو انحرافي معیارونو څخه زیات وي پرحادې، منځنی او یا منځنی خوارځواکی باندې د اخته په څیر تصنیف کیږي، په داسې حال کې هغه ماشومان چې د ریفرنس د ټولی د میدیان څخه د ۳ ډیرو ټیټو انحرافي معیارونو په اندازه کې راغلي وي په حاده خوارځواکی باندې په سخته توګه د اخته په څیر تصنیف کیږي. حاده خوارځواکي معمولاً د پرلپسي تغذئي د کموالي پایله ده. دغه شاخص کولای شي د پام وړ موسمي تغییرات چې خوراک ته د لاس رسي او یا د ناروغیو د خوریدو له تغییراتو سره یوځای دي، وښئي.
د افغانستان په څو شاخصیزه سروې کې د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو وزن او ونه د وزن او ونې د اندازه کولو له هغو وسایلو څخه په استفادې سره چې د یونیسف [13] لخوا سپارښتنه شوې وو، اندازه کړای شول. د دې برخې موندنې د دې اندازه ګیری پر پایلو ولاړې دي.

### د تغذئي حالت

په افغانستان کی د ونی او وزن د اندازه کونی پر بنسټ له ساحی څخه د ارقامو د راټولولو په جریان کی د تغذئی د دریو شاخصونو د خوریدنی اټکلونه له کم وزنی ۲۵ سلنه، مزمنی خوارځواکی ۵۲ سلنه او حادی خوارځواکی ۱۴ سلنی څخه عبارت دی.
په نیویارک کی د یونیسف د تغذئی متخصصینو او د امریکا د متحده ایالاتو د ناروغیو د کنترول د مرکز په واسطه د ونی او وزن او د تغذئی د دریو شاخصونو هر اړخیزی بیا کتنی د ارقامو د کیفیت په اړه پوښتنی رامنځته کړی. د تحلیل په جریان کی د زیږیدنی د نیمګړی نیټی لرونکی ماشومان(میاشت او کال) او هغه ماشومان چی اندازه نیونه ئی د منلو وړ محدودی څخه بهر وه، له اټکل څخه وایستل شول. هغه ماشومان چی وزن او ونه ئی اندازه شوی نه وه د ونی او وزن د یوه او یا له یوه څخه د زیاتو شاخصونو له تحلیل څخه وایستل شول. هرکله چی یو ماشوم تلل شوی وه خو ونه ئی اندازه شوی نه وه، دغه ماشوم د کم وزنی په شاخص کی شامل شوی، خو د مزمنی او حادی خوارځواکی په شاخصونو کی ندی شامل شوی. پراختیا او لاملونه ئی د ارقامو د کیفیت په جدولونو کی ښودل شوی( د د ضمیمی د د۶ او د۷ جدولونه دی وکتل شی)
د متخصصینو د بیا کتنی د موندنو پر بنسټ دی پایلی ته رسیږو چی په داسی حال کی چی ارقام د پنځه کلنی عمر لاندی ماشومانو کی د خوارځواکی د ستونزی د پیاوړو نښو نښانو ښودونکی دی، د دی امکان شته چی د پایلو اټکل لوړ وی. لدی کبله سپارښتنه کیږی چی د افغانستان د څو شاخصیزه سروی د وزن او ونی ارقام په احتیاط سره د استفادی وړ وګرځی او د پالیسیو او پلانونو د موخو د ټاکلو لپاره د تصمیم نیونی په خاطر د یواځنی شاهد په توګه تری استفاده و نشی.

---

۱۲WHO Child Growth Standards,WHO (2007).http://www.who.int/childgrowth/standards/second_set/technical_report_2.pdf
۱۳ولیدل شی. www.childinfo.org.

| دویم | 11.2 | 4.4 | 15.6 | 1.7 | 1,024 | 28.6 | 773 |
| منځنۍ | 10.1 | 5.1 | 15.2 | 1.6 | 1,092 | 24.5 | 783 |
| څلورم | 9.5 | 3.6 | 13.2 | 1.1 | 1,147 | 21.4 | 882 |
| ډیر شتمن | 6 | 3.3 | 9.3 | 0.4 | 1,296 | 19.4 | 949 |
| **ټول** | 9.7 | 4.2 | 13.9 | 1.6 | 5,510 | 25.6 | 4,110 |

[۱] د څو شاصیزه سروې ۵.۲ شاخص

څرنګه چې په ۸.۱ جدول کې ښودل شوي دي، په سلو کې ۱۰ د ۱۵ تر ۱۹ کالنی میرمنو مخکې یو زیږون درلودی، ۴ په سلو کې په لمړی ماشوم باندې امیندواره وې، ۱۴په سلو کې زاد او ولد پیل کړی او نیږدې په سلو کې ۲ تر۱۵کالنی وړاندې یو ژوندی زیږون درلود. د هرو څلورو د ۲۰ کالنی میرمنو یوې ئې ۱۸کالنی عمر ته د رسیدو دمخه یو ژوندی زیږون درلود. په مقابل کې په کلیوالي ساحو کې په سلو کې ۱۱د ۱۵ تر۱۹ کالنی میرمنو یو ژوندی زیږون درلود. په سلو کې ۲۷ د ۲۰ تر۲۴ کالنی میرمنو ۱۸کالنی عمر ته تر رسیدو دمخه یو ژوندی زیږون درلود. لویدیځ زون د ژر وختي زاد او ولد په سلو کې د ۴۵ په کچه ډیر لوړ میزان درلوده، وروسې د سهیل زون (۳۳ سلنه ) او د مرکزي لوړو سیمو زون ( ۳۱ سلنه ) قرارلري. په لویدیځ زون کې د ۱۵ تر۱۹کالنی میرمنې نیږدې درې ځلې زیاتره ( ۱۷سلنه ) احتمال لري چې په مرکزي زون کې نظر خپلو سیالانو ته( ۶ سلنه ) یو ژوندی زیږون ولري.

د ژر وختي زاد او ولد او د میرمنې د زده کړې درجې تر منځ ته کیدلای شی قوی اړیکه وویل شي. هرکله چې د زده کړې درجه او د شتمنی شاخص کوانتیل زیاتوالی مومې، د میرمنو کم شمیر د ۱۵کالني او ۱۸کالنی عمر دمخه زیږون کوي. د ۱۵ تر۱۹کالنی میرمنو شمیر چې زده کړه ئې ندې کړې او یو ژوندی زیږون درلود په سلو کې ۱۳ ته لوړیږي، په داسې حال کې چې په سلو کې ۳ د ۱۵ تر ۱۹ کالنی میرمنې چې ثانوي او یا ترهغې لوړې زده کړې ئې درلودې یو ماشوم ئې زیږیدلی دی. د ۲۰ تر۲۴کالنی میرمنو له ډلې څخه ۲۹ په سلو کې تر۱۸کالنی وړاندې یوماشوم درلودلی، په داسې حال کې چې په سلو کې ۸ د منځنیو او ترهغې لوړو زده کړو درلودونکو میرمنو تر ۱۸کالنی عمر وړاندې یو ماشوم درلودلی دی. د ۲۰ تر۲۴ کالنی ښځې چې په ډیرو شتمنو کورنیو کې ژوند کوي ( ۱۹ سلنه ) د خپلو سیالانو په پرتله په ډیرو بې وزلو کورنیو کې ( ۳۷ سلنه ) ډیر کم احتمال لري چې تر ۱۸ کالنی دمخه یو ژوندی زیږون ولري.

## ۸.۲ جدول: د ژر وختي زیږون میلانونه

| د هغو میرمنو سلنه چې د ۱۵- ۱۸کلنی پوری نی بو ژوندی زیږون درلوده د ښځینه د استوګنی خای او د عمر د ټولی په بیلوالی، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټول | | | | کلیوالي | | | | ښاري | | | | |
| د ۲۴-۲۰ کالنو میرمنو سلنه | د هغو میرمنوسلنه چې مخکې د18 کالنی څخه ئي ژوندی زیږون درلوده | د ۱۵-۹ کالنی میرمنو شمیر | د هغومیرمنو سلنه چې مخکې تر۱۵کلنی عمرڅخه ئي ژوندی زیږون درلود | د ۲۴-۲۰ کالنو میرمنوسلنه | هغومیرمنو سلنه چې د۱۸ کالنی دمخه ئي ژوندی زیږون درلوده | د ۱۵-۹ کالنی میرمنو شمیر | د هغو میرمنو سلنه چې تر۱۵کلنی عمر دمخه ئي ژوندی زیږون درلود | د ۲۴-۲۰ کالنو میرمنو سلنه | د هغو میرمنو سلنه چې د۱۸ کالنی دمخه ئي ژوندی زیږون درلوده | د ۹- ۱۵ کالنی میرمنو شمیر | د هغو میرمنو سلنه چې مخکې تر۱۵کلنی عمر څخه ئي ژوندی زیږون درلود | عمر |
| n/a | n/a | 5,510 | 1.6 | n/a | n/a | 4,439 | 1.9 | n/a | n/a | 1,071 | 0.2 | 19-15 |
| 4,110 | 25.6 | 4,110 | 6.7 | 3,313 | 27.4 | 3,313 | 7.2 | 797 | 18.4 | 797 | 4.7 | 24-20 |
| 3,579 | 30.4 | 3,579 | 8.7 | 2,920 | 30.7 | 2,920 | 8.7 | 658 | 29 | 658 | 8.8 | 29-25 |
| 2,460 | 37.8 | 2,460 | 11.9 | 2,020 | 37.9 | 2,020 | 12.1 | 440 | 37.6 | 440 | 10.9 | 34-30 |
| 2,389 | 31 | 2,389 | 6.3 | 1,918 | 30.3 | 1,918 | 6 | 471 | 34.2 | 471 | 7.3 | 39-35 |
| 1,805 | 23.3 | 1,805 | 6.2 | 1,474 | 23.2 | 1,474 | 5.7 | 332 | 23.9 | 332 | 8.2 | 44-40 |
| 1,438 | 19.6 | 1,438 | 5.9 | 1,175 | 18 | 1,175 | 5.3 | 263 | 26.4 | 263 | 8.9 | 49-45 |
| 15,780 | 28.6 | 21,290 | 6.2 | 12,820 | 28.9 | 17,259 | 6.3 | 2,960 | 27.5 | 4,031 | 5.7 | ټول |

۸.۲ جدول د مختلفو سني ګروپونو ترمنځ زاد او ولد ښئي. په ټوليزه توګه په سلو کې ۶د ۱۵ تر۴۹ کالنی ښځي تر ۱۵کالنی دمخه او په سلو کې ۱۹ تر ۱۸ کالنی دمخه يو ماشوم درلودلی دی. د ۱۵تر۱۹کالنی میرمنو د سروې پرمهال تر ۱۵کالنۍ دمخه د یوه ماشوم د درلودلو ډیرکم احتمال درلود ( ۲ سلنه ). دغه کچه د عمر سره جوخت زياتوالی مومي او ډير لوړ حد د ۳۴-۳۰ کالنی میرمنو لپاره ( ۱۲ سلنه ) ته رسيږي او وروسته بيا را لويږي. دغه رالويدنه کيدای شي د اشتباه او يا د هيريدني له امله وي. يوه ورته بيلګه د هغو ميرمنو لپاره چې تر ۱۸کالنی عمر دمخه ئې يو زيږون کړی دی ليدل شوی دی. دغه کچه د ۲۰تر۲۴ کالنی ميرمنو لپاره ۲۶ سلنه د ۳۴-۳۰ کالنی میرمنو لپاره په سلو کې ۳۸ ته زياتوالی مومي او وروسته بيا رالويږي. ځني توپيرونه د زاد او ولد په ميلان کې د ښاري او کليوالي ساحو په منځ کې په ټولو سني ګروپونو کې د هغو ميرمنو په سلنه کې چې تر۱۵ کلنی عمر دمخه ئې يوماشوم درلود موندل شوی دی. د هغو ميرمنو په منځ کې چې تر۱۸ کالنی وړاندې ئې يو ماشوم دنيا ته راوړی دی: ځني توپيرونه د ۲۰تر۲۴کالنی ميرمنولپاره په ښاري ساحو کې ( ۱۸ سلنه) د کليوالي ساحو د ميرمنو په پرتله ( ۲۷ سلنه ) او همدارنګه د ۴۵ تر۴۹ کالنی میرمنو په منځ کې په ښاري ساحو کې (۲۶٪) د کليوالي ښځو په پرتله (۱۸٪ ) په همغه ګروپ کې شتون لري. د پام وړ کوم توپير د سني ګروپونو ترمنځ د استوګني د ځای له پلوه ندی موندل شوی.

## د اميندوارى ضد وسايل

د کورنۍ مناسبه پلانګذاري د ښځو او ماشومانو د روغتيا لپاره د لاندی لارو د اهميت وړ دي :

1) د ډيرو ژر وختي او ډير ناوخته اميندواريو څخه مخنيوی کوي
2) د زيږونونو ترمنځ واټن ته پراختيا ورکوي ( د زيږونونو ترمنځ د واټن رامنځته کول )
۳) د ماشومانو شمير راکموي. ژر وختي دی، په ډيرو نيږدې واټنونو سره دي ، ناوخته دي او يا ډير زيات دي، داساسي اهميت وړدي

## د ۴۹-۱۵کالنی واده شویو میرمنو سلنه چې پخپله یا میره ئې له امیندواری ضد طریقو د یوی څخه استفاده کوي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹

| | د هیڅ یوې طریقې څخه استفاده نه کوي | د فعلاً واده شویو میرمنو سلنه چې د لاندنیو طریقو استفاده کوي : د میرمې شنډول | د نارینه شنډول | د رحم دننې وسیله | زرق ( ستنه) | کېنودل | ګولی | پوښ د نارینه و لپاره | پوښ د ښځینه و لپاره | عشا /د پردې کېنودل فوم، جیلي | د شیدو ورکولو د مقاومت طریقه | دوره ئي پرهیز | عزل | نور | ټول عصري طریقې | ټولې دودیزې طریقې[1] | ټولې طریقې | د فعلاً واده شویو میرمنو شمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **زون** | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| مرکزي | 65.3 | 0.7 | 0.3 | 3.6 | 11.2 | 0.3 | 9 | 2.7 | 0.8 | 0.2 | 2.5 | 1.1 | 2 | 0.3 | 28.9 | 5.9 | 34.7 | 2,250 |
| مرکزي لوړې سیمې | 84 | 0 | 0 | 0.6 | 10.1 | 0.2 | 4.1 | 0.9 | 0.1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 16 | 0 | 16 | 504 |
| ختیځ | 83.5 | 0.3 | 0 | 0.3 | 9.9 | 0 | 3.3 | 0.7 | 0.1 | 0 | 1.2 | 0.5 | 0.1 | 0 | 14.7 | 1.8 | 16.5 | 1,583 |
| شمال | 86.2 | 0.1 | 0 | 0.3 | 7.8 | 0 | 4.2 | 0.9 | 0 | 0 | 0.2 | 0.2 | 0 | 0 | 13.4 | 0.5 | 13.8 | 2,001 |
| شمال ختیځ | 87.1 | 0.3 | 0 | 0.5 | 4 | 0.1 | 5.3 | 1.2 | 0.1 | 0 | 0.9 | 0.2 | 0.2 | 0.1 | 11.5 | 1.4 | 12.9 | 2,459 |
| سهیل | 67.5 | 0.7 | 1 | 0.9 | 20.4 | 0.5 | 7.5 | 0.8 | 0 | 0 | 0.4 | 0.1 | 0.2 | 0.1 | 31.7 | 0.8 | 32.5 | 1,800 |
| سهیل ختیځ | 82.2 | 1.5 | 0.2 | 2.1 | 7.5 | 0.1 | 3.9 | 0.9 | 0.1 | 0.2 | 0 | 0.8 | 0.4 | 0.1 | 16.5 | 1.3 | 17.8 | 2,117 |
| لویدیځ | 77.8 | 0.6 | 0.1 | 0.7 | 8.5 | 4.5 | 5.4 | 1.6 | 0 | 0.1 | 0.1 | 0.1 | 0.4 | 0 | 21.6 | 0.6 | 22.2 | 2,043 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ښاري | 62 | 1.1 | 0.3 | 2.9 | 12 | 1.7 | 10.4 | 3.8 | 0.6 | 0.3 | 1.7 | 1.1 | 1.7 | 0.3 | 33.2 | 4.8 | 38 | 2,503 |
| کلیوالي | 82.2 | 0.5 | 0.2 | 0.9 | 9.1 | 0.6 | 4.5 | 0.8 | 0.1 | 0 | 0.6 | 0.3 | 0.2 | 0 | 16.7 | 1.1 | 17.8 | 12,254 |
| **عمر** | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| 19-15 | 92.9 | 0.2 | 0 | 0.1 | 2.5 | 0.2 | 2.6 | 0.4 | 0 | 0 | 0.6 | 0.1 | 0.4 | 0 | 6 | 1.1 | 7.1 | 1,088 |
| 24-20 | 85.5 | 0.2 | 0.4 | 0.8 | 5.5 | 0.9 | 3.9 | 1.2 | 0.1 | 0.1 | 0.9 | 0.3 | 0.4 | 0 | 12.8 | 1.7 | 14.5 | 2,755 |
| 29-25 | 81.4 | 0.2 | 0.2 | 1.3 | 7.6 | 0.7 | 5.1 | 1.4 | 0.1 | 0.1 | 1.2 | 0.2 | 0.5 | 0.1 | 16.7 | 1.9 | 18.6 | 3,235 |
| 34-30 | 75.9 | 0.3 | 0.1 | 1.4 | 10.7 | 0.7 | 6.7 | 2.3 | 0.2 | 0.2 | 0.6 | 0.4 | 0.5 | 0 | 22.6 | 1.5 | 24.1 | 2,347 |
| 39-35 | 70.4 | 1 | 0.4 | 1.6 | 14.7 | 0.8 | 7.7 | 1.1 | 0.4 | 0.1 | 0.7 | 0.6 | 0.4 | 0.1 | 27.8 | 1.8 | 29.6 | 2,325 |
| 44-40 | 70.5 | 1.7 | 0.1 | 1.5 | 14.8 | 0.9 | 7.1 | 0.8 | 0.1 | 0.1 | 0.7 | 1 | 0.7 | 0 | 27.1 | 2.4 | 29.5 | 1,701 |
| 49-45 | 77.1 | 1.3 | 0.1 | 1.6 | 11.3 | 1 | 4.4 | 1 | 0.3 | 0.1 | 0.2 | 0.4 | 0.6 | 0.4 | 21.3 | 1.6 | 22.9 | 1,306 |
| **د ماشومانو شمیر** | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| 0 | 98.7 | 0.2 | 0 | 0.1 | 0.4 | 0 | 0.2 | 0.1 | 0 | 0 | 0.2 | 0.1 | 0.1 | 0 | 1 | 0.3 | 1.3 | 1,522 |
| 1 | 89.1 | 0.3 | 0.2 | 0.5 | 3.2 | 0.5 | 3.3 | 1.5 | 0 | 0.1 | 0.9 | 0.1 | 0.3 | 0 | 9.5 | 1.4 | 10.9 | 1,738 |
| 2 | 84.2 | 0.2 | 0.4 | 0.8 | 6.1 | 0.7 | 4.8 | 0.8 | 0 | 0.2 | 0.9 | 0.4 | 0.5 | 0.1 | 13.9 | 1.9 | 15.8 | 2,023 |
| 3 | 79.1 | 0.3 | 0.3 | 2 | 8.3 | 1 | 5.7 | 1.6 | 0 | 0 | 1 | 0.3 | 0.3 | 0.1 | 19.2 | 1.7 | 20.9 | 2,010 |
| 4 ترهغي زيات | 70.7 | 0.9 | 0.2 | 1.6 | 14.3 | 0.9 | 7.3 | 1.5 | 0.3 | 0.1 | 0.8 | 0.6 | 0.6 | 0.1 | 27.2 | 2.1 | 29.3 | 7,463 |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | **د زده کړې درجه** |
| 13,244 | 19.9 | 1.5 | 18.4 | 0.1 | 0.4 | 0.3 | 0.7 | 0.1 | 0.1 | 1 | 5 | 0.7 | 9.8 | 1 | 0.2 | 0.6 | 80.1 | نا لوستی |
| 714 | 27.2 | 2.7 | 24.5 | 0 | 0.9 | 0.7 | 1.1 | 0 | 0.6 | 3.3 | 9 | 1.6 | 7.5 | 2.2 | 0.1 | 0.1 | 72.8 | لمړنی |
| 793 | 37.7 | 4.7 | 33 | 0.2 | 1.9 | 1.7 | 0.8 | 0.5 | 0.7 | 4.9 | 11.7 | 1 | 8.7 | 4.1 | 0.6 | 0.9 | 62.3 | ثا نوي او ترهغې لوړی |
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | **د شتمنی شاخص کوانټیل** |
| 3,001 | 15.2 | 1.1 | 14.2 | 0 | 0.2 | 0.2 | 0.6 | 0 | 0 | 0.3 | 3.9 | 0.3 | 8.9 | 0.3 | 0.2 | 0.3 | 84.8 | ډیر بې وزلي |
| 3,000 | 13.6 | 1.2 | 12.4 | 0.1 | 0.2 | 0.3 | 0.6 | 0 | 0.1 | 0.5 | 3.7 | 0.5 | 6.3 | 0.7 | 0.1 | 0.5 | 86.4 | دویم |
| 2,993 | 18.6 | 1.1 | 17.5 | 0 | 0.1 | 0.4 | 0.6 | 0 | 0.1 | 0.9 | 4.6 | 0.4 | 10.1 | 1 | 0.1 | 0.2 | 81.4 | منځنی |
| 2,949 | 22.6 | 1.6 | 21 | 0 | 0.5 | 0.2 | 0.8 | 0.1 | 0.2 | 1.1 | 6.1 | 0.8 | 10.5 | 1.2 | 0.1 | 0.8 | 77.4 | څلورم |
| 2,813 | 37.2 | 3.9 | 33.3 | 0.3 | 1.5 | 1 | 1.2 | 0.3 | 0.5 | 3.7 | 9.6 | 1.9 | 12.4 | 3.1 | 0.6 | 1.2 | 62.8 | ډیر شتمن |
| 14,757 | 21.2 | 1.8 | 19.5 | 0.1 | 0.5 | 0.4 | 0.8 | 0.1 | 0.2 | 1.3 | 5.5 | 0.8 | 9.6 | 1.2 | 0.2 | 0.6 | 78.8 | **ټول** |

**[1] د څو شاخصیزه سروې ۵.۳ شاخص ، د زریزې پرمختیا ئي موخې ۵.۳ شاخص**

د امیندواری ضد له طریقو څخه جاریه استفاده کول په سلو کې د ۲۱ واده شویو میرمنو لخوا راپور ورکړل شوی دی ( ۸.۳ جدول ). ډیره دودیزه طریقه د زرقي ( ستني ) شکل دی چې د هرو لسو واده شویو میرمنو څخه یوه میرمن له هغې څخه ګټه اخلي. ډیره دودیزه ورپسې طریقه له ګولی څخه استفاده کول دي چې په سلو کې د ۶ میرمنو لخوا ترې ګټه اخیستل کیږي.

د امیندواری ضد له طریقو څخه استفاده کول په مرکزي زون کې په ډیره لوړه کچه ۳۵سلنه او په شمال ختیځ زون کې په سلو کې د ۱۳ په ډیره ټیټه کچه کې دی. د امیندواری له ضد طریقو څخه د استفادې ډیره لوړه خوریدنه د ۴۴-۳۵ کالنی واده شویو میرمنو ترمنځ ( په سلو کې شاوخوا ۳۰ ) د ۱۵ تر۱۹ کالنی واده شویو میرمنو د ۷ سلنې په پرتله دي. زیاتره میرمنې چې راپور ئې ور کړی دی د امیندواری له ضد وسایلو څخه استفاده کوي، د عصري طریقو څنې ( ۹۹ سلنه ) د دودیزه طریقو په مقابل کې استفاده کوي. د میرمنو د زده کړې درجه د امیندواری له ضد وسایلو د خوریدنې سره ټینګه اړیکه لري. د هغو میرمنوسلنه چې د امیندواری له هر ډول طریقې څخه ګټه اخلي نیږدې په سلو کې ۲۰ د هغو میرمنو ترمنځ چې زده کړې ئې ندي کړي، ۲۷٪ د هغو میرمنو ترمنځ چې د لمرنی درجې زده کړی لري تر شاوخوا په سلو کې ۳۸ ته د هغو میرمنو ترمنځ چې د ثانوي او ترهغې لوړو زده کړو درجه لري، زیاتوالی مومي. په ډیرو شتمنو کورنیو کې ( ۳۷٪ ) میرمنی احتمال لري چې نظر خپلو سیالانو ته په ډیرو بې وزلو کورنیو کې په سلو کې ( ۱۵) د امیندواری له ضد وسایلو څنې زیاتره استفاده وکړي.

### تر زیږون وړاندې څارنه

تر زیږون دمخه دوره امیندوارو ښځو ته د رسیدلو په خاطر چې کیدای شي هم د دوی د روغتیا او هوساینې لپاره او هم ئې د ماشوم لپاره د اساسي اهمیت وړ وي د یو شمیر مداخلو لپاره یو ځه فرصتونه برابروي. د جنین له ودې او پرمختګ څخه په ښه ډول درک او د هغې اړیکه د مور له روغتیا سره، تر زیږون دمخه څارنې د مور او ماشوم د روغتیا د ښه والي په هکله د یوې مداخلې په توګه د زیاتیدونکي پاملرنې لامل ګرځیدلی دی. د بیلګې په ډول که چیرې تر زیږون وړاندې دورې څخه میرمنو او کورنیو ته د ګواښ د نښو نښانو، د امیندواری او د زیږون له ننګونو په هکله د معلوماتو ورکولو لپاره استفاده وشي، کیدای شي د دې امر تامینونکی شي چې امیندواری میرمنې عملاً د یوه ماهر روغتیائي څارونکي په مرسته زیږون وکړي. تر زیږون دمخه دوره همدا راز د زیږونونو په منځ کې د واټن د رامنځ ته کولو په اړه چې د ماشوم د بقا د ښه والي یو مهم لامل دی، د معلوماتو ور کولو فرصت برابروي. د امیندواری پرمهال د تیتانوس واکسین کولای شي مور او ماشوم دواړو ته د ژوند ژغورونکی واوسي. د ملاریا وقایه او درملنه د امیندوارو ښځو په منځ کې، د امیندواری په جریان کې د وینې کموالي مدیریت او د مقاربتي میکروبي کیدنې درملنه کولای شي په پام وړ ډول د جنین پایلو او د مور روغتیا ته ښه والی وروبخښي. منفي پایلې لکه د زیږون پر مهال د وزن کموالی کیدای شي د میرمنو د تغذئې د وضعیت د ښه والي لپاره او د میکروبي کیدنو څخه لکه ملاریا، د امیندواری په جریان کې د مقاربتي ناروغیو څخه د مخنیوي د ځینو مداخلو د ترکیب په واسطه راکمې کړای شي. په دې وروستیو کې، تر زیږون دمخه دورې نهائي استعداد د ایډز څخه د څارنې او مخنیوي د یوې داخلیدونکي نقطې په څیر، په ځانګړي توګه د مور څخه ماشوم ته د ایډز د لیږد د مخنیوی لپاره، تر زیږون دمخه څارنو پر نوي شویو علاقمندیو باندې تمام شوي دي.

نړیوال روغتیائي سازمان لړترلړه تر زیږون دمخه څلور لیدنې ( ویزټ ) تر زیږون وړاندې څارنو د مختلفو مودلونو د اغیزمنتیا د څیړنې پربنسټ، سپارښتنه کوي. نړیوال روغتیائي سازمان تر زیږون وړاندې څارنو د لیدنو د منځپانګې په اړه ځانګړی لاربښووني لري چې لاندې ټکي په بر کې نیسي :

- د وینې د فشار اندازه کول
- د تشو میتیازو( ادرار) ازمایښت په ادرار کې د پروتینو او باکتریا د شتون په خاطر
- د وینې ازمایښت د سفلیس او سختې کم خونی د معلوملو په خاطر
- د وزن او ونې اندازه کول ( انتخابي )

د هغه پرسونل ډول چې د ۱۵ تر۴۹کالنی میرمنو لپاره ئې چې په تیرو دوو کلونو کې ئې زیږون کړی دی، تر زیږون وړاندې څارنې برابروي په ۸.۴ جدول کې ښودل شوي دي.

## ۸.۴ جدول: تر زیږون وړاندې د څارنې پوښښ

**د ۱۵ تر۴۹کالنی میرمنو د سلنې ویش چې له سروې دوه کاله دمخه موده کې ئې زیږون کړی دی، تر زیږون وړاندې د څارنې برابرونکی پرسونل په بیلوالي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹**

| | هغه څوک چې تر زیږون دمخه څارنې برابروي | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ډاکټر | نرس/ دایا | د دائي مرستیال | سیمه ایزه دایه | روغتیائي کارکوونکي | ترزیږون دمخه څارنه ندی ترلاسه شوي | ټول | ټول ماهر پرسونل | د هغومیرمنوشمیرچي له سروې دوه کاله دمخه موده کې ئې زیږون کړی دی |
| **زون** | | | | | | | | | |
| مرکزي | 51.1 | 22.7 | 0.4 | 1.4 | 0.5 | 23.6 | 100 | 74.2 | 824 |
| مرکزي لوړې سیمې | 26.1 | 17.2 | 1.3 | 1.2 | 0.4 | 53.5 | 100 | 44.7 | 196 |
| ختیځ | 36.6 | 6.2 | 0.5 | 4 | 0.6 | 51.6 | 100 | 43.3 | 491 |
| شمال | 18.1 | 22.2 | 2.6 | 2.4 | 0.9 | 53.1 | 100 | 42.9 | 743 |
| شمال ختیځ | 24.6 | 23.2 | 5.1 | 3.9 | 0.7 | 42.4 | 100 | 52.9 | 869 |
| سهیل | 24.7 | 4.6 | 1.7 | 36 | 0 | 32.4 | 100 | 31.1 | 353 |
| سهیل ختیځ | 22.9 | 13.2 | 1.8 | 3.7 | 0.3 | 57.1 | 100 | 38 | 726 |
| لویدیځ | 21.5 | 13.3 | 3.4 | 11 | 0.2 | 50.2 | 100 | 38.2 | 662 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | | | | |
| ښاري | 54.1 | 19.6 | 3.4 | 0.8 | 0.2 | 21.7 | 100 | 77.1 | 903 |
| کلیوالي | 22.9 | 16.2 | 2.1 | 7.7 | 0.6 | 50 | 100 | 41.2 | 3,962 |
| **د زیږون پرمهال د مورعمر** | | | | | | | | | |
| د 20 کم | 30.5 | 17.3 | 1.9 | 8.2 | 0.6 | 41.3 | 100 | 49.7 | 747 |
| 34-20 | 29 | 16.3 | 2.4 | 6.2 | 0.3 | 45.1 | 100 | 47.8 | 3,463 |
| 49-35 | 25.3 | 18.8 | 2.5 | 5.3 | 1.3 | 46.7 | 100 | 46.6 | 652 |
| **د زده کړې درجه** | | | | | | | | | |
| نا لوستی | 25.5 | 16 | 2.2 | 7.1 | 0.6 | 48.1 | 100 | 43.8 | 4,311 |
| لمړنی | 45.7 | 26.1 | 4.3 | 1.8 | 0 | 22 | 100 | 76.1 | 286 |
| ثانوي او ترهغې لوړی | 62 | 19.1 | 2.5 | 0.9 | 0 | 15.2 | 100 | 83.6 | 268 |
| **د شتمنی شاخص کوانټیل** | | | | | | | | | |
| ډیر بې وزلې | 16.7 | 7.9 | 1.3 | 16 | 0.5 | 57.2 | 100 | 25.8 | 933 |
| دویم | 18.1 | 17.6 | 2 | 7.8 | 0.3 | 53.9 | 100 | 37.7 | 1,029 |
| منځنی | 22.4 | 17.2 | 2.7 | 4.7 | 0.6 | 51.9 | 100 | 42.3 | 993 |
| څلورم | 31.6 | 21.3 | 3.3 | 2.6 | 0.5 | 39.8 | 100 | 56.2 | 967 |
| ډیر شتمن | 55.9 | 19.8 | 2.4 | 1.3 | 0.6 | 20 | 100 | 78.1 | 944 |
| **ټول** | 28.7 | 16.8 | 2.3 | 6.4 | 0.5 | 44.7 | 100 | 47.9 | 4,865 |

[۱] **د څو شاخصیزه سروې ۵.۵ الف شاخص ، د زریزي پرمختیائي موخو۵.۵ شاخص**

تر زیږون وړاندې د څارنو پوښښ ( د یوه ډاکټر، نرس، دایه ) په واسطه په افغانستان کې په سلو کې د ۴۸ هغو ښځو سره چې د امیندواری په جریان کې لږترلږه یو ځل تر زیږون وړاندې څارنه ترلاسه کوي، ټیټ دی. تر زیږون وړاندې د څارنو په خدمتونو کې د زونونو ترمنځ د پام وړ توپیر شتون لري. تر زیږون وړاندې څارنو ډیره ټیټه کچه په سهیل زون ( ۳۱ سلنه ) موندل شویده، په داسې حال کې چې ډیره لوړه کچه په مرکزي زون کې ( ۷۴) موندل شوې ده. تر زیږون وړاندې څارنې شاوخوا په سلو کې ۳۶ په ښاري ساحو کې ( ۷۷ سلنه ) د کلیوالي ساحو ( ۴۱٪ ) په پرتله لوړه ده. د میرمنو د زده کړې درجه د زیږون وړاندې څارنو پر میزان باندې اغیزه لري. د هغو میرمنو په منځ کې چې په تیرو دوو کلونو کې ئې زیږون کړی دی، د ثانوي او ترهغې لوړو زده کړو درلودونکو میرمنو( ۸۴٪ ) تر زیږون وړاندې څارنو لاس ته راوړل دوه برابره نظر هغو میرمنوته چې زده کړه ئې نده کړې ( ۴۴٪ ) راپور ور کړیدی. د دې سره جوخت، د ډیرشتمن کوانټیل میرمنی (۷۸٪ ) تر درې ځلې زیات نظر د ډیر بې وزلې کوانټیل میرمنو ته ( ۲۶سلنه ) تر زیږون وړاندې څارنې ترلاسه کوي.

یونیسف او نړیوال روغتیائي سازمان لړترلړه تر زیږون وړاندي ښارني د څلور لیدنو سپارښتنه کوي. ۸.۵جدول تر زیږون وړاندې ښارني د لیدنو شمیر تر سروې دوه کاله مخکې د وروستني زیږون په جریان کې د برابرونکي د نه په پام کې نیولو له مخې د ټاکلو ځانګړتیا وو په بیلوالي سره ښئي.

## ۸.۵ جدول: تر زیږون وړاندې د ښارني د لیدنو شمیر

د هغو میرمنو د سلني ویش چې له سروې دوه کاله دمخه موده کې نی یو ژوندی زیږون درلودلی، تر زیږون وړاندې د ښارني د لیدنو شمیر د تولو برابرونکو په بیلوالي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹

| | د هغو میرمنو د سلني ویش چې ........درلودلي دي: | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | هیڅ کومه د ښارني لیدنه ترزیږون دمخه | یوه لیدنه | دوه لیدني | درې لیدنې | څلورلیدنې | راپورندی ورکړل شوی / نامعلوم | ټول | د هغو میرمنو شمیر چې ترسروې دوه کاله دمخه ني یو ژوندی زیږون درلودلی دی |
| **زون** | | | | | | | | |
| مرکزي | 24 | 8.6 | 15.7 | 16 | 33.6 | 2.6 | 100 | 824 |
| مرکزي لوري سیمي | 53.5 | 7 | 14.4 | 9.3 | 13.2 | 2.6 | 100 | 196 |
| ختیځ | 51.7 | 5.7 | 14.4 | 12 | 10.8 | 5.1 | 100 | 491 |
| شمال | 53.4 | 7.8 | 13 | 12 | 12.5 | 1.9 | 100 | 743 |
| شمال ختیځ | 42.5 | 6.2 | 13.8 | 15 | 13.7 | 8.7 | 100 | 869 |
| سهیل | 32.7 | 6.4 | 17.6 | 11 | 11.6 | 20.7 | 100 | 353 |
| سهیل ختیځ | 57.1 | 8.4 | 12.8 | 12 | 3.6 | 6.5 | 100 | 726 |
| لویدیځ | 50.3 | 11.3 | 15.7 | 8.6 | 11.5 | 2.6 | 100 | 662 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | | | |
| ښاري | 22 | 8.4 | 15.9 | 16 | 32.8 | 4.6 | 100 | 903 |
| کلیوالي | 50.2 | 7.8 | 14.1 | 12 | 10.5 | 6 | 100 | 3,962 |
| **د زیږون پرمهال د مور عمر** | | | | | | | | |
| تر 20 کم | 41.6 | 9.5 | 16.4 | 14 | 12.5 | 6.1 | 100 | 747 |
| 34-20 | 45.3 | 7.6 | 14.7 | 12 | 14.8 | 5.9 | 100 | 3,463 |
| 49-35 | 47 | 7.4 | 11.1 | 14 | 15.8 | 4.3 | 100 | 652 |
| **د زده کړې درجه** | | | | | | | | |
| نا لوستی | 48.2 | 7.9 | 14.5 | 12 | 11.8 | 6 | 100 | 4,311 |
| لمړنی | 23.6 | 8.1 | 16.5 | 20 | 28.1 | 3.3 | 100 | 286 |
| ثانوي او ترهغې لوړې | 15.5 | 6.6 | 12.3 | 16 | 45.5 | 4.5 | 100 | 268 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | | | | | | | |
| ډیر بې وزلي | 57.6 | 6.3 | 14.5 | 9.2 | 5.8 | 6.7 | 100 | 933 |
| دویم | 54 | 8.9 | 13.3 | 9.4 | 7.8 | 6.6 | 100 | 1,029 |
| منځنی | 52.1 | 8.1 | 13.2 | 10 | 10.7 | 5.5 | 100 | 993 |
| څلورم | 39.9 | 8 | 14.5 | 16 | 17 | 4.7 | 100 | 967 |
| ډیر شتمن | 20.1 | 7.9 | 17.1 | 17 | 32.3 | 5.1 | 100 | 944 |
| **ټول** | 44.9 | 7.9 | 14.5 | 12 | 14.6 | 5.7 | 100 | 4,865 |

[1] څو شاخصیزه سروې ۵.۵ ب شاخص ، د زریزې پرمختیايي موخو ۵.۵ شاخص

یوه مور د هرو شپږو میاشتو څخه په (۱۵٪ ) کې لږترلږه څلور ځلې تر زیږون وړاندې څارنه ترلاسه کوي، په داسې حال کې چې په سلو کې ۴۱ میرمنو زیاتره له یوې مرتبې تر زیږون وړاندې څارنه ترلاسه کړې دی. د ډیرو بې وزلو کورنیو میندې هغوی چې لمړنۍ زده کړې لري، نظر هغو میندو ته چې ډیره زده کړه ئې کړي او زیاتې شتمنې دي کم د دې احتمال درلودلی چې څلور ځلې او یا زیاتره تر زیږون وړاندې څارنه لاسته راوړي. د ساري په توګه، راپور ورکړ شوی چې په سلو کې ۴ د هغو میرمنو کومې چې په ډیرو بې وزلو کورنیو کې ژوند کوي په مقابل کې ۳۲ سلنه د شتمنو کورنیو میرمنې څلور یا ترهغې زیات تر زیږون وړاندې د څارنې ویزت ترلاسه کړیدی.

## ۸.۶ جدول: تر زیږون وړاندې څارنې منځپانګه

**د ۱۵ تر۴۹ کالنۍ میرمنو سلنه چې د وینې فشار ئې اندازه شوی، د ادرار نمونه ئې اخیستل شوي او د وینې نمونه ئې تر زیږون وړاندې څارنې د یوی برخې په توګه اخیستل شوی دی، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹**

| | د واده شویو میرمنو سلنه چې : | | | | د هغو میرمنو شمیر چې د دوو تیرو کلونو په موده کې ئې ژوندی زیږون کړی |
|---|---|---|---|---|---|
| | د وینې فشاراندازه شوی | د ادرار نمونه اخیستل شوي | د وینې نمونه اخیستل شوي | د وینې فشاراندازه شوی، د وینې او ادرار نمونه اخیستل شوي [1] | |
| **زون** | | | | | |
| مرکزي | 46.6 | 47.5 | 36.5 | 27 | 824 |
| مرکزي لوړې سیمې | 30.3 | 14.8 | 12.8 | 7 | 196 |
| ختیځ | 36.9 | 27.2 | 26.1 | 19 | 491 |
| شمال | 27.5 | 14.7 | 10.5 | 5.4 | 743 |
| شمال ختیځ | 44.3 | 19.5 | 17.4 | 11 | 869 |
| سهیل | 31.5 | 18 | 13.6 | 9.9 | 353 |
| سهیل ختیځ | 28.9 | 21.6 | 19.4 | 7.5 | 726 |
| لویدیځ | 23.5 | 14.6 | 11.5 | 6.5 | 662 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | |
| ښاري | 53.6 | 43.6 | 34.7 | 25 | 903 |
| کلیوالي | 30.5 | 19.1 | 16 | 9.2 | 3,962 |
| **د زیږون پرمهال د مورعمر** | | | | | |
| تر 20 کم | 36.4 | 24.3 | 19 | 12 | 747 |
| 34-20 | 34.7 | 23.9 | 19.7 | 12 | 3,463 |
| 49-35 | 33.5 | 21.6 | 19.2 | 13 | 652 |
| **د زده کړې درجه** | | | | | |
| نا لوستی | 31.6 | 20.3 | 16.6 | 9.7 | 4,311 |
| لمړنی | 50.5 | 39.8 | 28 | 18 | 286 |
| ثا نوي او ترهغې لوړی | 69.4 | 60.9 | 56.7 | 44 | 268 |
| **د شتمنۍ شاخص کوانټیل** | | | | | |
| ډیر بې وزلي | 22.9 | 11 | 10 | 5.9 | 933 |
| دویم | 27.4 | 14.3 | 13.2 | 5.9 | 1,029 |
| منځنی | 31.1 | 20.5 | 18.1 | 11 | 993 |
| څلورم | 39.2 | 28.3 | 19.2 | 13 | 967 |
| ډیر شتمن | 53.7 | 44.9 | 37.6 | 26 | 944 |
| **ټول** | 34.7 | 23.6 | 19.5 | 12 | 4,865 |

[1] د څو شاخصیزه سروې ۵.۶ شاخص

د خدمتونو ډول چې امیندوارو ښځو ترلاسه کړي په ۸.۴ جدول کې ښودل شوي دي. د هغو میرمنو د شمیر ترمنځ چې ترسروې دمخه ئې د دوو کلونو په جریان کې ژوندی زیږون درلودلی، په سلو کې ۲۰ راپور ور کړی چې تر زیږون وړاندې څارنې د لیدنې ( وزیټ ) په جریان کې ئې د وینې نمونه اخیستل شوي، په سلو کې ۳۵ راپور ورکړیدی چې د وینې فشار ئې اندازه شوی او په سلو کې ۲۴ راپور ورکړی دی چې د ادرار نمونه ئې اخیستل شوي دی. په ټوله

کې یوازې په سلو کې ۱۲ امیندوارو میرمنو تر زیږون وړاندې د څارنې لیدنې درلودلې چې په هغې کې ئې د وینې فشار اندازه شوی او ادرار او وینه ئې ازمایښت شوې ده. هغه میرمنې چې په ښارې ساحو کې ژوند کوي،( ۲۵سلنه ) نسبت هغوی ته چې په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي ( ۹ سلنه ) زیات د دې احتمال لري چې تر زیږون وړاندې سپارښت شوې څارنې لاسته راوړي. په مرکزي زون کې ښځې د هرو څلورو میرمنو څخه یوه میرمن تر زیږون وړاندې معیاري څارنې ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې هغه میرمنی چې په شمال زون کې ژوند کوي تر زیږون وړاندې کمې معیاري څارنې (۵ سلنه ) لاسته راوړي. د هغو میرمنو سلنه چې تر زیږون وړاندې معیاري څارنې لاسته راوړي د میرمنو په منځ کې د شتمنی په ډیر بې وزلي کوانټیل کې ( ۴ سلنه ) د هغو په منځ کې چې زده کړه ئې ندې کړې ( ۱۰سلنه ) دی.

### د زیږون پر مهال مرسته

درې په څلور مړینې د امیندواری او د ماشوم د زیږیدنې په جریان کې او سمدستي د زیږون وروسته پیښیږي. د یوې مصئونې مور لپاره یواځنی مهمه مداخله په هر زیږون کی د دایګي د مهارتونو درلودونکی د یوه ماهر کارکوونکي د حضور تامینول او په بیړنیو حالاتو کې یوه مرکز ته د وړلو لپاره د حمل اونقل د یوې وسیلې شتون دی. موخه " د ماشومانو لپاره مناسبه نړی " د زیږون پرمهال ماهر مرسته کوونکي ته د میرمنو د استطاعت وړ او د چمتو لاس رسی له تامین څخه عبارت دی. د زیږون پر وخت په مرستې پوري اړوند د استفادې وړ شاخص عبارت دی له : د زیږونونو نسبت د ماهر مرسته کوونکي سره، په روغتیائي موسسو کې د زیږونونو نسبت، د زیږون پرمهال د ماهر کس د حضورشاخص، همدارنګه د زریزې د پرمختیائي موخو په هکله د پرمختګ معلومول او د امیندواری او زیږون له کبله د ۱۹۹۰ تر۲۰۱۵ کلونو ترمنځ د مړینې د کچې درې په څلور برخې ته د راکمولو په خاطر د استفادې وړ ګڼل کیږي.
د افغانستان په څو شاخصیزه سروې کې د هغو زیږونونو د نسبت د ارزونې لپاره چې د یوه ماهر کارکوونکي په واسطه صورت نیسي، یو لړ پوښتنو ته ځای ورکړل شوی دی، یو ماهر مرسته کوونکی ډاکټر، نرس، دایه او د دائې مرستیال په برکې نیسي . ۷.۷جدول د میرمنو سلنه د زیږون پرمهال د مرستې او د هغه کس د ډول په بیلوالي چې مرسته ئې کړې ده، ښودونکی دی.

**د ۱۵ تر۴۹ کالنی میرمنو د سلنې ویش چې د سروې دمخه د تیرو دوو کلونو په موده کې ئې ژوندی زیږون درلود د هغې کس په بیلوالي چې د زیږون پرمهال ئې ورسره مرسته کړي او د هغو زیږونونو سلنه چې د جراحی د برخې په واسطه ئې صورت موند لی دی، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹**

| | هغه کس چې د زیږیدنې مرسته ئې کړیده | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ډاکټر | نرس/دایه | د دائي مرستیال | سیمه ایزه دایه | د ټولنې روغتیائي کارکوونکی | خپلوان/دوستان | نور/ نامعلوم | چا مرسته نده کړي | ټول | هغه زیږونونه چې د ماهر کس په واسطه ئې صورت موندلی [1] | د هغو زیږونونو سلنه چې د جراحی د برخې په واسطه ئې صورت موندلی دی [2] | د هغو میرمنو شمیر چې د سروې دمخه په تیرو دوو کلونو کې ئې ... |
| **زون** | | | | | | | | | | | | |
| مرکزي | 51.3 | 15.9 | 0.4 | 9.4 | 0.9 | 19.6 | 1.4 | 1 | 100 | 67.6 | 7.6 | 824 |
| مرکزي لوړې سیمې | 14.4 | 11.6 | 1.2 | 47 | 0.9 | 22.2 | 1.3 | 1.6 | 100 | 27.2 | 2 | 196 |
| ختیځ | 30.9 | 6.1 | 0.7 | 16 | 2 | 32.7 | 11.3 | 0.2 | 100 | 37.7 | 1.6 | 491 |
| شمال | 7.2 | 16.1 | 1.9 | 27 | 1.1 | 44.1 | 2 | 0.6 | 100 | 25.1 | 2.6 | 743 |
| شمال ختیځ | 14.1 | 23.6 | 5.3 | 38 | 1.1 | 17.4 | 0.8 | 0.2 | 100 | 42.9 | 2.9 | 869 |
| سهیل | 14.8 | 4.7 | 1.7 | 67 | 0 | 10.1 | 1.3 | 0.5 | 100 | 21.2 | 0.7 | 353 |
| سهیل ختیځ | 12.4 | 22.2 | 3.2 | 16 | 3.1 | 30.8 | 7.3 | 5.4 | 100 | 37.8 | 4.9 | 726 |
| لویدیځ | 9 | 15 | 2.4 | 51 | 1.2 | 18.4 | 2.4 | 0.6 | 100 | 26.5 | 2.6 | 662 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | | | | | | | |
| ښاري | 48.2 | 21.8 | 4.4 | 13 | 0.2 | 10.2 | 1.3 | 0.8 | 100 | 74.3 | 8.7 | 903 |
| کلیوالي | 13.8 | 14.9 | 1.9 | 34 | 1.7 | 28.6 | 3.8 | 1.4 | 100 | 30.5 | 2.4 | 3,962 |
| **د زیږون پرمهال د مور عمر** | | | | | | | | | | | | |
| تر 20 کم | 22 | 15.3 | 2 | 34 | 1.5 | 22 | 2.8 | 0.4 | 100 | 39.2 | 2.9 | 747 |
| 34-20 | 20.3 | 16.2 | 2.4 | 29 | 1.3 | 25.8 | 3.4 | 1.5 | 100 | 38.9 | 3.6 | 3,463 |
| 49-35 | 17.4 | 17.1 | 2.5 | 31 | 1.8 | 25.5 | 3.7 | 1.4 | 100 | 37 | 4.3 | 652 |
| **د زیږون ځای** | | | | | | | | | | | | |
| د دولتي سکتور روغتیائي آسانتیا | 52.3 | 39.5 | 4.9 | 0.7 | 0.6 | 1.8 | 0.1 | 0 | 100 | 96.7 | 11 | 1,363 |
| د خصوصي سکتور روغتیائي آسانتیا | 64.7 | 28.8 | 3.1 | 0.6 | 0 | 2.9 | 0 | 0 | 100 | 96.6 | 10.1 | 237 |
| کور | 3.4 | 5.6 | 1.2 | 46 | 1.8 | 37.8 | 2 | 2 | 100 | 10.3 | 0 | 3,149 |
| **نور** | 26.4 | 11.6 | 11.9 | 0 | 24.2 | 25.9 | 0 | 0 | 100 | (*) | (*) | 12 |

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د زده کړې درجه** | | | | | | | | | | | | |
| نالوستی | 16.6 | 15.3 | 2.3 | 32 | 1.5 | 26.8 | 3.7 | 1.5 | 100 | 34.2 | 3 | 4,311 |
| لمرنی | 35.5 | 24.8 | 3.6 | 17 | 0.4 | 17.1 | 1.3 | 0.1 | 100 | 63.9 | 6.8 | 286 |
| ثا نوي اوترهغي لوړی | 60.7 | 20.5 | 1.8 | 7.8 | 0.2 | 8.4 | 0.3 | 0.2 | 100 | 83 | 8.8 | 268 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | | | | | | | | | | | |
| ډیر بی وزلي | 8.4 | 6.6 | 0.5 | 45 | 3.3 | 30.8 | 4.7 | 1 | 100 | 15.6 | 0.9 | 933 |
| دویم | 7.9 | 14.3 | 2.8 | 38 | 1 | 30.9 | 4.3 | 1 | 100 | 24.9 | 1.5 | 1,029 |
| منځنی | 14.8 | 14.8 | 1.5 | 31 | 1 | 30.5 | 4.2 | 2 | 100 | 31 | 2.6 | 993 |
| څلورم | 20.9 | 22.1 | 3.5 | 25 | 1 | 22.5 | 2.6 | 2.2 | 100 | 46.6 | 4.2 | 967 |
| ډیر شتمن | 50.1 | 22.9 | 3.4 | 11 | 0.8 | 10.7 | 1.1 | 0.4 | 100 | 76.3 | 9 | 944 |
| **ټول** | 20.2 | 16.1 | 2.3 | 30 | 1.4 | 25.2 | 3.4 | 1.3 | 100 | 38.6 | 3.6 | 4,865 |

**[1]- د څو شاخصيزه سروې ۵.۷ شاخص، د زريزې پرمختيائي موخو ۵.۲ شاخص، د څو شاخصيزه سروې ۵.۹ شاخص**

***دا ښئي چې سلنه د ۲۵ ځخه کمو ناوزن شويو پيښو پربنسټ محاسبه شوې ده**

د ټولو هغو زيږونونو ځخه چې د سروې دمخه په تيرو دوو کلونو کې ئې صورت موندلی دی په سلو کې ۳۹ د ماهر پرسونل په مرسته وو( ۸.۷جدول ). دغه سلنه په سلو کې د ۶۸ سره په مرکزي زون کې ډيره لوړه او په سهيلي زون کې په سلو کې د ۲۱ سره ډيره ټيټه ده. هر څومره چې ميرمنې د ډيرې زده کړې درلودونکې دي ښائي د ماهر کارکوونکي په مرسته زيږون وکړي.

ډاکترانو ۲۰ په سلو کې، نرسانو او دايو ۱۶ په سلو کې او د دائي مرستيال ۲ په سلو کې زيږيدنو سره مرسته کړې ده. هغه زيږيدنې چې د ماهر پرسونل په شتون کې ئې صورت موندلی، په ښاري ساحو کې نسبت کليوالي ساحو ته ډير دود لري. په ټوله کې ۶۰ په سلو کې زيږيدنې د افغانستان د څو شاخصيزه سروې ځخه دمخه په دوو تيرو کلونوکې د غير ماهر پرسونل په مرسته صورت موندلی. عمده غير ماهر پرسونل عبارت دی له سيمه ايزو دايو ( ۳۰ سلنه ) يا خپلوان او دوستان ( ۲۵سلنه ). د شمال په زون کې ۴۴ په سلو کې زيږيدنې د خپلوانو يا دوستانو په مرسته صورت نيسي او په ختيځ زون کې ۳۳ په سلو کې زيږيدنې د خپلوانو او دوستانو په مرسته صورت موندلی. د غير ماهر پرسونل ځخه استفاده په کليوالي ساحو کې ( ۲۹ سلنه ) د ښاري ساحو په پرتله ( ۱۰ سلنه ) زيات ډيروالی لری چې ښائي د روغتيائي ښځينه کارکوونکو د کمښت او د روغتيائي آسانتياو د محدوديت له امله وی. په افغانستان کې، د جراحی په واسطه زيږيدنه په سلو کې د ۴په ټيټه کچه کې د پام په وړ ډول د نړيوال معيار ځخه چې د ( ۵ تر۱۵ ) پورې دی، ډيره ټيټه ده. د پيوستون يوه پياوړې اړيکه د زون، د استوګنې ځای، د زده کړې درجې او شتمنی ترمنځ په ښکاره ډول شتون لري. د بيلګې په توګه په مرکزي زون کې د جراحی په واسطه زيږيدنه په سلو کې ۸ د سهيلي زون په پرتله چې په سلو کې د يوه ځخه په کمه کچه کې وه. په ښاري ساحو کې ۹ سلنه زيږيدنې د جراحی په واسطه صورت موندلی او په مقابل کې په کليوالي ساحو کې دا رقم په سلو کې ۲ وه. د ثانوي او تر هغو لوړو زده کړو لرونکو ميندو لپاره د جراحي په واسطه زيږيدنې په سلو کې ۹ موارده صورت موندلی، په داسې حال کې چې دا کار په سلو کې د ۳ په هغو پيښو کې چې مور زده کړه نه وه کړې صورت موندلی. د هغو زيږيدنو لپاره چې په دولتي روغتيائي آسانتيا کې ئې صورت موندلی، د جراحي په واسطه زيږيدنه په سلو کې ۱۱ او د خصوصي روغتيائي آسانتياو لپاره په سلو کې ۱۰ موارده وو.

## د زيږون ځای

د هغو زيږونونو د نسبت زياتوالی چې په يوه روغتيائي آسانتيا کې صورت مومي، د مور او ماشوم لپاره د روغتيائي ګواښونو په راکمولو کې يو مهم لامل ګڼل کيږي. د زيږيدنې پر مهال روغتيائي شرايط او طبي مناسبه ځارنه کولای شي د پيچلتياو او ميکروبي کيدنې ګواښ چې کيدلای شي د ماشوم يا مور د مړينی او يا ناروغی لامل وګرځي، راکم کړي. ۸.۸ جدول د ۱۵ تر ۴۹ کالنی ميرمنو د سلنې ويش چې تر سروې دمخه د دوو کلونو په موده کې ئې يو ژوندی زيږون درلود، د استوګنې د ځای په بيلوالي او د هغو زيږيدنو سلنه چې په يوه روغتيائي آسانتيا کې ئې صورت موندلی د شاليديزو ځانګړنو پربنسټ ښئي .

## ۸.۸ جدول: د زیږون ځای

| د ۱۵ تر۴۹ کالنی میرمنو د سلنی ویش چې د سروی دمخه د تیرو دوو کلونو په موده کې ئې یو ژندی زیږون درلود د زیږون د ځای په بیلوالي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | د زیږون ځای | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د دولتي سکتور روغتیائي آسانتیا | د خصوصي سکتور روغتیائي آسانتیا | کور | نور | راپورندی ورکړل شوی/ نامعلوم | ټول | په روغتیائي آسانتیا کې زیږون شوی ۱ | د ۱۵ تر۴۹ کالنی میرمنو شمیر چې له سروی دوه کاله دمخه ئې ژوندی زیږون درلوده |
| **زون** | | | | | | | | |
| مرکزي | 53 | 10.5 | 35.2 | 0.2 | 1 | 100 | 63.6 | 824 |
| مرکزي لوړی سیمي | 22.7 | 1.2 | 74.6 | 0.4 | 1.2 | 100 | 23.9 | 196 |
| ختیځ | 32.2 | 2 | 54.8 | 0 | 11 | 100 | 34.2 | 491 |
| شمال | 18.4 | 2.3 | 78 | 0.5 | 0.9 | 100 | 20.7 | 743 |
| شمال ختیځ | 27.8 | 3.8 | 66.9 | 0.6 | 0.8 | 100 | 31.6 | 869 |
| سهیل | 7.8 | 6 | 85.4 | 0 | 0.8 | 100 | 13.8 | 353 |
| سهیل ختیځ | 23.9 | 6.8 | 67.9 | 0 | 1.4 | 100 | 30.8 | 726 |
| لویدیځ | 21.8 | 2.6 | 73.7 | 0.1 | 1.9 | 100 | 24.3 | 662 |
| **د استوګنی ځای** | | | | | | | | |
| ښاري | 53.2 | 13 | 32.9 | 0.2 | 0.7 | 100 | 66.2 | 903 |
| کلیوالي | 22.3 | 3 | 72 | 0.2 | 2.5 | 100 | 25.3 | 3,962 |
| **د زیږون پرمهال د مور عمر** | | | | | | | | |
| تر 20 کم | 29.3 | 4.5 | 64.3 | 0.1 | 1.9 | 100 | 33.7 | 747 |
| 34-20 | 28.1 | 5 | 64.4 | 0.3 | 2.2 | 100 | 33.1 | 3,463 |
| 49-35 | 26.3 | 4.6 | 66.7 | 0.3 | 2 | 100 | 30.9 | 652 |
| **د هغو ښځو شمیر چې ....ویزټ ئې درلود** | | | | | | | | |
| هیڅ | 13.9 | 2.2 | 79.1 | 0.1 | 4.7 | 100 | 16.1 | 2,186 |
| 3-1 | 35.6 | 5 | 59.2 | 0.2 | 0 | 100 | 40.6 | 1,690 |
| تر4 پورته | 50.9 | 12.9 | 35.5 | 0.5 | 0.1 | 100 | 63.8 | 711 |
| راپورندی ورکړی شوی/نامعلوم | 34.4 | 4.9 | 60.3 | 0.5 | 0 | 100 | 39.2 | 279 |
| **د زده کړي درجه** | | | | | | | | |
| نا لوستی | 24.6 | 4 | 68.8 | 0.2 | 2.3 | 100 | 28.6 | 4,311 |
| لمړنی | 51 | 7.5 | 40.3 | 0.3 | 0.9 | 100 | 58.5 | 286 |
| ثا نوي او ترهغي لوړی | 57.7 | 16.6 | 24.6 | 0.4 | 0.7 | 100 | 74.3 | 268 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | | | | | | | |
| ډیر بې وزلي | 10.5 | 2 | 84.7 | 0 | 2.9 | 100 | 12.5 | 933 |
| دویم | 19.5 | 1.1 | 76.1 | 0.4 | 2.9 | 100 | 20.6 | 1,029 |
| منځنی | 23.4 | 3.4 | 70.7 | 0 | 2.5 | 100 | 26.8 | 993 |
| څلورم | 33.1 | 5.2 | 59.5 | 0.5 | 1.7 | 100 | 38.3 | 967 |
| ډیر شتمن | 54.3 | 13 | 31.8 | 0.3 | 0.6 | 100 | 67.4 | 944 |
| **ټول** | 28 | 4.9 | 64.7 | 0.2 | 2.1 | 100 | 32.9 | 4,865 |

۱ د څو شاخصیزه سروی ۵.۸ شاخص

په افغانستان کې نیږدې ۳۳ سلنه زیږیدنې په یوه روغتیائي آسانتیا کې صورت مومي او په سلو کې ۲۸ زیږیدنې په دولتي روغتیائي آسانتیاو، ۵ سلنه په خصوصي روغتیائي آسانتیاو کې په بر کې نیسي. ترنیمائي زیاتي زیږیدنې (۶۵ سلنه) په کور کې صورت مومي. د سني ګروپونو په بیلوالي، تر۲۰ کالنۍ کمي میرمنې ( ۳۴٪ ) اود ۲۰تر۲۴ کالنۍ میرمنې ( ۳۳٪ ) زیاتره ښائي په روغتیائي آسانتیا کې زیږیدنه وکړي. په ښاري ساحو کې میرمنې ( ۶۶سلنه ) د خپلو کلیوالي سیالانو په پرتله ( ۲۵ سلنه ) دوه ځلې زیات ښائي په روغتیائي اسانتیا کې زیږیدنه وکړي.
په مرکزي زون کې ډیر لوړ نسبت موسساتي زیږیدنو درلوده، په داسې حال کې چې دغه نسبت په سهلي زون کې ډیر ټیټ ( ۱۴٪ ) دی. هغه میرمن چې د لوړې درجې زده کړې لري د هغو میرمنو په پرتله چې کمه زده کړه ئې کړې ده زیاتره ښائي چې په یوه روغتیائي آسانتیا کې زیږیدنه وکړي. دهغو زیږیدنو نسبت چې په یوه روغتیائي آسانتیا کې صورت نیسي د شتمنۍ د کوانټیل سره په لوړتیا کې په چټکتیا سره په سلو کې د ۱۲ زیږیدنو څخه د شتمنۍ په ډیر ټیټ کوانټیل کې ۶۷٪ ته په ډیر لوړکوانټیل کې زیاتوالی مومي. زیاتره هغه میرمنو چې تر زیږون وړاندې څارنې ئې ندي ترلاسه کړي ( ۷۹سلنه ) په کور کې زیږون کړی دی.

**په افغانستان کې د امیندوارۍ د روغتیا څرنګوالی**

ډیر کالونه کیږي چې افغانستان د زیږیدنو او امیندوارۍ څخه د راولاړې شوي مړینې د ډیرې لوړې کچې درلودونکي په توګه پیژندل شوی دی. په داسې حال کې چې دا حالت په تیره لسیزه کې د هغو میرمنو په زیات شمیر کې چې ماهر مرسته کوونکي ته لاس رسی لري، بدلون کړی دی خو لا تراوسه هم زیات کارونه پاتې دي ترڅو د ښځو لپاره د ماشوم د زیږیدنې پرمهال د ژوندي پاتې کیدو او د یوې مناسبې موروالۍ څخه د خوند اخیستنې د لا ښو فرصتونو د رامنځ ته کولو په هکله ترسره شي. د امیندوارۍ د روغتیا مصئون دودونه د بشرۍ پرمختیا د شاخصونو له لړۍ سره ډیرې نیږدې اړیکې لري، لکه د ماشومانو مړینه او د نجونو ښوونځیو ته شاملیدل. لدې کبله په افغانستان کې د ښځو د امیندوارۍ په روغتیا کې پانګونه په حقیقت کې د افغانستان په بشري پرمختیا کې پانګونه ده. د زیږون یوازې د پنځو کلونو لپاره د شاته غورځولو بالقوه اغیزې د دې ښکارندوی دی چې د وګړو د ودې
د پرځای ساتنې او په بې وزله هیوادونو کې د کورنې ناخالص تولید پر زیاتوالي او د مجادلې په حال کې اقتصاد باندې د ملیاردونو ډالرو په ور زیاتولو باندې تمام شوی دی.[۱۷] ډیره مهمه دا چې د ډیرې مصئونې امیندوارۍ روغتیا د موروالي په دود کې د میندو سره مرسته کوي چې له زیږیدنې ژوندی پاتې شي، ډیر اوږد ژوند وکړي او صحتمند ماشومان وروزي.

---
[۱۷] UN, 2009: Bruce, Judith and Bongaarts, John. “The New Population Challenge.” From Laurie Mazur (Ed.), A pivotal Mome Population, Justice, and the Environment Challenge. Washington, DC: Island Press.



# 9

## د ماشومانو پرمختګ

## زده کړه او ښوونه او روزنه د ماشومتوب په لمړیو کې

په ښوونه کې پرمختګ زیاتره د هغو شناختي ورتیاوو سره چې په تیتوعمرونو کې ترلاسه کیږي اړیکه لري، د ماشومتوب په لمړیو کې د ښوونې او د زده کړې په پروګرامونو کې برخه اخیسته کولای شي د ماشوم په ورپسې ښوونه او روزنه کې مهم نقش ولوبوي. ځکه چې هغه د زده کړې سره چلند ته شکل ورکوي اود ماشومانو سره مرسته کوي چې ټولنیزو لمړنیو مهارتونو ته وده ورکړي. هغه شمیر ماشومان چې د ماشومتوب په لمړیوکې د ښوونې او د زده کړې پروګرامونو ته لاس رسی لري ډیر ښائي پرمختتلي او لمړنیو زده کړو ته لاس رسی ولري.

### ۹.۱جدول: د ماشومتوب په لمړیو کې ښوونه او روزنه

| | د ۳۶ تر۵۹میاشتني ماشومانو سلنه چې همدا اوس د ماشومتوب د لمړنیو تعلیماتو په یوه پروګرام کې حضور لري | د۳۶ تر۵۹میاشتني ماشومانو شمیر |
|---|---|---|
| **د ۳۶ تر ۵۹ میاشتني ماشومانو سلنه چې د ماشومتوب په لمړیو کې د ښوونې او روزنې په یوه سازمان یافته پروګرام کې حضورلري، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹** | | |
| **عمر** | | |
| نارینه | 1 | 3,547 |
| ښځینه | 1.1 | 3,364 |
| **زون** | | |
| مرکزي | 3.3 | 961 |
| مرکزي لوړې سیمې | 1.8 | 223 |
| ختیځ | 1 | 820 |
| شمال | 0.6 | 948 |
| شمال ختیځ | 0.9 | 1,132 |
| سهیل | 0.5 | 1,023 |
| سهیل ختیځ | 0.1 | 1,018 |
| لویدیځ | 0.8 | 785 |
| **د استوګنې ځای** | | |
| ښاري | 4 | 1,007 |
| کلیوالي | 0.5 | 5,904 |
| **د ماشوم عمر** | | |
| 36-47 میاشتني | 0.7 | 3,438 |
| 48-59 میاشتني | 1.4 | 3,474 |
| **د زده کړې درجه** | | |
| نالوستی | 0.7 | 6,407 |
| لمړنی | 0.9 | 269 |
| ثا نوي او ترهغې لوړې | 9.4 | 232 |
| **د شتمنۍ شاخص کوانتیل** | | |
| ډیر بې وزلي | 0.2 | 1,535 |
| دویم | 0.6 | 1,493 |
| منځنی | 0.6 | 1,427 |
| څلورم | 0.5 | 1,375 |
| ډیر شتمن | 3.9 | 1,081 |
| **ټول** | 1 | 6,911 |

[1] د څو شاخصیزه سروې ۶.۷ شاخص

په افغانستان کې یوازې ۱٪ د ۳۶ تر ۵۹ میاشتني ماشومانو تر ښوونځي دمخه زده کړې تعقیبوي ( ۹.۱ جدول ). د ښاري او کلیوالي او د زونونو ترمنځ توپیر د پام وړ دي. د حضور رقم په ښاري سیمو کې د کلیوالي سیمو په پرتله ۸ ځلې لوړ دی. د ۳۶ تر ۵۹ میاتشني ماشومانو ترمنځ، تر ښوونځي دمخه تعلیماتو کې حضور لرل زیاتره په مرکزي زون کې ( ۳ سلنه) خپور دی او په سهیل ختیځ زون کې ( نیږدې په سلو کې صفر) ډېرتیټ دی. هیڅ ډول جنسي توپیر شتون نلري، خو د اقتصادي او ټولنیز حالت له پلوه توپیر د پام وړ دی. نیږدی ۴ سلنه ماشومان چې په شتمنو کورنیو کې ژوند کوي، تر ښوونځي دمخه زده کړې تعقیبوي، په داسې حال کې چې دغه رقم د بې وزلو کورنیو لپاره په سلو کې ۰.۲ ته راکمېږي. ډېره مهمه ځانګړنه چې تر ښوونځي دمخه تعلیماتو توپیر په ګوته کوي، د مور د زده کړې درجه دی. د مثال په توګه، تر ښوونځي دمخه تعلیماتو کې حضور د هغو ماشومانو په منځ کې چې میندې ئې ثانوي او یا ترهغې لوړې زده کړې لري ۹ سلنه دی چې په پرتله ئې کومو چې میندو ئې زده کړه ندی کړې له ۱٪ څخه کمه ده.

## بالغ کسان چې د ماشومانو سره په فعالیتونو کې بوخت دي

په ښه ډول درک شوی دی چې د مغزو د پراختیا بیړنی وده د ژوندانه د دریو تر څلورو لمړنیو کالونو موده کې رامنځ ته شوي او د کورنی څارني څرنګوالی په دغه موده کې دماشوم د ودې ټاکوونکی لامل دی. په دې برخه کې له ماشومانو سره د بالغو کسانو فعالیت، په کور کې د ماشومانو د کتابونو شتون او د څارنې شرایط د کورنی څارنې د څرنګوالي مهم شاخصونه دي. ماشومان باید د فزیکي له پلوه صحتمند، د اروا له پلوه چمتو، د اقتصادي له پلوه مصئون او د اجتماعي له پلوه پیاوړي او د زده کړې لپاره تیار وي.

په سروې کې یو لړ معلومات د یو شمیرهغو فعالیتونو په اړه چې تر ښوونځي دمخه زده کړو ځنې ملاترکوي، راټول شوي دي. په دغه فعالیتونو کې له ماشومانو سره په لاندې فعالیتونو کې د بالغو کسانو بوختیا شاملېږي: د کتاب لوستل یا انځوریزو کتابونو ته لیدل، کیسې ویل، بدلې ویل، له کوره چار دیوالی او یا انګړ ته بهر د ماشومانو بیول، د ماشومانو سره لوبې کول، د نام ایښودلو لپاره د ماشومانو سره یوځه وخت تیرول، د شیانو شمیرل یا انځورول.

## ۹.۲ جدول: د زده کړې لپاره ملاتړ

د ۳۶ تر ۵۹ میاشتني ماشومانو سلنه چې د کورنۍ یو بالغ کس په هغه فعالیتونو کې چې زده کړه او ښوونځي ته د تللو تیاري هڅوي تر سروې درې ورځې دمخه ور سره بوخت وه، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹

| | د ۳۶ تر ۵۹میاشتني ماشومانو سلنه | | د فعالیتونو منځنی شمیر | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | چې ورسره د کورنۍ بالغ کسان په څلورو یا ترهغې زیاتو فعالیتونو کې بوخت دي | چې پلار ورسره په یوه یا تر یوه زیات فعالیت کې بوخت دي ۲ | د کورنۍ کوم غړی د ماشوم سره بوخت وه | پلار د ماشوم سره بوخت وه | د هغو ماشومانو شمیر چې د خپل سکه پلار(بیولوژیکي ) سره ژوند کوي | د ۳۶ تر ۵۹ میاشتني ماشومانو شمیر |
| **عمر** | | | | | | |
| نارینه | 73.6 | 63.3 | 4.2 | 1.1 | 2.1 | 3,547 |
| ښځینه | 72.7 | 60.2 | 4.2 | 1.1 | 1.9 | 3,364 |
| **زون** | | | | | | |
| مرکزي | 75.6 | 58.2 | 4.4 | 1 | 2.4 | 961 |
| مرکزي لوړې سیمې | 80.6 | 46.2 | 4.6 | 0.8 | 6 | 223 |
| ختیځ | 77.3 | 67.2 | 4.4 | 1.1 | 1.2 | 820 |
| شمال | 77.4 | 57.2 | 4.3 | 0.9 | 2.2 | 948 |
| شمال ختیځ | 69.3 | 54.3 | 4.1 | 0.8 | 3 | 1,132 |
| سهیل | 75.5 | 74.3 | 4.3 | 1.8 | 1.3 | 1,023 |
| سهیل ختیځ | 61.5 | 73.8 | 3.7 | 1.3 | 1.1 | 1,018 |
| لویدیځ | 75.9 | 49.4 | 4.1 | 0.8 | 1.4 | 785 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | |
| ښاري | 80.1 | 61.7 | 4.7 | 1.1 | 3.1 | 1,007 |
| کلیوالي | 71.9 | 61.8 | 4.1 | 1.1 | 1.8 | 5,904 |
| **د ماشوم عمر** | | | | | | |
| 36-47میاشتني | 71.8 | 61.1 | 4.1 | 1 | 1.6 | 3,438 |
| 48-59 میاشتني | 74.5 | 62.5 | 4.3 | 1.2 | 2.4 | 3,474 |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **د مور د زده کړې درجه** | | | | | | |
| نا لوستی | 72 | 61.7 | 4.2 | 1.1 | 1.9 | 6,407 |
| لمړنی | 82.9 | 58 | 4.6 | 1.1 | 3.4 | 269 |
| ثانوي او ترهغې پورته | 91.7 | 67.8 | 5.2 | 1.2 | 2.2 | 232 |
| **د پلار د زده کړې درجه** | | | | | | |
| نا زده کړي | 70.4 | 59.3 | 4.1 | 1 | n/a | 4,540 |
| لمړنی | 75.5 | 59.3 | 4.3 | 1 | n/a | 816 |
| ثا نوي او ترهغې پورته | 80.8 | 73.4 | 4.6 | 1.4 | n/a | 1,431 |
| پلار په کور کې نه وه | 68.8 | 0 | 4.2 | n/a | n/a | 120 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | | | | | |
| ډیر بې وزلې | 72.3 | 60.8 | 4.1 | 1 | 2.8 | 1,535 |
| دویم | 72.1 | 60.3 | 4.1 | 1.1 | 2 | 1,493 |
| منځنی | 69.7 | 64.6 | 4.1 | 1.2 | 1.8 | 1,427 |
| څلورم | 73.2 | 62.9 | 4.3 | 1.2 | 1.1 | 1,375 |
| ډیر شتمن | 80.2 | 60 | 4.6 | 1.1 | 2.3 | 1,081 |
| **تول** | 73.1 | 61.8 | 4.2 | 1.1 | 2 | 6,911 |
| [1] د څو شاخصیزه سروې ۶.۱ شاخص، ۲ د څو شاخصیزه سروې ۶.۲ شاخص | | | | | | |

د دوو ثلثو( ۷۳سلنه ) د ۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو سره د کورنی یو بالغ غړی په څلورو یا تر څلورو زیاتو فعالیتونو کې چې د زده کړې او ښوونځي ته د تللو د تیاري سره مرسته کوي له سروې وړاندې د دریو ورځو په جریان کې، بوخت وه ( ۹.۲ جدول ). د هغو فعالیتونو منځنی شمیر چې بالغ کسانو د ماشومانو سره بوخت و څلور فعالیتونه وو. جدول همدا راز دا ښئي چې د پلار بوختیا په یوه او یا له یوه څخه زیاتو فعالیتونو کی ۶۲ سلنه وه. د زده کړې په فعالیتونو کې ئی د خپلو زامنو څخه د پلار ملاتړ په سهیلي زون کې ډیر زیات ( ۷۴ سلنه) دی، په داسې حال کې چې دا کار د مرکزي لوړو سیمو په زون کې ډیر ټیټ ( ۴۶ سلنه ) دی. په زړه پوري خو داده چې هغه ماشومان چې د اقتصادي او ټولنیز حالت له پلوه په منځنی ډول کورنیو کې ژوند کوي د زده کړې په خاطر د خپل پلار څخه په ډیره لوړه کچه ملاتړ ترلاسه کوي. همدا راز د پلار د زده کړې د درجې له پلوه توپیرونه موندل شوي دي یعني هغه پلرونه چې د ثانوي او یا ترهغې د لوړې درجې زده کړې لري په یوه یا تر یوه زیات فعالیت کې د ماشوم سره بوخت وه ( ۷۳ سلنه) چې د نا لوستو پلرونو د ( ۵۹ سلنې ) په پرتله ډیرې له ماشومانو سره مرسته کوي.

پلرونه له زامنو سره ( ۶۳ سلنه ) د نجونو څخه یو څه زیات ( ۶۰ سلنه ) په فعالیتونو کې بوخت دي. د بالغو کسانو زیات نسبت په ښاري ساحو کې ( ۸۰ په سلو کې ) د کلیوالي ساحو په پرتله (۷۲ په سلو کې ) د ماشومانو سره د زده کړې په فعالیتونو کې بوخت دي. د اقتصادي او ټولنیز حالت او زونونو له پلوه پیاوړی توپیرونه لیدل شوي دي: د ماشومانو سره په فعالیتونو کې د بالغو کسانو بوختیا د مرکزي لوړو سیمو په زون کې ډیره لوړه ( ۸۱ سلنه ) او د سهیل ختیځ په زون کې ډیره ټیټه ( ۶۲ سلنه ) ده، په داسې حال کې چې دغه نسبت د هغو ماشومانو لپاره چې په ډیرو شتمنو کورنیو کې ژوند کوي په سلو کې ۸۰ د ۷۲ سلنه هغو په مقابل ده کې چې په ډیرو بې وزلو کورنیو کې ژوند کوي.

### د لوستنې توکو او د لوبو ځیزونو ته د ماشومانو لاس رسي

کتاب ته د ماشومانو لاس رسي د ماشومتوب د لمړیو کلونو په جریان کې نه یوازې د ماشوم لپاره د چاپي ادبیاتو د موخې او ماهیت څخه د درک ښه زمینه برابروي، بلکه د ماشوم لپاره همدا راز د نورو د مطالعی او لیدنې لکه د نورو ماشومانو د کورنې کار لیدنې فرصت برابروي. په کورنۍ کې د کتابونو شتون وروسته بیا په ښوونځي کې د کاریدنې او د موادو په پراختیا کې مرسته کوي.

د افغانستان په څو شاخصیزه سروې کې د ټولو میندو/ ځارونکو څخه د ماشومانو د کتابونو د شمیر یا انځوریزه کتابونو، کورنی ځیزونو او بهر ځیزونو، په کور کې د جوړ شویو د لوبو ځیزونو او یا هغه د لوبو شیانو په هکله چې له هټۍ ځینې راوړل شوي، پوښتنه شوي ده.

## ۹.۳ جدول: د زده کړې توکي

**د پنځه کلنۍ عمر لاندې ماشومانو سلنه په کورنۍ کې د ماشومانو د شته کتابونو د شمیر په بیلوالي او د لوبو هغه ځیزونه چې ماشوم ورسره لوبې کوي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹**

| | هغه کتابونه چې کورنۍ نی د ماشوم لپاره لري: | | هغه د لوبو ځیزونه چې ماشوم ورسره لوبې کوي: | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۳ یا زیات د ماشومانوکتابونه [1] | ۱۰ یا زیات د ماشومانوکتابونه | په کور کې جوړ شوي د لوبو ځیزونه | د لوبو هغه ځیزونه چې له هټۍ رانیول شوي دي | د کور ځیزونه/ هغه ځیزونه چې له کور نه بهر ئې موندلي | دوه یا تردوه زیات د لوبو ځیزونه | تر ۵ کلنۍ عمر لاندې ماشومانو شمیر |
| **جنس** | | | | | | | |
| نارینه | 2.1 | 0.4 | 61.4 | 48.5 | 43.9 | 53.6 | 7,653 |
| ښځینه | 2.3 | 0.4 | 60.8 | 46.5 | 43.2 | 51.6 | 7,218 |
| **زون** | | | | | | | |
| مرکزي | 3.9 | 0.8 | 55.8 | 62 | 31.6 | 51.1 | 2,230 |
| مرکزي لوړې سیمې | 1.9 | 0.5 | 26.2 | 25.9 | 39.9 | 27.9 | 517 |
| ختیځ | 2.8 | 0.2 | 70.8 | 48.8 | 65.4 | 66.8 | 1,667 |
| شمال | 1.4 | 0.3 | 63.3 | 42 | 39.5 | 52.3 | 2,087 |
| شمال ختیځ | 0.5 | 0.1 | 60 | 43.1 | 43 | 52.4 | 2,464 |
| سهیل | 1.6 | 0.8 | 71.9 | 50.2 | 44.6 | 52.1 | 1,774 |
| سهیل ختیځ | 3.1 | 0.2 | 58.8 | 51.9 | 39.7 | 52.3 | 2,308 |
| لویدیځ | 2.3 | 0.2 | 60 | 38.8 | 48.6 | 50.1 | 1,825 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | | |
| ښاري | 5 | 1.4 | 55.5 | 66.5 | 34.9 | 55.9 | 2,398 |
| کلیوالي | 1.7 | 0.2 | 62.2 | 43.9 | 45.2 | 52 | 12,474 |
| **عمر** | | | | | | | |
| 0-23میاشتنې | 0.4 | 0.1 | 38.9 | 32.7 | 23.1 | 29 | 4,741 |
| 59-24 میاشتنې | 3 | 0.5 | 71.5 | 54.4 | 53.1 | 63.7 | 10,131 |
| **د زده کړې درجه** | | | | | | | |
| نا لوستی | 1.8 | 0.3 | 61.6 | 45.4 | 44.3 | 52.1 | 13,532 |
| لمرنی | 2.4 | 0.3 | 51.1 | 60.6 | 36.7 | 53.2 | 698 |
| ثا نوي او ترهغې پورته | 10.7 | 2.4 | 60 | 77.9 | 36 | 63.6 | 634 |
| **د شتمنۍ شاخص کوانټیل** | | | | | | | |
| ډیر بې وزلي | 1.4 | 0 | 66.5 | 35 | 47.7 | 52.2 | 3,101 |
| دویم | 1.2 | 0.1 | 61.5 | 38.4 | 44.2 | 48.9 | 3,190 |
| منځنی | 1 | 0.2 | 62.2 | 45.4 | 45.6 | 53.6 | 3,015 |
| څلورم | 2.7 | 0.2 | 58.3 | 54.4 | 41.6 | 52.4 | 2,983 |
| ډیر شتمن | 5.2 | 1.4 | 56.2 | 68.2 | 37.6 | 56.8 | 2,583 |
| **ټول** | 2.2 | 0.4 | 61.1 | 47.5 | 43.6 | 52.6 | 14,872 |

[1] د څو شاخصیزه سروې ۶.۳ شاخص، ۲ د څو شاخصیزه سروې ۶.۴ شاخص

په افغانستان کې، یوازې ۲ په سلو کې د ۰ تر۵۹ میاشتنې ماشومان په داسې کورنیو کې ژوند کوي چې په هغې کې لږترلږه د ماشومانو درې توکه کتابونه شته دي ( ۹.۳ جدول ). د ماشومانو نسبت د ۱۰ کتابونو یا ترهغې زیات نیږدې صفر ته کموالی مومي، په داسې حال کې چې جنسیتي توپیر نه دی لیدل شوی، داسې لیدل کیږي چې ښاري ماشومان ( ۵ سلنه ) نسبت کلیوالي ماشومانو ته (۲ سلنه ) د ماشومانو کتابونو ته زیاتره لاس رسی لري.

د ماشومانو د کتابونو شتون د ماشوم د عمره سره مثبته پیاوړي اړیکه لري. په سلو کی ۴ د ۲۴ تر۵۹ کالنی ماشومانو لپاره دري یا تردریو زیات کتابونه په کور کی موجود دي، په داسي حال کي چي دغه رقم د ۰ تر۲۳ کالني ماشومانو لپاره یو څه له ۰ څخه زیات دی. د ماشومانو د کتابونو شتون د مور د زده کړې له درجي سره مثبته اړیکه لري. په سلو کي ۱۱ د هغو ماشومانو چي میندې ئې د ثانوي او یا ترهغي لوړې زده کړو لرونکي دي درې او یا تر دریو زیات د ماشومانو کتابونه لري. د پام وړ توپیرونه د ماشومانو د کتابونو د شتون په اړه د زونونو پراساس او د کورنیو د اقتصادي او ټولنیز حالت په بیلوالي موندل شوي دي.

۹.۳ جدول همدا راز دا ښئي چي د ۰ تر۵۹ میاشتني ماشومانو په سلو کي ۵۳ دوه او یا له دوو زیات د لوبو څیزونه درلودل چي په کورکي ورسره لوبي وکړي. هغه د لوبو څیزونه چي د افغانستان په څو شاخصیزه سروې کي سروې شوي دی په کور کي جوړښوي د لوبو څیزونه (لکه نانزکه او ګاډي او داسي نور د لوبو څیزونه چي په کور کي جوړشوي دي)، هغه د لوبو څیزونه چي له یوې هټی څیني رانیول شوي دي او د کور سامان ( لکه لوښي او کاسي ) او هغه سامان او توکي چي له کوره بهر پیدا کیږي ( لکه لرګي، ډبره یا پاڼي ) په برکي نیسي.

وموندل شوه چي ۴۸ سلنه د ۰ تر۵۹ میاتشتني ماشومان د لوبو له هغه څیزونو سره لوبې کوي چي له یوې مغازې څني برابرشوي دي او د لوبو د هغو څیزونو سلنه چي په کور کي جوړشوي دي ۴۱ دي. د هغو ماشومانو نسبت چي دوه یا تردوه زیات د لوبو څیزونه لري د نارینه ماشومانو په منځ کي ۵۴ سلنه او د ښځینه ماشومانو په منځ کي ۵۲ سلنه دي. یو څه توپیر د ښاري وګړو( ۵۶سلنه ) او کلیوالي وګړو( ۵۲سلنه ) تر منځ موندل شویدي. که څه هم یوغټ توپیر د مور د زده کړې د درجي له پلوه موندل شویدی : ۴۴ سلنه هغه ماشومان چي میندې ئې د ثانوي او ترهغي لوړې زده کړې لري دوه او یا تر دوو زیات د لوبو څیزونه درلودل، په داسي حال کي چي دغه نسبت د هغو میندو لپاره چي زده کړې ئې ندي کړي په سلو کي ۵۲ دي. توپیرونه همدا راز د کورنیو د اقتصادي او ټولنیزحالت له پلوه او زونونو کي لیدل شویدي. نیږدي ۵۷ سلنه هغه ماشومان چي په ډیرو شتمنو کورنیو کي ژوند کوي، دوه او یا تردوو زیات د لوبو شیان لري، په داسي حال کي چي دغه رقم د هغو ماشومانو لپاره چي په دویم کوانټیل کي ژوند کوي په سلو کي ۴۹ دی. شاوخوا په سلو کي ۴۷ د هغو ماشومانو چي په ختیځ زون کي ژوند کوي په سلو کي د ۴۸ په پرتله چي په مرکزي لوړو سیمو کي ژوند کوي دوه او یا تر دوو زیات د لوبو څیزونه لري.

### د ماشومانو څخه څارنه

د ماشومانو یوازي یا د بالغ کس پرته د نورو ماشومانو په وړاندي پریښودل د ماشومانو لپاره د پیښو ګواښونو ته زیاتوالی ورکوي. د افغانستان په څو شاخصیزه سروې کي له ځواب ورکوونکو څخه دوه پوښتني پوښتل شوي دي ترڅو معلومه شي چي د ۰ تر۵۹ میاشتني ماشومان تر سروې دمخه د یوې اونی په جریان کي یوازې پریښودل شوي دي او یا دا چي ماشومان د لس کالنی کمو ماشومانو ترڅارني لاندې پریښودل شوي دي.

## ۹.۴ جدول: نا مناسبه څارنه

| د ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو سلنه چې پرېښودل شوي دي یا لېرترلږه یو ځلې تر یوی ګړي زیاتې مودې لپاره د یوه بل تر۵ ۱کلنی کم ماشوم ترڅارنې لاندې راغلي دي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | ترِ ۵ کلنی عمر لاندې ماشومانو سلنه | | | |
| | په اونی کې یوازې پرېښودل ښوی | د یوه بل تر۱۵ کلنی کم ماشوم ترڅارنې لاندې راغلي دي | په تیره اونی کې د نامناسبې څارنې لاندې پرېښودل شوي دي[۱] | د ۵ کلنی عمرلاندې ماشومانو شمیر |
| **عمر** | | | | |
| نارینه | 32.1 | 35 | 41.5 | 7,653 |
| ښځینه | 30.6 | 32.8 | 38.8 | 7,218 |
| **زون** | | | | |
| مرکزي | 17.1 | 13.3 | 20.5 | 2,230 |
| مرکزي لوړې سیمې | 36.2 | 37.8 | 46.6 | 517 |
| ختیځ | 26.3 | 26.9 | 33.4 | 1,667 |
| شمال | 24.4 | 38 | 42.3 | 2,087 |
| شمال ختیځ | 23.3 | 29.6 | 33.8 | 2,464 |
| سهیل | 34.8 | 30.1 | 38.2 | 1,774 |
| سهیل ختیځ | 64.8 | 67.5 | 75.3 | 2,308 |
| لویدیځ | 25.2 | 26.9 | 32.6 | 1,825 |
| **د استوګنې ځای** | | | | |
| ښاري | 18.9 | 19.7 | 25.7 | 2,398 |
| کلیوالي | 33.7 | 36.7 | 43 | 12,474 |
| **عمر** | | | | |
| 0-23میاشتني | 20.4 | 23.2 | 28.5 | 4,741 |
| 24-59 میاشتني | 36.5 | 39 | 45.7 | 10,131 |
| **د زده کړې درجه** | | | | |
| نا لوستی | 32.5 | 35.3 | 41.6 | 13,532 |
| لمرنی | 19.5 | 20.7 | 26.6 | 698 |
| ثا نوي اوترهغې پورته | 20.6 | 18 | 26.4 | 634 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | | | |
| ډیر بې وزلي | 34.1 | 36.6 | 43.3 | 3,101 |
| دویم | 34.1 | 35.9 | 42.4 | 3,190 |
| منځنی | 35.6 | 39.1 | 45.5 | 3,015 |
| څلورم | 30.3 | 35.3 | 40.5 | 2,983 |
| ډیر شتمن | 20.9 | 20.7 | 27.3 | 2,583 |
| **تول** | 31.4 | 33.9 | 40.2 | 14,872 |

۱ د ځو شاخصیزه سروې ۶.۵ شاخص

جدول ۹.۴ دا ښئي چې د ۰ تر۵۹ میاشتني ماشومانو۳۴٪ د نورو ماشومانو ترڅارنې لاندې پرېښودل شوي دي، په داسې حال کې چې ۳۱٪ ماشومان د مرکي یوه اونۍ وړاندې یوازې پرېښودل شوي وو. د څارنې د دواړو شاخصونو په ترکیب سره داسې سنجش شوی دی چې د ماشومانو په سلو کې ۴۰ د سروې یوه اونۍ وړاندې د یوازې پرېښودلو او یا د یوه بل ماشوم ترڅارنې لاندې کېنولو، نا مناسبه څارنه ترسره شوې ده. ځنې توپیرونه د ماشوم د جنسیت له پلوه لیدل شوي دي ( ۴۲٪ هلکان ۳۹٪ نجونې ) او لدې زیات توپیرونه د ښاري ساحو( ۲۴٪ ) او کلیوالي ساحو( ۴۳٪ ) ترمنځ موندل شوي دي.

نامناسبه څارنه د هغو ماشومانو ترمنځ چې میندو ئې زده کړه ندې کړې ( ۴۲٪ ) د هغو میندو په پرتله چې د لمړنیو تعلیماتودرلودونکې دي ( ۲۷٪ ) ډېره خوره ده. ۲۴ تر۵۹ میاشتني ماشومان ( ۴۷٪ ) نظر۰تر۲۳ میاشتني ماشومانو ته ( ۲۹٪ ) زیاتره د نامناسبې څارنې سره پرېښودل شوي دي. د کورنیو د اقتصادي او ټولنیز حالت او زون تر منځ عمده توپیرونه کیدلای شي بیاموندل شي. د ۲۷٪ څخه زیات هغه ماشومان چې په ډېرو شتمنو کورنیو کې ژوند کوي د نامناسبې څارنې لاندې پرېښودل شوي دي، په داسې حال کې چې دغه رقم د هغو ماشومانو لپاره چې د اقتصادي او ټولنیزحالت له پلوه په منځنیو کورنیو کې ژوند کوي ( ۴۶ سلنه ) ډېر لوړدی. تر۵ کالنی عمرلاندی ماشومان په سهیل ختیځ زون کې ( ۷۴ سلنه ) د ډېر کم رقم په پرتله چې په مرکزي زون کې ( ۲۱ سلنه ) دی په زیات ډېروالي سره تر نامناسبې څارنې لاندې کېنول شوي دي.

## په افغانستان کې د ماشوم د لمړنی پرمختیاارزونه

په کورنیو کې له ډېری ماشومانو سره په فعالیتونو کې بالغ کسان بوخت وو او زیاتره کورنیو د لوبو څیزونه، هغه شرایط چې د ټولنیزمتقابل عمل او درک له ودې سره مرسته کوي، په کورنیو کې درلودلي دي. که څه هم په کور کې کتاب ته لاس رسی په هیواد کې په ډېره ټیټه کچه کې دي، د لمړنیو عمرونو څخه کتاب ته د ماشومانو لاس رسی د سواد د پراختیا او وروسته بیا په ښوونځي کې د زده کړې لپاره د یوه پیاوړې بنسټ د برابرولو په خاطر یوه ثابته شوي وسیله ده. په افغانستان کې د ماشومتوب په لومړیو کې په ښوونه او روزنه کې حضور لمړني ښوونځي ته د تیریدو له بریالیو پایلو سره ډېر ټیټ دی. دغه موندنې په افغانستان کې د ماشوم د پرمختیا ځانګړې ساحې، په هغه ځای کې چې مداخلې تضمین شوي دي ترڅو ماشوم ته د فرصتونو د لوړتیا په خاطرچې د صحتمنده ژوند او ټولنیزې وړتیا سره مرسته وکړي، برجسته کوي.



# 10

## سواد او ښوونه او روزنه

### سواد د ځوانو ښځو په منځ کې

د "ماشومانو لپاره مناسبه نړۍ" له موخو څخه یوه هم د بالغو کسانو د سواد له تضمین څخه عبارت دي. د بالغو نارینه و اوښځینه و کسانو سواد همدا راز د زریزې له پرمختیائي موخوڅخه یوه ده. د افغانستان په څو شاخصیزه سروې کې، ترکومه چې د بالغو کسانو لپاره د میرمنو یو پوښتنلیک تطبیق شوي دي، څکه خو پایلي ئي یوازې د ۱۵ تر۲۴کالنی میرمنو په ځوابونو ولاړې دي. سواد د یوې لنډې جملې لوستلو لپاره د یوې میرمنې د پیاوړتیا پراساس یا دا چې د ترلاسه شوي لوړې تعلیمي کچې پربنسټ ارزول شوي ده. د افغانستان په څو شاخصیزه سروې کې یوه میرمنه چې په منځنی ښوونځي یا ترهغي لوړ کې حضور درلودلی د باسواده په څېرشمیرل شوي ده. د یوې میرمنې لپاره چې منځنی ښوونځي او یا ترهغي لوړ ئي ندي تعقیب کړې یوه ساده جمله ورکړل شوي چې وئي لولي. هرکله چې توانیږي جمله په بشپړ ډول ولولي د باسوادي په شان ګڼل شوي ده. د ۱۵ تر۲۴ کالنی ښځو د سواد کچه په ۱۰.۱ جدول کې ښودل شوي ده.

## ۱۰.۱جدول: سواد د ځوانو میرمنو په منځ کې

| د ۱۵ تر ۲۴ کالنی میرمنو سلنه چې باسواده دي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | |
|---|---|---|---|
| | د باسواده سلنه | نامعلومه سلنه | د ۲۴-۱۵ کالنی میرمنو شمیر |
| **زون** | | | |
| مرکزي | 40.5 | 0.3 | 1,762 |
| مرکزي لوړي سیمي | 34.6 | 0.1 | 343 |
| ختیځ | 16.4 | 0.1 | 866 |
| شمال | 24.2 | 0.5 | 1,257 |
| شمال ختیځ | 20.8 | 0 | 1,799 |
| سهیل | 2.7 | 0 | 1,259 |
| سهیل ختیځ | 16.1 | 0.1 | 1,121 |
| لویدیځ | 21.9 | 0.6 | 1,213 |
| **د استوګنی ځای** | | | |
| ښاري | 51.6 | 0.6 | 1,868 |
| کلیوالي | 15.1 | 0.1 | 7,752 |
| **د زده کړې درجه** | | | |
| نا لوستی | 1.1 | 0.1 | 6,749 |
| لمړنی | 28.9 | 1.1 | 1,135 |
| ثا نوي او ترهغې پورته | 100 | 0 | 1,733 |
| **عمر** | | | |
| 19-15 میاشتني | 27.7 | 0.3 | 5,510 |
| 24-20 میاشتني | 14.8 | 0.2 | 4,110 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | | |
| ډیر بې وزلي | 5.1 | 0.1 | 1,673 |
| دویم | 10.6 | 0.1 | 1,797 |
| منځنی | 13 | 0 | 1,875 |
| څلورم | 23.8 | 0.3 | 2,029 |
| ډیر شتمن | 50.3 | 0.4 | 2,245 |
| **ټول** | 22.2 | 0.2 | 9,620 |
| د څو شاخصیزه سروې ۷.۱ شاخص د زریزې د پرمختیا ئي موخو ۲.۳ شاخص | | | |

۱۰.۱ جدول دا ښئي چې په افغانستان کې د هرو پنځو ښځو څخه له یوې ښځې کمې باسواده دي او په کلیوالي ساحو کې د ښځو د باسوادی کچه نسبت ښاري ساحو ته تر درې ځلي زیاته ټیټه ده. د هغو میرمنو له ډلې چې ویلي دي د زده کړې درجه ئي لمړنی ښوونځی دی یوازې په سلو کې ۲۹یدې توانیدلي چې هغه جمله کومه چې ورته ښودل شوي ولولي. سواد د ډیرو بې وزلو کورنیو میرمنو ترمنځ ۱۵ځلي د خپلو سیالانو څخه ئي په ډیر شتمن کوانتیل کې ټیټ دی.

په ښوونځي کې پرمختګ زیاتره د شناختی پیاوړتیاو سره چې په تیتو عمرونو کې لاسته راځي، اړیکه لري. د ماشومتوب په لمړیو کې د ماشوم د پرمختیا په بشپړونکو پروګرامونو کې برخه اخیستنه کولای شي د ماشوم په راتلونکي ښووني او روزني کې مهم نقش ولوبوي. څکه چې دا د فکر کولو طرز ماشوم ته د زده کړې په وړاندې شکل ورکوي او د ماشوم سره مرسته کوي ترڅو ټولنیزو اساسي مهارتونو ته پراختیا ورکړي. تر ښوونځی وړاندې تعلیماتو کې، په یوه سازمان یافته زده کړې یا د ښووني او روزنې پروګرام کې د ماشومانو حضور د ښوونځي لپاره د تیاري نیولو په خاطر ډیر د اهمیت وړدي. جدول ۱۰.۲ په ۱۳۹۰-۱۳۸۹ تعلیمي کال کې د لمړني ښوونځي په لمړی ټولګي کې د ماشومانو نسبت کومو چې تر ښوونځي وړاندې تعلیمات ئې په تیر تعلیمي کال کې تعقیب کړي دي، ښئي.

## ۱۰.۲جدول: د ښوونځي لپاره تیاری

| د لمړنی ښوونځي په لمړی ټولګي کې د شاملو ماشومانو سلنه چې یو کال دمخه ئې تر ښوونځي وړاندې تعلیمات تعقیب کړي دي، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | |
|---|---|---|
| | د هغو ماشومانو سلنه چې په لمړی ټولګي کې شامل دي او یوکال دمخه ئې تر ښوونځي وړاندې تعلیمات تعقیب کړي دي[۱] | د هغو ماشومانو شمیر چې د ښوونځي په لمړی ټولګي کې شامل دي |
| **جنس** | | |
| نارینه | 12.3 | 684 |
| ښځینه | 13.1 | 525 |
| **زون** | | |
| مرکزي | 19.1 | 255 |
| مرکزي لوړې سیمې | 4.9 | 92 |
| ختیځ | 30.7 | 161 |
| شمال | 6.1 | 159 |
| شمال ختیځ | 6.7 | 217 |
| سهیل | 9.7 | 36 |
| سهیل ختیځ | 10 | 118 |
| لویدیځ | 6.2 | 170 |
| **د استوګنې ځای** | | |
| ښاري | 19.8 | 280 |
| کلیوالي | 10.5 | 928 |
| **د زده کړې درجه** | | |
| نا لوستی | 11.1 | 1,063 |
| لمړنی | 19.4 | 83 |
| ثا نوي او ترهغې پورته | 31 | 61 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | |
| ډیربې وزلي | 11.9 | 224 |
| دویم | 10.1 | 200 |
| منځنی | 8.2 | 220 |
| څلورم | 9.6 | 247 |
| ډیر شتمن | 20.3 | 317 |
| **ټول** | 12.7 | 1,208 |
| **۱ د څو شاخصیزه سروې ۷.۲ شاخص** | | |

په ټولیزه توګه یوازې په سلو کې ۱۳ هغه ماشومانو چې د لمړنی ښوونځي لمړی ټولګی ئې په ۱۳۸۹ تعلیمي کال کې تعقیبولو، تر ښوونځی وړاندې تعلیمات ئې مخکینی کال کې تعقیب کړي دي. د هغو ماشومانو نسبت چې په کلیوالي ساحو کې ( ۱۱ سلنه ) په مخکیني کال کې تر ښوونځي وړاندې تعلیمات تعقیب کړي دي نیږدې دوه ځلي تر هغو ماشومانو کم دي چې په ښاري ساحو کې ( ۲۰سلنه ) ژوند کوي.سیمه ایز توپیرونه همدا راز ډیر د پام وړدي. د مرکزي لوړو سیمو په زون کې د لمړی ټولګي زده کوونکي ( ۵ سلنه) د خپلو سیالانو څخه چې په ختیځ زون کې ژوند کوي (۳۱سلنه ) ښائي تر ښوونځي وړاندې تعلیمات شپږ ځلي کم تعقیب کړي.

## په لمړنیو او ثانوي ښوونځیو کې برخه اخیستل

اساسي ښووني او روزني ته د ټولو لاس رسی او لمړنیو زده کړو ته د نړۍ د ماشومانو په واسطه لاس رسی د زریزي د پرمختیائي موخو او همدارنګه د " ماشومانو لپاره مناسبه نړۍ " له موخو څخه یوه دی. ښوونه او روزنه د بیوزلی سره د مبارزې، د ښځو پیاوړي کولو، د مضر او ګټه اوچتونکي کار څخه د ماشومانو ملاتړ، جنسي ګټه اخیستني، د بشر د حقونو او د موکراسی لوړتیا، د ژوند د چاپیریال ساتني او د نفوسو پر ودې باندې د اغیزي لپاره یو مخکینی اساسي شرط دی.

لمړنی او ثانوي ښوونځیو ته د شاملیدو شاخصونه مشتمل دي پر:

- په لمړنیو تعلیماتو کې د خالص جذب کچه
- په لمړنیو ښوونځیو کې د حضورخالص نسبت (تعدیل شوي)
- په ثانوي ښوونځیو کې د حضورخالص نسبت (تعدیل شوی )
- پر نارینه ؤ د ښځو د ښووني او روزني نسبت ( یا د جنسیت د تساوي شاخص) په لمړنیو او ثانوي ښوونځیو کې

د ښوونځي د پرمختګ شاخص مشتمل دي پر:
هغه ماشومان چې د لمړني ښوونځي وروستي ټولګي ته رسیږي

- د لمړني ښوونځي د بشپړتیا کچه
- ثانوي ښوونځي ته د لیږد کچه

په افغانستان کې د۷ کلنی عمر د ۱۳۷۷ تعلیمي کال تر چنګاښ پوري هرکله چې د 6 کالنۍ عمر لمړني ښوونځي ته د داخلیدو عمر شو، لمړنی ښوونځي ته د داخلیدو عمر ده، په دې راپور کې د ۷ کلنی عمر لمړني ښوونځي ته د داخلیدو عمر قبول شوی دی.

**۱۰.۳جدول: د لمړني ښوونځي لمړی ټولګي ته د شامليدو عمر د ماشومانو سلنه ( د جذب خالصه کچه )، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹**

| | لمړنی ښوونځي ته د شامليدو د عمر د ماشومانو سلنه چې لمړی ټولګي ته شامل شوي دي[1] | لمړني ښوونځي ته د شامليدوعمر د ماشومانو شمير |
|---|---|---|
| **جنس** | | |
| نارينه | 31.8 | 1,913 |
| ښځينه | 26.1 | 1,824 |
| **زون** | | |
| مرکزي | 45.1 | 502 |
| مرکزي لوړي سيمي | 43.1 | 126 |
| ختيځ | 25.2 | 534 |
| شمال | 27.1 | 499 |
| شمال ختيځ | 33.4 | 598 |
| سهيل | 11.7 | 504 |
| سهيل ختيځ | 26.1 | 462 |
| لويديځ | 30 | 511 |
| **د استوګنې ځای** | | |
| ښاري | 42.7 | 599 |
| کليوالي | 26.4 | 3,138 |
| **د زده کړې درجه** | | |
| نا لوستی | 27.5 | 3,471 |
| لمړنی | 47.8 | 134 |
| ثا نوي او ترهغې پورته | 48.9 | 131 |
| **د شتمنۍ شاخص کوانتيل** | | |
| ډير بي وزلي | 21.8 | 842 |
| دويم | 25.5 | 749 |
| منځنی | 24.6 | 744 |
| څلورم | 31.5 | 773 |
| ډير شتمن | 44.9 | 629 |
| **ټول** | 29.0 | 3,737 |

[1] د څو شاخصيزه سروې ۳.۷شاخص

په ۱۳۸۹ کال کې، ۲۹سلنه د شرايطو درلودونکو ماشومانو د لمړني ښوونځي لمړی ټولګي تعقيب کړی ده ( ۱۰.۳ جدول ). جنسيتي توپيرونه، د ۲۶ سلنه د نجونو حضور او ۳۲ سلنه د هلکانو حضورسره، شتون لري. د پام وړ توپيرونه د زونونو، ښاري او کليوالی ساحو پر اساس شته. د بيلګې په ډول، په سهيلی زون کې په ښوونځي کې د حضور شاخص په سلو کې ۱۲ دی، په داسې حال کې چې دغه رقم په مرکزي زون کې په سلو کې ۴۵ ته رسيږي. لمړی ښوونځي ته د ماشومانو شامليدل په ښاري ساحو کې (۴۳ سلنه ) نسبت کليوالي ساحو ته ( ۲۶ سلنه ) پخپل وخت سره دي. يوه پياوړي مثبته اړيکه د مور د زده کړې درجې او د اقتصادي او ټولنيز حالت سره وجود لري. د ۷ کلنو ماشومانو له ډلې څخه د کومو چې مينديې ئې لږترلږه ثانوي زده کړې لري په سلو کې ۴۹ ئې لمړی ټولګی تعقيبوي. په شتمنو کورنيو کې دغه نسبت په سلو کې ۴۵ دی، په داسې حال کې چې دغه رقم د هغو ماشومانو لپاره چې په ډيرو بيوزلو کورنيو کې ژوند کوي په سلو کې ۲۲دی.

۱۰.۴جدول: د لمړني ښوونځي د عمر ماشومانو سلنه (۷ تر۱۲ کالنی ) چي په لمړنيو او يا ثانوي ښوونځيو کي حضور لري ښئي[۱۸]

## ۱۰.۴جدول: په لمړنيو ښوونځيو کي حضور

| د لمړني ښوونځي د عمر ماشومانو سلنه چي لمرنی يا ثانوي ښوونځی تعقيبوي( د خالص حضور تعديل شوی نسبت )، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | نارينه | | ښځينه | | تول | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | د حضور خالص نسبت ( تعديل شوی ) | د ماشومانو شمير | د حضور خالص نسبت ( تعديل شوی) | د ماشومانو شمير | د حضور خالص نسبت ( تعد يل شوی)[۱] | د ماشومانو شمير |
| **زون** | | | | | | |
| مرکزي | 87.6 | 1,361 | 67.4 | 1,278 | 77.9 | 2,639 |
| مرکزي لوړي سيمي | 83.1 | 302 | 71.8 | 312 | 77.4 | 614 |
| ختيځ | 67.2 | 1,221 | 41.8 | 1,040 | 55.5 | 2,261 |
| شمال | 65 | 1,269 | 56.8 | 1,229 | 60.9 | 2,499 |
| شمال ختيځ | 65.5 | 1,380 | 51 | 1,328 | 58.4 | 2,708 |
| سهيل | 28.6 | 1,496 | 13.5 | 1,215 | 21.9 | 2,710 |
| سهيل ختيځ | 66.1 | 1,138 | 30.4 | 857 | 50.8 | 1,996 |
| لويديځ | 60.2 | 1,306 | 50.8 | 1,165 | 55.8 | 2,471 |
| **د استوګني ځای** | | | | | | |
| ښاري | 82.5 | 1,605 | 72.8 | 1,527 | 77.8 | 3,133 |
| کليوالي | 58.9 | 7,868 | 40.6 | 6,897 | 50.4 | 14,766 |
| **عمر د تعليمي کال په پيل کي** | | | | | | |
| 7 | 50.8 | 1,913 | 41.4 | 1,824 | 46.2 | 3,737 |
| 8 | 55.4 | 1,430 | 48.3 | 1,259 | 52.1 | 2,690 |
| 9 | 67.9 | 1,878 | 47.8 | 1,639 | 58.5 | 3,516 |
| 10 | 66 | 1,178 | 48.5 | 924 | 58.3 | 2,102 |
| 11 | 72.8 | 1,707 | 50.3 | 1,480 | 62.3 | 3,187 |
| 12 | 65.7 | 1,367 | 44.3 | 1,298 | 55.3 | 2,665 |
| **د زده کړي درجه** | | | | | | |
| نالوستی | 60.8 | 8,807 | 43.2 | 7,766 | 52.6 | 16,572 |
| لمړنی | 88.8 | 311 | 79.7 | 319 | 84.2 | 630 |
| ثانوي او ترهغي پورته | 93.7 | 349 | 90.6 | 336 | 92.2 | 685 |
| **د شتمنی شاخص کوانتيل** | | | | | | |
| ډير بي وزلي | 48.3 | 2,065 | 30.1 | 1,750 | 40 | 3,815 |
| دويم | 55.2 | 1,900 | 37.5 | 1,620 | 47 | 3,521 |
| منځنی | 59.8 | 1,927 | 39.4 | 1,663 | 50.4 | 3,589 |
| څلورم | 69.5 | 1,812 | 52.5 | 1,701 | 61.2 | 3,513 |
| ډير شتمن | 84.8 | 1,769 | 72.8 | 1,690 | 79 | 3,459 |
| **تول** | 62.9 | 9,474 | 46.4 | 8,424 | 55.2 | 17,898 |

[۱] د څو شاخصيزه سروی ۷.۴ شاخص. د زريزي د پرمختيا ني موخو۲.۱ شاخص

هغه نسبتونه چي په دې جدول کي ښودل شوي، تعديل شوي دي ځکه چي دغه نه يوازي په لمړنيو ښوونځيو کي حضور بلکه همدا راز په ثانوي ښوونځيو کي حضور د کسر په صورت کي ورشامليږي.۱۸

يوازې په سلو کې ۵۵ د لمړني ښوونځي د عمر ماشومان (۱۲-۷ کالنۍ ) په ښوونځي کې حضور لري (۱۰.۴ جدول). په ښاري ساحو کې په سلو کې ۷۸ په ښوونځي کې حضور لري، په داسې حال کې چې په کليوالي ساحو کې حضور په سلو کې ۵۰ دی. د هغو ماشومانو نسبت چې په لمړنيو يا ثانوي ښوونځيو کې حضور لري د ماشوم د عمر سره تر ۱۱کالنۍ پورې زياتوالی مومي. حضور د ۱۲ کالنۍ څخه په کميدو پيل کوي. په لمړنيو ښوونځيو کې حضور د پام وړ توپيرونه د هغو ماشومانو ترمنځ چې په ډيرو بډوزلو کورنيو کې ژوند کوي ( حضور۴۰ سلنه ) او هغوی چې په ډيرو شتمنو کورنيو کې ژوند کوي (حضور۷۹ سلنه ) شتون لري.

## ۱۰.۵جدول: په ثانوي ښوونځیو کې حضور

| د ثانوي ښوونځیو د عمر ماشومانو سلنه چې په ثانوي او یا ترهغې لوړ ښوونځي کې ( د حضور خالص تعدیل شوی نسبت) او د هغو ماشومانو سلنه چې په لمړني ښوونځي کې حضور لري، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | نارینه | | | ښځینه | | | ټول | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د حضور خالص نسبت ( تعدیل شوی)[۱] | د هغو ماشومانو سلنه چې په لمړني ښوونځي کې حضور لري | د ماشومانو شمیر | د حضور خالص نسبت ( تعدیل شوی[۱]) | د هغو ماشومانو سلنه چې په لمړني ښوونځي کې حضور لري | د ماشومانو شمیر | د حضور خالص نسبت ( تعدیل شوی[۱]) | د هغو ماشومانو سلنه چې په لمړني ښوونځي کې حضور لري | شمیر |
| **زون** | | | | | | | | | |
| مرکزي | 65.8 | 6.6 | 1,272 | 36 | 6.6 | 1,337 | 50.5 | 6.6 | 2,609 |
| مرکزي لوړې سیمې | 54.1 | 16.3 | 232 | 33.8 | 15.2 | 256 | 43.4 | 15.8 | 488 |
| ختیځ | 49.5 | 13.4 | 842 | 13 | 4.3 | 697 | 33 | 9.3 | 1,539 |
| شمال | 42.9 | 12.4 | 1,083 | 27 | 6.6 | 1,011 | 35.2 | 9.6 | 2,094 |
| شمال ختیځ | 40.4 | 12.6 | 1,177 | 23.7 | 6.2 | 1,256 | 31.8 | 9.3 | 2,433 |
| سهیل | 19 | 3.2 | 1,477 | 3 | 1.1 | 1,123 | 12.1 | 2.3 | 2,600 |
| سهیل ختیځ | 57.4 | 12.7 | 916 | 15.3 | 3.6 | 721 | 38.8 | 8.7 | 1,637 |
| لویدیځ | 29.7 | 17.1 | 989 | 18.5 | 13.8 | 943 | 24.2 | 15.5 | 1,932 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | | | | |
| ښاري | 61.8 | 8.9 | 1,469 | 48.6 | 5.8 | 1,407 | 55.3 | 7.4 | 2,876 |
| کلیوالي | 38.5 | 11 | 6,519 | 14.5 | 6.6 | 5,937 | 27.1 | 8.9 | 12,456 |
| **عمر د تعلیمي کال په پیل کې** | | | | | | | | | |
| 13 | 35.3 | 28.6 | 1,308 | 24 | 15.3 | 1,482 | 29.3 | 21.5 | 2,790 |
| 14 | 42.8 | 17.6 | 1,480 | 22.5 | 9.8 | 1,103 | 34.2 | 14.2 | 2,582 |
| 15 | 48.4 | 7.6 | 1,485 | 24 | 4.6 | 1,317 | 36.9 | 6.2 | 2,802 |
| 16 | 47.6 | 4.1 | 979 | 22.1 | 3.2 | 976 | 34.9 | 3.6 | 1,955 |
| 17 | 44 | 2.4 | 1,799 | 18 | 1.7 | 1,590 | 31.8 | 2.1 | 3,390 |
| 18 | 36.8 | 2.1 | 938 | 14.2 | 2.1 | 875 | 25.9 | 2.1 | 1,814 |
| **د زده کړې درجه** | | | | | | | | | |
| نا لوستی | 40.9 | 15.1 | 4,895 | 20.1 | 8.9 | 4,319 | 31.2 | 12.2 | 9,214 |
| لمړنی | 67.1 | 12.5 | 166 | 49.6 | 13.1 | 186 | 57.9 | 12.8 | 353 |
| ثا نوي او ترهغې پورته | 83.5 | 9.5 | 204 | 79 | 5.2 | 192 | 81.3 | 7.4 | 396 |
| ناکلی ونکړای شو | 47.1 | 4.5 | 218 | 8.1 | 1.7 | 358 | 22.8 | 2.8 | 575 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | | | | | | | | |
| ډیر بې وزلي | 24 | 11.7 | 1,543 | 5.5 | 5.7 | 1,294 | 15.6 | 9 | 2,837 |
| دویم | 32.6 | 10.2 | 1,496 | 10.9 | 5.6 | 1,350 | 22.3 | 8 | 2,846 |
| منځنی | 37.8 | 11.4 | 1,589 | 13.8 | 6 | 1,452 | 26.4 | 8.8 | 3,041 |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خلورم | 50.9 | 10.8 | 1,589 | 22.6 | 8 | 1,585 | 36.8 | 9.4 | 3,174 |
| دیر شتمن | 64.9 | 9.2 | 1,772 | 46.3 | 6.4 | 1,663 | 55.9 | 7.9 | 3,434 |
| **ټول** | 42.8 | 10.6 | 7,988 | 21.1 | 6.4 | 7,343 | 32.4 | 8.6 | 15,332 |

[۱] **د ځو شاخصیزه سروې ۷.۵ شاخص**

په ثانوي ښوونځيو کې د حضور خالص نسبت په ۱۰.۵ جدول کې ښودل شوی دی[۱۹]. شاوخوا ۳۲ سلنه د ثانوي ښوونځي د عمر ماشومان په ښوونځيو کې حضور لري. د حضور خالص نسبت په ثانوي ښوونځيو کې د نجونو لپاره ( ۲۱٪ ) له دوه ځلي زيات نظر هلکانو ته (۴۳سلنه ) ټیټ دی. د ثانوي ښوونځي د عمر ماشومانو په ثانوي ښوونځيو کې د حضور خالص نسبت په کليوالي ساحو کې دوه ځلی نظر خپلو ښاري سيالانو ته ټیټ دی. د هغو ماشومانو حضور چې په ډيرو بېوزلو کورنيو کې ژوند کوي نظر خپلو سيالانو ته چې په ډيرو شتمنو کورنيو کې ژوند کوي شاوخوا څلور ځلي ټيټ دی.

سيمه ايزه توپيرونه په ثانوي ښوونځيو کې د حضور په خالص نسبت کې د پام وړ دي. حضور په سهيلي زون کې (۱۲٪ ) د ټولو زونونو په منځ کې ډيرټيټ دی او په مرکزي زون کې له حضور څخه ( ۵۱٪) چې ډيرلوړ دی، شاوخوا ۵ ځلي ټيټ دی. شاوخوا يو ماشوم له هرو ۱۰ د ثانوي ښوونځي د عمر ماشومانو څخني ( ۹٪ ) په لمړنيو ښوونځيو کې حضور لري، په داسې حال کې چې بايد په ثانوي ښوونځيو کې ئې حضور درلودلی وای.

۱۰.۶جدول د هغو ماشومانو سلنه چې د لمړني ښوونځي لمړی ټولګي ته شامل شوي او بالاخره د لمړني ښوونځي وروستي ټولګي ته رسيږي ( د لمړني ښوونځي تر وروستي ټولګي پوري د پا تې کيدو کچه ) ښودونکي ده.

[۱۹] په دې جدول کې ورکړل شوي نسبتونه تعديل شوي دي، ځکه چې هغه نه يوازې په ثانوي ښوونځي کې حضور بلکه په لوړو کچو کې حضور د کسر په صورت کې ور شامليږي.

## ۱۰.۶جدول: هغه ماشومان چې د لمړني ښوونځي وروستي ټولګي ته رسيږي

| د هغو ماشومانو سلنه چې د لمړني ښوونځي لمړی ټولګي ته شامل شوي او بالاخره د لمړني ښوونځي وروستی ټولګي ته رسيږي ( د لمړني ښوونځي تر وروستي ټولګي پورې د پاتې کيدو کچه )، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | د هغو سلنه چې په تيرتعليمي کال کې په لمړي ټولګي کې وه او په اوسني تعليمي کال کې په ۲ ټولګي کې دی | د هغو سلنه چې په تيرتعليمي کال کې په لمړي ټولګي کې وه او په اوسني تعليمي کال کې په ۲ ټولګي کې دی | د هغو سلنه چې په تيرتعليمي کال کې په لمړي ټولګي کې وه او په اوسني تعليمي کال کې په ۲ ټولګي کې دی | د هغو سلنه چې په تيرتعليمي کال کې په لمړي ټولګي کې وه او په اوسني تعليمي کال کې په ۲ټولګي کې دی | د هغو سلنه چې په تيرتعليمي کال کې په لمړي ټولګي کې وه او په اوسني تعليمي کال کې په ۲ ټولګي کې دی | د هغو سلنه چې په تيرتعليمي کال کې په لمړي ټولګي کې وه او په اوسني تعليمي کال کې په ۲ ټولګي کې دی |
| **جنس** | | | | | | |
| نارينه | 94.3 | 97.6 | 96.8 | 96.6 | 98.5 | 84.7 |
| ښځينه | 94.4 | 97.6 | 98.1 | 95.9 | 97.2 | 84.2 |
| **زون** | | | | | | |
| مرکزي | 95.3 | 98 | 96.7 | 96.6 | 98 | 85.5 |
| مرکزي لوړي سيمي | 91.2 | 94.2 | 96.1 | 97.2 | 97 | 77.8 |
| ختيځ | 95.3 | 99.3 | 98.6 | 97.9 | 97.8 | 89.3 |
| شمال | 90.2 | 98.9 | 97.1 | 97.7 | 99.2 | 83.9 |
| شمال ختيځ | 95.7 | 98.2 | 97.1 | 98.1 | 96.8 | 86.6 |
| سهيل | 100 | 98.3 | 96.2 | 92.7 | 99.2 | 86.9 |
| سهيل ختيځ | 94.7 | 98.1 | 98.3 | 96.1 | 98 | 86.1 |
| لويديځ | 93.1 | 93.7 | 97.6 | 93.1 | 98.5 | 78.1 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | |
| ښاري | 95.1 | 96.1 | 96 | 96.4 | 98.1 | 83 |
| کليوالي | 94.1 | 97.9 | 97.7 | 96.3 | 98.1 | 85 |
| **د زده کړي درجه** | | | | | | |
| نا لوستی | 94.1 | 97.6 | 97.3 | 96.6 | 98.7 | 85.2 |
| لمړنی | 95.2 | 98.8 | 98.7 | 97.5 | 99.4 | 89.9 |
| ثا نوي او ترهغي پورته | 97.1 | 97.4 | 97.6 | 99.1 | 98.8 | 90.4 |
| **د شتمنی شاخص کوانتيل** | | | | | | |
| ډير بې وزلي | 92.4 | 97.4 | 96.4 | 97.2 | 98.5 | 83 |
| دويم | 95.8 | 97 | 96.9 | 97.7 | 98 | 86.3 |
| منځنی | 93.2 | 98.5 | 98.1 | 95.8 | 98.1 | 84.6 |
| څلورم | 95 | 98.5 | 98.2 | 94.3 | 97.7 | 84.7 |
| ډير شتمن | 95 | 96.4 | 96.8 | 96.9 | 98.2 | 84.3 |
| **ټول** | 95 | 94.5 | 97.1 | 93 | 97.8 | 84.1 |

۱ د څو شاخصيزه سروی ۷.۶ شاخص، د زريزې د پرمختيا ئي موخو ۲.۲ شاخص

د هغو ماشومانو سلنه چې لمړی ټولګي ته داخلیږي، بالاخره د لمړي ښوونځي وروستي ټولګي ته رسیږي ( په لمړی ښوونځي کې د پاتې کیدوکچه) په ۱۰.۶ جدول کې ښودل شوي دی. په افغانستان کې د لمړني ښوونځي وروستی ټولګی شپږم ټولګی دی. د ټولو هغو ماشومانو له ډلې چې لمړی ټولګی پیلوي د هرو ۵ تنو تر۴زیات (۸۴٪) بالاخره وروستي ټولګي ته رسیږي. باید پام ولرو چې په دغه رقم کې هغه شمیر زده کوونکي هم شاملیږي چې ټولګی ئې بیا ځلی لوستلی او بالاخره وروستي ټولګي ته رسیږي. په لمړنیو ښوونځیو کې د حضور د خالص نسبت په پرتله کیدو سره کولای شو دې پایلې ته ورسیږو چې د لمړني ښوونځي دعمر ډیری ماشومان چې په لمړني ښوونځي کې شاملیږي ښائي د لمړني ښوونځي تر وروستي ټولګي پوري په ښوونځي کې پاتې شي. د لیدنې وړ توپیر د پاتې کیدلو په میزان کې د هلکانو او نجونو یا د کلیوالي ساحو( ۸۵٪ ) او ښاري ساحو( ۸۳٪ ) ترمنځ شتون نلري. که څه هم ځني توپیرونه د هغو ماشومانو ترمنځ چې میندو ئې هیڅ زده کړه نده کړی (۸۵٪) د هغو ماشومانو په پرتله چې میندی ئې د لمړنیو تعلیماتو( ۹۰سلنه ) یا ثانوي تعلیماتو( ۹۰ سلنه ) درلودونکي دي، وجود لري.

ځني توپیرونه د زونونو ترمنځ موندل شویدي. د مرکزي لوړو سیمو زون ( ۷۸سلنه ) او لویدیځ زون ( ۷۸سلنه ) د پاتې کیدلو ډیر ټیټ میزان لري. په داسې حال کې چې ختیځ زون ( ۸۹ سلنه ) د پاتې کیدلو ډیر لوړ میزان لري.

د لمړني ښوونځي د بشپړتیا کچه او ثانوي ښوونځي ته د لیږد میزان په ۱۰.۷ جدول کې ښودل شوي دی. د لمړني ښوونځي د بشپړتیا میزان عبارت دی له د زده کوونکو ټولیز میزان، د عمر په پام کې نیولو پرته چې د لمړني ښوونځي وروستي ټولګي ته د لمړی ځل لپاره د اخلیږي، د لمړني ښوونځي څخه د روان تعلیمي کال په پیل کې ( یا د عمر سره نیږدې ) د فارغیدنې عمر لرونکو ماشومانو پر شمیر. په دې راپور کې ۱۳ کالنۍ د فارغیدنې د عمر په توګه په افغانستان کې د استفادې وړ ګرځیدلی دی.

## ۱۰.۷جدول: د لمړني ښوونځي بشپړتیا او ثانوي ښوونځي ته تلل

| د لمړني ښوونځي د بشپړتیا میزان او ثانوي ښوونځي ته تلل ۱۳۹۰-۱۳۸۹ | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | د لمړني ښوونځي د بشپړتیا میزان [۱] | د لمړني ښوونځي د بشپړتیا دعمر ماشومانو شمیر | ثانوي ښوونځي ته تلل | د هغو ماشومانو شمیر چي تیرکال د لمړني ښوونځي په وروستي ټولګي کي وو. |
| **جنس** | | | | |
| نارینه | 40 | 1,367 | 92.6 | 1,011 |
| ښځینه | 20.8 | 1,298 | 93.5 | 516 |
| **زون** | | | | |
| مرکزي | 45.7 | 436 | 96.8 | 323 |
| مرکزي لوړي سیمي | 43.8 | 81 | 93.8 | 72 |
| ختیځ | 40.2 | 264 | 87.5 | 160 |
| شمال | 40.8 | 386 | 93.9 | 250 |
| شمال ختیځ | 21 | 486 | 93 | 241 |
| سهیل | 17 | 424 | 97.5 | 94 |
| سهیل ختیځ | 27.7 | 232 | 93.2 | 196 |
| لویدیځ | 22.7 | 356 | 86.7 | 190 |
| **د استوګنی خای** | | | | |
| ښاري | 42.1 | 513 | 95.3 | 412 |
| کلیوالي | 28 | 2,153 | 92 | 1,115 |
| **د زده کړي درجه** | | | | |
| نا لوستی | 28.9 | 2,446 | 93.2 | 1,179 |
| لمړنی | 44.1 | 100 | 91.7 | 73 |
| ثانوي او ترهغي پورته | 56.8 | 117 | 98.9 | 98 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | | | |
| ډیر بي وزلي | 21.1 | 526 | 93.2 | 212 |
| دویم | 25.9 | 521 | 94.2 | 230 |
| منځنی | 26.2 | 527 | 92.6 | 243 |
| خلورم | 37.8 | 498 | 90.4 | 355 |
| ډیر شتمن | 41.4 | 593 | 94.2 | 487 |
| **ټول** | 30.7 | 2,665 | 92.9 | 1,527 |

[۱] د څو شاخصیزه سروی ۷.۷ شاخص، د څو شاخصیزه سروی ۷.۸ شاخص

ځرنګه چې په ۱۰.۷ جدول کې ښودل شوي دي، د سروې په وخت کې د لمړني ښوونځي د بشپړتیا میزان۳۱ سلنه وه. د لمړني ښوونځي د بشپړتیا میزان د نجونو لپاره ( ۲۱٪ ) نیږدې دوه ځلې لدې کچې څخه د هلکانو لپاره (۴۰ سلنه ) ټیټ دی. جدول د کلیوالي ساحو د لمړني ښوونځي د بشپړتیا په میزان کې (۲۸٪) د ښاري ساحو په پرتله (۴۲٪) د پام وړ توپیر ته اشاره کوي. ټکان ورکوونکی توپیرونه په دې کچو کې د زونونو ترمنځ لیدل شوي دي. د لمړني ښوونځي د بشپړتیا میزان په سهیلي زو ن کې ( ۱۷ په سلو کې ) ډیره ټیټه کچه ده، په داسې حال کې چې ډیره لوړه کچه په مرکزي زون کې ( ۴۶ په سلو کې) موندل شوي ده. هغه ماشومان چې په ډیرو بېوزلو کورنیو کې ژوند کوي ( ۲۱٪ ) نظر خپلو سیالانوته چې په ډیرو شتمنو کورنیو کې ژوند کوي ( ۴۱٪ ) تر دوه ځلې زیات ښائي خپلې لمړنی زده کړه بشپړې نکړي. د مور د زده کړې درجه همدا راز تر سترګو کیږي چې په دې شاخص اغیزه وغورځوي. یوازې په سلو کې ۲۹ دیارلس کلونو ماشومانو چې میندو ئې هیڅ زده نده کړي په سلو کې د ۵۷ هغو ماشومانو په پرتله چې میندو ئې ثانوي او ترهغې لوړې زده کړې درلودې، لمړنۍ زده کړې بشپړې کړي وې او د سروې په وخت کې ئې د ثانوي ښوونځي په لمړی ټولګي کې حضور درلود. د پام وړ توپیر ثانوي ښوونځي ته د تلو په میزان کې د نجونو( ۹۴٪ ) او هلکانو (۹۳٪ ) ترمنځ موندل شوي ندي.

## ۱۰.۸جدول: په ښوونه او روزنه کې د جنسیت تساوي

**نسبت، په لمړنیو او ثانوي ښوونځیو کې د نجونو او هلکانو د حضور تعدیل شوی نسبت، افغانستان۱۳۹۰-۱۳۸۹**

| | په لمړني ښوونځي کې د نجونو د حضور خالص تعدیل شوی نسبت | په لمړني ښوونځي کې د هلکانو د حضور خالص تعدیل شوی نسبت | د لمړني ښوونځي لپاره د جنسیت د تساوي شاخص د حضور خالص نسبت ( تعدیل شوی )[1] | په لمړني ښوونځي کې د نجونو د حضور خالص تعدیل شوی نسبت | په ثانوي ښوونځیو کې د هلکانو د حضور خالص تعدیل شوی نسبت | د ثانوي ښوونځیو لپاره د جنسیت تساوي شاخص، د حضور خالص تعدیل شوی نسبت |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **زون** | | | | | | |
| مرکزي | 67.4 | 87.6 | 0.77 | 36 | 65.8 | 0.55 |
| مرکزي لوړې سیمې | 71.8 | 83.1 | 0.86 | 33.8 | 54.1 | 0.62 |
| ختیځ | 41.8 | 67.2 | 0.62 | 13 | 49.5 | 0.26 |
| شمال | 56.8 | 65 | 0.88 | 27 | 42.9 | 0.63 |
| شمال ختیځ | 51 | 65.5 | 0.78 | 23.7 | 40.4 | 0.59 |
| سهیل | 13.5 | 28.6 | 0.47 | 3 | 19 | 0.16 |
| سهیل ختیځ | 30.4 | 66.1 | 0.46 | 15.3 | 57.4 | 0.27 |
| لویدیځ | 50.8 | 60.2 | 0.84 | 18.5 | 29.7 | 0.62 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | |
| ښاري | 72.8 | 82.5 | 0.88 | 48.6 | 61.8 | 0.79 |
| کلیوالي | 40.6 | 58.9 | 0.69 | 14.5 | 38.5 | 0.38 |
| **د زده کړې درجه** | | | | | | |
| نا لوستی | 43.2 | 60.8 | 0.71 | 20.1 | 40.9 | 0.49 |
| لمړنی | 79.7 | 88.8 | 0.9 | 49.6 | 67.1 | 0.74 |
| ثانوي او تر هغې پورته | 90.6 | 93.7 | 0.97 | 79 | 83.5 | 0.95 |
| **د شتمنۍ شاخص کوانټیل** | | | | | | |
| ډیر بې وزلې | 30.1 | 48.3 | 0.62 | 5.5 | 24 | 0.23 |
| دویم | 37.5 | 55.2 | 0.68 | 10.9 | 32.6 | 0.33 |
| منځنی | 39.4 | 59.8 | 0.66 | 13.8 | 37.8 | 0.36 |
| څلورم | 52.5 | 69.5 | 0.76 | 22.6 | 50.9 | 0.44 |
| ډیر شتمن | 72.8 | 84.8 | 0.86 | 46.3 | 64.9 | 0.71 |
| **ټول** | 46.4 | 62.9 | 0.74 | 21.1 | 42.8 | 0.49 |

[1] د څو شاخصیزه سروې ۷.۹ شاخص، د زریزې د پرمختیا ئي موخو۳.۱ شاخص.۲ د څو شاخصیزه سروې ۷.۱۰شاخص، د زریزي پرمختیا ئي موخو۳.۱ شاخص

د نجونو نسبت پرهلکانو باندې چې په لمړنیو او ثانوي ښوونځیو کې حضور لري په ۱۰.۸جدول کې ښودل شوي دي. دغه نسبتونه د جنسیت د تساوي د شاخص په توګه پیژندل شوي دي. پام باید ولرو، هغه شاخصونه چې په دې ځای کې شامل شوي دي د حضور د خالصو نسبتونو څني لاس ته راغلي دي نظر ناخالصو نسبتونو ته [۲۰]

۱۰.۸جدول دا ښئي چې د لمړني ښوونځي لپاره د جنسیت د تساوي شاخص ۰.۷۴ وه او په لمړنیو ښوونځیو کې د ۷۴نجونو د ۱۰۰هلکانو په مقابل کې چې په لمړني ښوونځي کې حضور لري، د حضور د توپیرونو د رلودونکی دی. دغه شاخص د پام په وړ ډول په ثانوي کچه کې ۰.۴۹ ته کموالی مومي. بې علاقه ګي د نجونو لپاره په ځانګړي ډول په سهیلي زون کې ( ۰.۴۷ د لمړنیو زده کړو لپاره او ۰.۱۶ د ثانوي زده کړولپاه ) او همدارنګه د هغو ماشومانو ترمنځ چې په ډیرو بېوزلو کورنیو کې ژوند کوي ( ۰.۶۲ د لمړنیو زده کړو لپاره او ۰.۲۳ د ثانوي زده کړو لپاره ) او کلیوالي ساحو کې ( ۰.۶۹ د لمړنیو زده کړو لپاره او۰.۳۹ د ثانوي زده کړو لپاره)، برجسته کوي.

## په افغانستان کې په ښوونځی کی د ماشومانو تجربه

افغانستان د تیرې لسیزې په موده کې د ښووني او روزني د سکتور په بیا رغاونه کې دوامداره پرمختګ درلودلی دی. ډیری زده کوونکي چې لمړنی ښوونځی پیل کوي هغه بشپړوي. ننګونه په لمړني ښوونځي کې د حضور د کچې په سلو کې د ۵۵ څخه زیاتې کچې ته په زیاتوالی او د لمړني ښوونځي د فارغانو د ډیر لوړنسبت تضمین، د مخ پر وړاندې د ثانوي زده کړو په پیل او بشپړتیا کې نغښتی دی. په ځانګړي ډول د لمړني ښوونځي وروسته په ښوونځي کې د نجونو په حضور کې ګړندی کموالی شتون لري. د افغانستان لاس ته راوړني د زریزې په ټولو پرمختیائي موخو کې په بشري پانګه پورې تړلی دی چې وکولای شي په پرمختیائي موخو برلاسه شي. لدې کبله باید چې ښوونه او روزنه په ښوونه او روزنه کې د جنسیت د تساوي په ګډون د پام وړ لمړیتوب واوسي.

وروستنی نسبت د جنسیت د تساوي یوه اشتباه آمیزه توضیح وړاندې کوي څکه چې په زیاتره حالاتو کې په عمر برابر ماشومان چې په لمړنیو زده کړو کې حضور لري هلکان دي[۲۰].



# 11

# د ماشومانو څخه ملاتړ

## د زیږیدني ثبت

د ماشومانو د حقونو په هکله نړیوال کانوانسیون دا بیانوی چې هرماشوم د یوه نوم د لرلو، ملیت او له هویت څخه ئي د محرومیدو د ملاتړحق لري.     د زیږیدني ثبت د ماشومانو لپاره د دي حقونو د تامین اساسي وسیله ده. " د ماشومانو لپاره مناسبه نړی " د هغو سیستمونو د پرمختیا موخه لري چې     د هرماشوم د زیږیدني ثبت د زیږیدلو په مهال او یاله زیږیدني وروسته همداسي تامین کړي ۱ د نوم او ملیت د حق درلودل د ملي قوانینو او د نړیوالو اړونده وسایلو سره په مطابقت کي په واقعیت بدل کړي. د افغانستان د څو شاخصیزه سروي د ماشومانو د ثبت په اړه شاخص د ۵ کلنی عمر لاندي     د هغو  ماشومانو سلنه ده چي زیږیدنه ئي ثبت شوي دی. جدول 11.1 ۱۱.۱ په افغانستان کي د ۵ کلنی عمرلاندي ماشومانو ثبت او د هغو ماشومانو سلنه چې میندی/څارونکي ئي پوهیږي چې زیږیدنه څه ډول ثبت شي، ښئي.

## ۱۱.۱جدول: د زیږیدني ثبت

| | د ۵ کلنی عمر لاندي ماشومانو سلنه د دي په بیلوالي چي زیږیدنه ئي ثبت شوي او د هغو ماشومانو سلنه چي زیږیدنه ئي ثبت شوي نده، مور/څارونکي ئي په دي پوهیږي چي څه ډول زیږیدنه ثبت کړي، افغانستان ۱۳۹۰-۳۸۹ | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د زیږ یدني د تصدیق کارت لري | د زیږیدني د تصدیق کارت نلري | ټول ثبت شوي | | | د هغوماشومانو سلنه چې مور/څارونکي ئي پوهیږي چې زیږیدنه څه ډول ثبت کړي | د زیږیدني د ثبت پرته د ماشومانو شمیر | |
| **جنس** | | | | | | | | |
| نارینه | 9.9 | 25.5 | 2.9 | 38.3 | 7,653 | | | |
| ښځینه | 9.6 | 24.2 | 2.7 | 36.5 | 7,218 | | 5.3 | 4,580 |
| **زون** | | | | | | | | |
| مرکزي | 21.8 | 31.5 | 6.9 | 5.6 | 4,723 | | 5.6 | 887 |
| مرکزي لوړی سیمي | 9.7 | 20.3 | 0.9 | 30.9 | 517 | | 2.1 | 357 |
| ختیځ | 9.6 | 44.8 | 3.1 | 57.6 | 1,667 | | 12.3 | 707 |
| شمال | 10 | 13.6 | 4.2 | 27.8 | 2,087 | | 3.2 | 1,506 |
| شمال ختیځ | 13.3 | 26.3 | 1.6 | 41.2 | 2,464 | | 3.5 | 1,450 |
| سهیل | 1.4 | 29.5 | 0.5 | 31.5 | 1,774 | | 0.6 | 1,215 |
| سهیل لویدیځ | 1.6 | 17 | 0.3 | 18.9 | 2,308 | | 10.4 | 1,872 |
| لوید یځ | 8.5 | 16.6 | 3.2 | 28.3 | 1,825 | | 4.8 | 1,308 |
| **د استوګنی ځای** | | | | | | | | |
| ښاري | 19.7 | 33.9 | 6.4 | 60 | 2,398 | | 4.2 | 959 |
| کلیوالي | 7.9 | 23.2 | 2.1 | 33.1 | 12,47 | | 5.6 | 8,344 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | 4 | | |
| **عمر** | | | | | | | |
| 11-0 میاشتي | 15.5 | 20.5 | 2.8 | 38.8 | 2,244 | 5 | 1,373 |
| 23-12 میاشتي | 13.4 | 25.5 | 3.3 | 42.2 | 2,497 | 5.6 | 1,443 |
| 35-24 میاشتي | 9.8 | 24.7 | 2.6 | 37.1 | 3,220 | 5.3 | 2,027 |
| 47-36 میاشتي | 7.2 | 26.4 | 2.6 | 36.2 | 3,438 | 6.1 | 2,192 |
| 59-48 میاشتي | 5.9 | 26 | 2.7 | 34.7 | 3,474 | 5.1 | 2,268 |
| نا لوستی | 8.6 | 24.4 | 2.5 | 35.5 | 13,532 | 5.2 | 8,727 |
| لمړنی | 16.9 | 26.7 | 4.5 | 48.1 | 698 | 8.1 | 362 |
| ثانوي او ترهغي لوړي | 26.8 | 33 | 7.2 | 66.9 | 634 | 11.7 | 210 |
| ډیر بې وزلي | 6.5 | 22.4 | 2.5 | 31.4 | 3,101 | 6.6 | 2,128 |
| دویم | 8.1 | 23.8 | 1.7 | 33.6 | 3,190 | 4.4 | 2,119 |
| منځنی | 7 | 21.2 | 1.9 | 30.1 | 3,015 | 5.4 | 2,108 |
| څلورم | 9.8 | 25.3 | 2.3 | 37.4 | 2,983 | 5.4 | 1,867 |
| ډیر شتمن | 19 | 33.1 | 6 | 58.1 | 2,583 | 5.3 | 1,081 |
| **ټول** | 9.8 | 24.9 | 2.8 | 37.4 | 14,872 | 5.5 | 9,303 |

[١] **د څو شاخصيزه سروي**
۸.۱ سروي

د پام وړ توپير د زيږيدنې په ثبت کې د هلکانو( ۳۸ سلنه ) او نجونو( ۳۷ سلنه ) ترمنځ د ۵ کلنی د عمر په ماشومانو کې چې په افغانستان کې ثبت شوي دي ( ۱.۱۱جدول) وجود نلري. که څه هم د پام وړ توپيرونه د ماشوم د عمر، د مور د زده کړې درجې او د کورنی د اقتصادي او ټولنيز حالت له پلوه ليدل شوي دي.
۴ کلن ماشومان ( ۳۵ سلنه ) د زيږيدنې د ثبت ډيره ټيټه کچه لري، په داسې حال کې چې يو کلن ماشومان د زيږدنې د ثبت ډيره لوړه کچه لري. شاوخوا ۶۷ سلنه د هغو ماشومانو چې ميندو ئې ثانوي او ترهغې لوړې زده کړې درلودلې، د خپل ماشوم زيږيدنه ئې ثبت کړې ده، نيږدې دوه ځلې د هغو چې زده کړه ئې ندي کړې، کوم ځای کې چې يوازې په سلو کې ۳۶ زيږيدنې ثبت شوي وي. هغه ماشومان چې په کليوالي ساحو کې ژوند کوي ( ۳۳سلنه ) نسبت د ښاري ساحو خپلو سيالانو ته ( ۶۰ سلنه ) شاوخوا دوه ځلې د دې احتمال لري چې زيږيدنه ئې کمه ثبت شي، همدارنګه د ميندو/ څارونکو په سلنه کی چې پوهيږی څه ډول زيږيدنه ثبت کړي سيمه ايز توپيرونه شتون لري. د بيلګې په ډول ۱۲ سلنه ميندې/ څارونکي په ختيځ زون کې پوهيږي چې څه ډول زيږيدنه ثبت کړي، په داسې حال کې چې دغه رقم په سهيلي زون کې په سلو کې له يوه څخه کم دی. د ميندو او څارونکو له ډلی څخه چې زده کړه ئې ندی کړې په سلو کې ۵ په دې پوهيږي چې څه ډول تولد ثبت کړي. په مقابل کې په سلو کې ۱۲ ميندې/څارونکې د ثانوي او ترهغې لوړو زده کړو لرونکې پوهيږي چې څه ډول زيږيدنه ثبت کړي. د هغو ماشومانو چې په ډيرو بېوزلو کورنيو کې ژوند کوي ( ۳۱ سلنه ) نظر خپلو سيالانو ته په ډيرو شتمنو کورنيو کې ( ۵۸ سلنه ) د پام په وړ ډول ښائي زيږيدنه ئې ډيره لږه ثبت شي.

**د ماشومانو کار**

د ماشوم د حقونو د کانوانسيون ۳۲مه ماده اعلاموي چې " دولتونه د ماشوم حق د اقتصادي ګټې اخيستنې او د هر ډول کار اجرا په مقابل کی د درک پر اساس چې ښائي مضر دی يا د ماشوم ښوونه او روزنه اخلالوي، يا د ماشوم روغتيا يا د ماشوم فزيکي، رواني، معنوي او اخلاقي ودې ته زيان ورسوي، ملاتړ کوي."

د افغانستان په څو شاخصيزه سروې کې، د ماشومانو د کار د موضوع اړوند يو شمير پوښتنې يعني د ۵ تر۱۴ کالنی ماشومانو چې په کاري فعاليتونو کې بوخت دی، د پلټنې لاندې راولې. يو ماشوم هغه وخت په کار باندې بوخت ګڼل کيږي چې د سروې په وخت کې که چيری د سروې دمخه اونی کې ئې په لاندې چارو کې مشغوليت درلود:

- د 5۵ تر ۱۱کالنی يو ماشوم چې لږ تر لږه په اونی کې يوه ګړی په اقتصادي کارونو کې يا ۲۸ ګړی يا تر هغې زيات د کور په چارو کې مشغوليت ولري.
- د ۱۲ تر۱۴کالنی يو ماشوم چې لږ ترلږه په اونی کې ۱۴ ګړی په اقتصادي فعاليت يا ۲۸ ګړی يا تر هغې زيات د کور په چارو کې مشغوليت ولري.

دغه تعريف د کار د نړيوال سازمان د ماشومانو د کار پر تعريف باندې ولاړ دی. د " ماشومانو کار" اصطلاح زياتره د داسې کار په توګه تعريف کيږي چې ماشوم د ماشومتوب، پټ استعداد او وقار څخه ئې بې برخې کوي او د ماشوم فزيکي او فکري ودې ته زيانمن وي. په هغه کار باندې اطلاق کيږي چې د فزيکي او فکري، ټولنيز يا اخلاقي له پلوه خطرناک او د ماشومانو لپاره زيانمن دی او ښوونه او روزنه ئې ښوونځي ته د تلو د بې برخې کولو له لارې اخلال کړي، مجبور ئې کړي ښوونځي تر وخت دمخه پريږدي يا د دې مستلزم دی چې په ښوونځي کې حضور د يوه اوږده او درانده کار سره يوځای کړي.
هغه اټکلونه چې لاندې ور کړل شوي دي د ماشومانو د کار د لږ تر لږه حد خوريدنه ده. ځکه چې ځنې د ماشومانو ښائي په مضرو کاري فعاليتونو کې د هغو شمير ساعتونو لپاره کوم چې په پورتنيو ځانګړتياو کې ټاکل شوی دی کم مشغوليت ولري. ۱۱.۲ جدول د ماشومانو د کار پايلې د ماشومانو په واسطه د ترسره شوي کار د ډول په بيلوالي د ۵ تر ۱۱ کالنی ماشومانو په منځ کې ښئي. د هغو سلنه چې په کار کې مشغول دي د کارګر ماشومانو مجموع نه ورکوي، ځکه چې د دې امکان شته چې ماشومان د يوه ډول څخه په زياتو کارونو کې مشغوليت ولري.

## ۱۱.۲جدول: د ۵ تر ۱۱ کالنی ماشومانو کار

**د ماشومانو سلنه د عمر د ټولي له مخي په اقتصادي فعاليتونو او د کور په کارونو کې د تيري اونی په جريان کې د مشغوليت په بيلوالي او د ۵ تر ۱۱ کالنی ماشومانو سلنه چې د ماشومانو په کار کې مشغوليت درلوده، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹**

| | د ۵ تر ۱۱کالنی ماشومانو سلنه چې مشغول دي په: | | | | | | | د ۵ تر ۱۱ کالنی ماشومانو شمير |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اقتصادي فعاليتونه | | | اقتصادي فعاليت لږ تر لږه د يوې ګړۍ لپاره | د کور چاري د ۲۸ ګړيو څخه کمي | د کور چاري د ۲۸ ګړيو يا ترهغي زياتي | د ماشومانو کار | |
| | د کورنی د باندي ئي کار کړی | | د کورنی تشبث لپاره ئي کار کاوه | | | | | |
| | د معاش سره | بې له معاشه | | | | | | |
| **جنس** | | | | | | | | |
| نارينه | 1.7 | 1.6 | 27.3 | 28.4 | 30.1 | 0.4 | 28.5 | 11,954 |
| ښځينه | 0.6 | 1.3 | 23.2 | 23.8 | 38.7 | 1.2 | 24.5 | 10,745 |
| **زون** | | | | | | | | |
| مرکزي | 0.9 | 1.8 | 17.2 | 18.5 | 29.9 | 1.3 | 19.1 | 3,259 |
| مرکزي لوړي سيمي | 0.5 | 1.8 | 30.8 | 32.1 | 23.7 | 0.9 | 32.5 | 804 |
| ختيځ | 1 | 1.4 | 31.4 | 32.1 | 39.7 | 0.8 | 32.2 | 2,948 |
| شمال | 0.8 | 1.5 | 33 | 33.7 | 37.3 | 0.5 | 33.9 | 3,033 |
| شمال ختيځ | 0.9 | 0.9 | 31.1 | 31.6 | 46.5 | 0.5 | 32 | 3,344 |
| سهيل | 3.1 | 1.6 | 28.5 | 29.4 | 39.7 | 1.4 | 30.5 | 3,260 |
| سهيل ختيځ | 0.9 | 1.3 | 22.9 | 24 | 30.8 | 0.2 | 24.2 | 2,786 |
| لويديځ | 0.6 | 1.7 | 12.4 | 13.3 | 17.8 | 0.5 | 13.6 | 3,264 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | | | |
| ښاري | 1.3 | 2.4 | 13 | 14.7 | 32.2 | 0.9 | 15.3 | 3,761 |
| کليوالي | 1.1 | 1.3 | 27.8 | 28.5 | 34.5 | 0.7 | 28.9 | 18,937 |
| **په ښوونځي کی برخه اخيستل** | | | | | | | | |
| هــو | 1.2 | 2.2 | 35.3 | 36.4 | 45.7 | 0.8 | 36.8 | 8,238 |
| نـــه | 1.1 | 1.1 | 19.7 | 20.4 | 27.6 | 0.7 | 20.9 | 14,461 |
| **د زده کړي درجه** | | | | | | | | |
| نا لوستی | 1.2 | 1.4 | 26.1 | 27 | 34.3 | 0.8 | 27.4 | 21,068 |
| لمرنی | 0.9 | 1.8 | 19.4 | 20.4 | 33.1 | 0.3 | 20.6 | 826 |
| ثانوي او ترهغي پورته | 0.7 | 2 | 10.7 | 12 | 32.9 | 1.3 | 12.5 | 792 |
| **د شتمنی شاخص کوانتيل** | | | | | | | | |
| دير بي وزلي | 1.1 | 1.3 | 29.4 | 30.2 | 33.5 | 0.8 | 30.7 | 4,976 |
| دويم | 1.2 | 1.6 | 30 | 31.1 | 35.1 | 0.5 | 31.4 | 4,587 |
| منځنی | 1.2 | 1.1 | 29.5 | 29.9 | 37.1 | 0.7 | 30.3 | 4,632 |
| څلورم | 1.2 | 1.1 | 22.3 | 22.9 | 33.3 | 1 | 23.5 | 4,407 |
| دير شتمن | 1.1 | 2.3 | 13.7 | 15.2 | 31.5 | 0.7 | 15.5 | 4,096 |
| **ټول** | 1.1 | 1.5 | 25.3 | 26.2 | 34.2 | 0.8 | 26.6 | 22,699 |

[1] د څو شاخصيزه سروې ۸.۲ شاخص

په افغانستان کې، په سلو کې ۲۷ د ۵ تر ۱۱ کالنی ماشومانو د ماشومانو د کار په فعالیتونو کې مشغولیت درلوده، په داسې حال کې چې دا رقم د ۱۲ تر۱۴ کالنی ماشومانو لپاره په سلو کې ۲۲ ده (۱۱.۲ او ۱۱.۳ جدول). د ماشومانو د کار ټولیزه خوریدنه ( ۵ تر۱۴ کالنی ) ۲۵ سلنه دي. ۱۱.۲ جدول د ماشومانو د کار په ټولیزه کې توپیر د نجونو( ۲۳ سلنه ) او هلکانو( ۲۸ سلنه ) ترمنځ ښئي. د پام وړ عمده توپیرونه د استوګنې د ځای، د مور د زده کړې درجې، او د کورنیو د اقتصادي او ټولنیز حالت او زونونو ترمنځ لیدل شوی دی. کلیوالي ماشومان ( ۲۸سلنه ) نیږدې دوه ځلې نظر خپلو ښاري سیالانو ته (۱۵سلنه) د ماشومانو په کار کې مشغو لیت لري. هغه ماشومان چې د مرکزي لوړو سیمو په زون کې ژوند کو ي ( ۳۳سلنه ) نظرخپلو سیالانو ته چې په لویدیځ زون کې ژوند کوي ( ۱۳سلنه ) زیاتره د ماشومانو په کار کې مشغولیت لري. هغه ماشومان چې میندو ئې زده کړه نده کړي ( ۲۶سلنه ) نظر هغو ته چې میندو ئې ثانوي او یا تر هغې لوړې زده کړې درلودې ( ۱۳سلنه ) تر دوه ځلې زیات ښائي د ماشومانو په کار کې مشغولیت ولري. هغه ماشومان چې په ډیرو بېوزلو کورنیو کې ژوند کوي ( ۳۰سلنه ) نسبت هغو ماشومانو ته چې په ډیرو شتمنو کورنیو کې ژوند کوي( ۱۵سلنه ) احتمال لری تر دوه ځلې زیات د ماشومانو په کار کې مشغولیت ولري

## جدول ۱۱.۳: د ۱۲ تر ۱۴ کالنی ماشومانو کار

**۵ تر۱۴ کالنی ماشومانو سلنه چې د ماشومانو په کارکې مشغولیت لري او ښوونځي ته درومي، او د ۵ تر۱۴کالنی ماشومانو سلنه چې ښوونځي ته درومي او د ماشومانو په کار کې مشغولیت لري، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹**

| | د هغو ماشومانو سلنه چې په کار کې مشغولیت لري | د هغو ماشومانو سلنه چې ښوونځي ته درومي | د ۱۴ تر۱۵کالنی ماشومانو شمیر | د کارگر ماشومانو سلنه چې ښوونځي ته درومي | د ۱۴-۵کالنی ماشومانو شمیر چې د ماشومانو په کار کې مشغولیت لري | د هغو ماشومانو شمیر چې ښوونځي ته درومي او د ماشومانو په کار کې مشغولیت لري | د ۵ تر ۱۴ کالنی ماشومانو شمیر چې ښوونځي ته درومي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **جنس** | | | | | | | |
| نارینه | 27.7 | 48 | 16,428 | 57.8 | 4,551 | 33.4 | 7,878 |
| ښځینه | 22.7 | 34.8 | 15,166 | 41.7 | 3,436 | 27.2 | 5,274 |
| **زون** | | | | | | | |
| مرکزي | 20.1 | 59.1 | 4,655 | 71.1 | 934 | 24.1 | 2,750 |
| مرکزي لوړې سیمې | 33.2 | 57.3 | 1,107 | 75 | 368 | 43.5 | 635 |
| ختیځ | 28.3 | 41.9 | 4,008 | 50.8 | 1,133 | 34.2 | 1,681 |
| شمال | 30.1 | 46.8 | 4,373 | 54.6 | 1,315 | 35 | 2,047 |
| شمال ختیځ | 29.6 | 44.1 | 4,693 | 51.6 | 1,388 | 34.6 | 2,069 |
| سهیل | 29.1 | 17.2 | 4,677 | 21.9 | 1,363 | 37.1 | 805 |
| سهیل ختیځ | 24.6 | 38.6 | 3,620 | 57.4 | 890 | 36.6 | 1,397 |
| لویدیځ | 13.4 | 39.7 | 4,461 | 51 | 597 | 17.2 | 1,769 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | | |
| ښاري | 14.6 | 60 | 5,404 | 68.9 | 787 | 16.7 | 3,243 |
| کلیوالي | 27.5 | 37.8 | 26,190 | 48.9 | 7,200 | 35.5 | 9,909 |
| **عمر** | | | | | | | |
| 11-5 | 26.6 | 36.3 | 22,699 | 50.1 | 6,048 | 36.8 | 8,238 |
| 14-12 | 21.8 | 55.2 | 8,895 | 53.3 | 1,939 | 21 | 4,914 |
| **د زده کړې درجه** | | | | | | | |
| نا لوستی | 26 | 39.6 | 29,296 | 49.4 | 7,614 | 32.5 | 11,588 |
| لمرنی | 20 | 63.3 | 1,138 | 75.6 | 228 | 23.9 | 721 |
| ثانوي او ترهغې پورته | 12.7 | 73.9 | 1,142 | 88.4 | 145 | 15.1 | 843 |
| **د شتمنې شاخص کوانتیل** | | | | | | | |
| ډیر بې وزلي | 30 | 30.1 | 6,755 | 37.9 | 2,024 | 37.7 | 2,032 |
| دویم | 29.8 | 34.9 | 6,276 | 47.7 | 1,873 | 40.8 | 2,189 |
| منځنی | 27.9 | 37.9 | 6,397 | 49.5 | 1,786 | 36.5 | 2,426 |
| څلورم | 22.7 | 46 | 6,208 | 61.9 | 1,409 | 30.6 | 2,855 |
| ډیرشتمن | 15 | 61.3 | 5,958 | 72.2 | 895 | 17.7 | 3,651 |
| **ټول** | 25.3 | 41.6 | 31,593 | 50.9 | 7,987 | 30.9 | 13,152 |

[۱] د ځو شاخصیزه سروې ۸.۳ شاخص،۲ د ځو شاخصیزه سروې ۸.۴ شاخص

## جدول ۱۱.۴: د ماشومانو کار او په ښوونځي کې حضور

**د هغو ماشومانو سلنه چې په تیره اونۍ کې ئې په اقتصادي او د کور په چارو کې مشغولیت درلوده د ۱۲تر۱۴کلنۍ سني ګروپ په بیلوالي او د ۵ تر۱۴کالنی ماشومانو سلنه چې د ماشومانو په کار کې ئې مشغولیت درلوده، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹**

| | د ۱۲ تر۱۴کالنی ماشومانو سلنه چې مشغول وو په : | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اقتصادي فعالیت | | | | | | | | | | |
| | د کورنۍ د باندې ئې کار کړی | | | | | | | | | | |
| | له معاش سره | بې له معاشه | د کورنۍ تشبث لپاره ئې کار کاوه | اقتصادي فعالیت د ۱۴ ګړیو کم | اقتصادي فعالیت د ۱۴ ګړیو لپاره او یا ترهغې زیات | د کور چارې تر۲۸ ګړیو کمې | د کور چارې تر۲۸ ګړیو یا ترهغې زیات | د ماشومانو کار | د ۱۲ تر ۱۴ کالنۍ ماشومانو شمیر | د ماشومانو ټول کار[1] | د ۵ تر۱۴ کالنۍ ماشومانو شمیر |
| **جنس** | | | | | | | | | | | |
| نارینه | 10 | 3.8 | 54.5 | 32.9 | 25 | 54.2 | 1.1 | 25.5 | 4,474 | 27.7 | 16,428 |
| ښځینه | 1.3 | 2.3 | 40.8 | 28.8 | 13.1 | 74.3 | 6.2 | 18.1 | 4,421 | 22.7 | 15,166 |
| **زون** | | | | | | | | | | | |
| مرکزي | 3.8 | 3 | 35.6 | 21.3 | 17.4 | 58.3 | 6.4 | 22.3 | 1,396 | 20.1 | 4,655 |
| مرکزي لوړې سیمې | 2.4 | 2.2 | 67.2 | 33.6 | 34.4 | 52.4 | 2.2 | 35.3 | 303 | 33.2 | 1,107 |
| ختیځ | 3.9 | 2.8 | 55.9 | 41.6 | 16 | 75.9 | 3.2 | 17.2 | 1,059 | 28.3 | 4,008 |
| شمال | 5.3 | 3.1 | 60.6 | 41.6 | 20.7 | 70.3 | 0.8 | 21.3 | 1,340 | 30.1 | 4,373 |
| شمال ختیځ | 4.9 | 4.3 | 54.2 | 35.6 | 21.4 | 74.8 | 3.3 | 23.7 | 1,349 | 29.6 | 4,693 |
| سهیل | 9.3 | 2.6 | 44.9 | 26.2 | 20.9 | 60.2 | 5.6 | 26 | 1,417 | 29.1 | 4,677 |
| سهیل ختیځ | 12.3 | 3.2 | 53.4 | 30.9 | 25.3 | 67.9 | 1.5 | 25.8 | 834 | 24.6 | 3,620 |
| لویدیځ | 2.8 | 2.3 | 27.2 | 19.8 | 9 | 47 | 3.9 | 12.7 | 1,197 | 13.4 | 4,461 |
| **د استوګنې ځای** | | | | | | | | | | | |
| ښاري | 4.4 | 4.7 | 23.3 | 18.6 | 9.2 | 60.5 | 4.5 | 12.9 | 1,642 | 14.6 | 5,404 |
| کلیوالي | 6 | 2.6 | 53.2 | 33.6 | 21.3 | 65 | 3.4 | 23.8 | 7,252 | 27.5 | 26,190 |
| **په ښوونځي کې برخه اخیستل** | | | | | | | | | | | |
| هو | 4.6 | 3.4 | 48.3 | 31.3 | 18.9 | 63.6 | 3.1 | 21 | 4,914 | 30.9 | 13,152 |
| نه | 7 | 2.5 | 47 | 30.3 | 19.4 | 64.9 | 4.3 | 22.8 | 3,981 | 21.3 | 18,441 |
| **د زده کړې درجه** | | | | | | | | | | | |
| نا لوستی | 5.8 | 2.9 | 49.1 | 31.6 | 19.7 | 64.2 | 3.5 | 22.3 | 8,228 | 26 | 29,296 |
| لمړنی | 5.2 | 3.1 | 38.2 | 26 | 15.1 | 64.1 | 4.7 | 18.4 | 312 | 20 | 1,138 |
| ثانوي او ترهغې پورته | 2.9 | 4.7 | 23.5 | 18.7 | 8.4 | 63.7 | 5.6 | 13 | 350 | 12.7 | 1,142 |
| **د شتمنی شاخص کوانتیل** | | | | | | | | | | | |
| ډیر بې وزلي | 5.6 | 2.8 | 56.5 | 33.3 | 24.5 | 60.6 | 4.3 | 27.8 | 1,779 | 30 | 6,755 |
| دویم | 6.4 | 3.1 | 58.5 | 36.4 | 24 | 66.5 | 2.6 | 25.5 | 1,688 | 29.8 | 6,276 |
| منځنی | 6.7 | 2.8 | 52.1 | 35.1 | 19.3 | 67.7 | 2.7 | 21.6 | 1,765 | 27.9 | 6,397 |
| څلورم | 5.7 | 2.5 | 47.2 | 30.8 | 18.1 | 65.8 | 4.3 | 20.8 | 1,800 | 22.7 | 6,208 |
| ډیر شتمن | 4.2 | 3.8 | 25.8 | 19.4 | 10.2 | 60.6 | 4.2 | 13.9 | 1,862 | 15 | 5,958 |
| **ټول** | 5.7 | 3 | 47.7 | 30.8 | 19.1 | 64.2 | 3.6 | 21.8 | 8,895 | 25.3 | 31,593 |

۱۱.۴جدول د ۵ تر۱۴کالنی ماشومانو سلنه ښئی چې په کار بوخت دی او ښوونځي ته درومي او د۵ تر۱۴کالنی ماشومانو سلنه چې ښوونځي ته درومي او په کار مشغول دي. د ۴۲ سلني هغو ماشومانو له ډلي چې ښوونځي ته ځي د هغوی ترنیمائي زیات ( ۵۱ سلنه ) همدا راز د کور په فعالیتونو کي مشغولیت لري. د ۲۵سلني هغو ماشومانو له ډلي چې د ماشومانو په کار کي مشغولیت لري تر یوه ثلث څخه کم ئی همدا راز ښوونځي ته درومي ( ۳۱ سلنه ). د هغو ماشومانو له ډلي چې په کار کي مشغولیت لري او ښوونځي ته درومی د جنسیت، استوګني د ځای، سیمي، د مور د زده کړي د درجي او د کورنی د اقتصادي او ټولنیز حالت له پلوه د پام وړ توپیرونه شتون لري. ۱۱.۴جدول په سلو کي ۱۶ د نجونو چې ښوونځي ته تلونکي او د ماشومانو په کار کي بوختي دي ( ۴۲ سلنه ) او هلکانو ترمنځ چې ښوونځي ته تلونکي دي او د ماشومانو په کار کي مشغولیت لري(۵۸ سلنه ) د توپیر ښکارندوی دي. هغه ماشومان چې په کلیوالي ساحو کي ژوند کوي او د ماشومانو په کار کي بوخت دي (۴۹ سلنه ) د هغو ماشومانو په پرتله چې په ښاري ساحو کي ژوند کوي او په اقتصادي فعالیتونو کي برخه اخلي ( ۶۹سلنه ) ښائي لږ ښوونځي ته لاړ شي.

د هغو ماشومانو میزان چې د ماشومانو په کار کي مشغولیت لري او ښوونځي ته درومي د مرکزي لوړو سیمو په زون کي( ۷۵سلنه) نظرد سهیل زون ماشومانو ته (۲۲سلنه ) نیږدي دري ځلي زیات دی. هغه ماشومان چې د ماشومانو په کار کي بوخت دي او میندو ئي زده کړه ندی کړي( ۴۹سلنه) د خپلو سیالانو په پرتله چې میندی ئي ثانوي او ترهغي لوړې زده کړې لري ( ۸۸ سلنه ) لږ احتمال لري چې ښوونځي ته لاړ شي. هغه ماشومان چې د ماشومانو په کار کي ئی مشغولیت درلوده او په ډیرو بېوزلو کورنیو کي ژوند کوي ( ۳۸ سلنه ) د هغو ماشومانو په پرتله چې په ډیرو شتمنو کورنیو کي ژوند کوي، لږ احتمال لري چې ښوونځي ته لاړشي.

### د ماشومانو تادیب

لکه څرنګه چې د " ماشومانو لپاره مناسبه نړۍ " په اعلامیه کي اعلام شوي ده « ماشومان باید د تاوتریخوالي د هرډول اعمالو په مقابل کي ملاتړ وشي»، سربیره پردې د زریزي اعلامیه له ماشومانو څخه د ناوړه استفادې، ګټي اخیستني او تاوتریخوالي په مقابل کي د ملاتړ غوښتنه کوي.

د افغانستان په ځو شاخصیزه سروې کي د میندو/څارونکو څني یو لړ پوښتني د هغو طریقو په هکله چې والدین تمایل لري خپل ماشومان هغه مهال چې ناسمه رویه وکړي تادیب کړی، پوښتل شوی دی. پام باید ولرو چې د ماشومانو د تادیب د پوښتنلیک لپاره د کورنی د ۲ تر۱۴ کالنی یو ماشوم د ساحوي کار په جریان کي په اتفاقي ډول غوره شوي دي. د دې پوښتنو له جملي دوه شاخصونه چې د ماشومانو د تادیب د عرصو د توضیح لپاره د استفادې وړ ګرځید لی دی عبارت دی له : ۱) د ۲ تر۱۴کالنی ماشومانو شمیر چې روانی دښمنی د جزا په توګه یا نورې فزیکي کوچنی جزاوې یا فزیکي سختي جزاوې تجربه کوي. ۲ ) د ۲ تر۱۴ کالنی ماشومانو د والدینو/څارونکو شمیر چې باور لري د دې لپاره چې خپل ماشومان په مناسبه توګه تربیه او لوی کړي اړینه ده هغوی په فزیکي ډول مجازات کړي. ۱۱.۵جدول د۲ تر۱۴کالنی ماشومانو سلنه د ماشوم لپاره د تادیب د په کار وړل شوي طریقې له مخي ښئي.

## ۱۱.۵جدول: د ماشومانو تادیب

د ۲ تر۱۴کالنی ماشومانو سلنه د ماشومانو د تادیب د طریقې پراساس، افغانستان ۱۳۹۰-۱۳۸۹

| | د ۲تر۱۴کالنی ماشومانو سلنه چې تجربه کړيدي: | | | | | د ۲ تر ۱۴ کالنی ماشومانو شمیر | ځواب ورکوونکي باور لري چې اړینه ده ماشوم ته په فزیکي ډول جزا ورکړل شي | د ماشومانو د تادیب برخي ته ځواب ورکوونکي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | یوازې تادیب د تاوتریخوالي پرته | رواني دښمني | فزیکي جزا: هر ډول | فزیکي جزا: سخته | د تاوتریخوالي د تادیب هر ډول طریقه | | | |
| **جنس** | | | | | | | | |
| نارینه | 12 | 61.7 | 69.2 | 39.7 | 74.8 | 24,197 | 41.3 | 6,076 |
| ښځینه | 13.5 | 61.4 | 67.6 | 37 | 74.1 | 22,040 | 40.4 | 5,476 |
| **زون** | | | | | | | | |
| مرکزي | 17.9 | 59.7 | 67 | 34.5 | 75.6 | 7,247 | 36.9 | 1,818 |
